# افغانستان

# د ۲۰۱۴ کال کالنی راپور

# په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه



احسان الله مهجور/اسو شیتید پریس /2014 ©


**بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونوعالی**
**کمیشنرۍ دفتر**

**دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو**
**مرستندویه پلاوی**

**کابل افغانستان**

**فبروري ، ۲۰۱۵**

AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION




Source: UNAMA GIS January 2012

# افغانستان
# د ۲۰۱۴ کال کالنی راپور
# په وسه واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

**د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونوعالی**
**کمیشنری دفتر**

**دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو**
**مرستندویه پلاوی**

**کابل افغانستان**

**فبروري ، ۲۰۱۵**

**په لومړي مخ تصویر © ۲۰۱۴ /احسان الله مهجور / اسوشیتید پریس**

**د وژل شویو ملکیانو جسدونه د ۲۱۴ کال د نومبر د ۲۳ مې نېټې د پکتیکا ولایت د یحی خیلو ولسوالۍ کې د ځانمرګي برید دي ، چې ۱۳۸ ملکي وګړو ( ۵۳ مړه په شمول د ۲۱ ماشومانو او ۸۵ ټپیان په شمول د ۲۶ ماشومانو ) ته یې تلفات اړولي وو.**

**تصویر د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۲۴مه اخیستل شوی.**

**"په ۲۰۱۴ کال کې جګړې ملکي وګړي ډیر زیات اغیزمن کړي. هاوانونو ، ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو ، د ټوپکو ډزو او نورو چاودېدونکو توکو د انسان ژوند ویجاړ کړی ، د بدن اندامونه یې ترې اخیستي او په بې‌سارې کچه یې ژوند رنګ کړی. په افغانستان کې د ۲۰۱۴ کال په مهال د زرګونوماشومانو ، ښځو او سړیو مرګ ژوبله د ملکي وګړو په خوندي ساتنه کې  د ناکامۍ ښکاروندوي ده. ټولې ښکېلې خواوې دې هغه ارزښتونه چې دوي یې د دفاع ادعاء کوي او د ملکي وګړو خوندي ساتل دې خپل لومړیتوب وګرځوي."**

نیکولاس هیـــــسم  ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی  ، ډسمبر ۲۰۱۴ ، کابل

**" دغه کالنی راپور یوځل بیا د هغې نه منلو وړ بیې ښکارندوی دی چې جګړه یې په افغانستان کې پر ملکي وګړو تحمیلوي. د دغو جریانونواو پېښو مستند کول باید د " د جسد شمیر" و نه ګڼل شي ، بلکې د احتساب لپاره د اساسي ګام په توګه وي. د دې وخت دی چې دولتونه د ملکیانو د ساتنې په اړه  باید خپل مسوولیت درک کړي او دا چې د جنګي جرمونو او نورو سرغړونومرتکبېین په دې پوه وي چې هغوي به هغه څه چې ترسره کړي یې دي د عدالت منګولو ته وسپارل شي. "**

زید رعدالحسین ، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر ، جنوري ۲۰۱۵ ، ژنیو

**صلاحیت/واک**

د ۲۰۱۴ کال دغه کالنی راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه چمتوشوی دی چې د ۲۰۱۴ کال د جنوری د لومړی نیټې څخه د ډ سمبر تر- ۳۱ مې نیټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د هغه صلاحیت له مخې چمتو شوی دی چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ۲۱۴۵ /(۲۰۱۴)پریکړه لیک په اساس ورته ورکړ ل شوی څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوي د ساتنې په موخه هڅې همغږې کړي ، حساب ورکوونه تقویه کړي او د اساسي ازادیو او بشري حقونو ، چې د افغانستان اساسي قانون او د نړیوالو تړونونو ، چې افغانستان یې غړیتوب لري ،برخه ده ، په بشپړ ډول پلي کېدو کې مرسته وکړي ، په ځانګړي ډول د ښځو د ټولو بشري حقونو څخه د برخمن کیدلو په اړه هڅې وکړي.

د امنیت د شورا ۲۱۴۵ /(۲۰۱۴) پریکړه لیک ،په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعیت او په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند روانې څارنې او راپوروركونې ته اهمیت ورکوي .

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او بې پلوه ډول د داسې پېښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي ، د وسله والو ښکیلو اړخونو سره خبرې اترې ترڅو د دې پېښو څخه د اغیزمن شویو ملکي وګړو د ساتنې په اړه ، د ملاترکونکو فعالیتونو او نورو نوښتونو ترسره کول چې په نښتو کې ښکېلې خواوې د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون د احکامو رعایت کولو ته رابولي.

دا راپور د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر ( او ایچ سی ایچ ار) له خوا بیا کتل شوی او د دې دفتر په تخنیکي مرستو چمتو شوی دی.

# فهرست


**ميتودولوژي** i
**لنډيز** ۱
ښځې او ماشومان ۳
مخامخ ځمکنۍ نښتې په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و ٤
د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو له امله زيات ملکي تلفات ٦
د ځان وژونکو او ډله ييز بريدونو په پايله کې مخ پر ډيريدونکي ملکي تلفات ۸
د دولت پلوه ځواکونو وسله والو ډلو له خوا د بشري حقونو څخه سرغړونه ۸
**سپارښتنې** ۱۲
**۱. د نښتو په ساحو کې د بشري حقونو ساتنه** ۱٤
ښځې او وسله والې نښتې ۱٤
ښځې چې د وسله وال تاوتريخوالي له امله کونډې شوي: د تلفاتو اغيزې ۱۵
له جګړو څخه چاوديدونکي پاتې شوني ۱۹
د بشرپالنې د ماين پاکانو په ضد بريدونه ۲۲
د جګړو له امله د ملکي کسانو بې ځايه کيدنه ۲۳
د پولې د پورې غاړې نښتې ۲٤
**۲-په جګړه کې د ښکيلو خواوو ترمنځ ځمکنۍ نښتې: ملکي خلک د جګړو په منځ کې** ۲٦
له ځمکنيو نښتو څخه د راپيدا شويو ملکي تلفاتو منسوبونه ۲۹
دولت ضد عناصر: له ځمکنيو نښتو څخه ملکي تلفات ۳۰
افغان ملي امنيتي ځواکونه: له ځمکنيو نښتو څخه ملکي تلفات ۳۳
په ملکي ګڼ ميشتو سيمو کې د هاوان ګولۍ او راکټونه کارول ۳٦
**۳. دولت ضد عناصر او د ملکيانو ساتنه** ۳۸
ځانمرګي او ډله ييز بريدونه ٤۸
د قتل جنګي جرم: د ملکيانو هدفي وژنې ۵۲
د ديني شخصيتونو او عبادت ځايونو پر ضد تهديدونه او بريدونه ۵۵
موازي قضايي تشکيلات: اعدامونې ، د اندامونو پرې کول ، وهل او نورې جنايي کړنې ۵۷
د طالبانو له خوا په ختيځه سيمه کې د ملکيانو په کورونو اور اچوونکي بريدونه ٦۲
د طالبانو له خوا د هغو بريدونو د مسووليت منل چې په کې ملکيان اغيزمن کيږي ٦۵
د ملکي تلفاتو د مخنيوي او کمونکو تدبيرونو په اړه د طالبانو بيانونه ٦۹
د "ملکي شخص" او بشر پالنې د نړيوال قانون په اړه د طالبانو تعريف ۷۰
د ولت پلوه ځواکونو له خوا د را منځ ته شويو ادعا شويو ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو مياشتني بيانونه ۷۰
د ملکي تلفاتو په اړه د يوناما د عامه راپور ورکولو په وړاندې د طالبانو غبرګونونه ۷۱
**۴. دولت پلوه ځواکونه او د ملکي کسانو ساتنه** ۷٤
افغان سيمه ييز پوليس ۷۵
دولت پلوه وسله والې ډلې ۷۹

د دولت پلوه ځواکونه له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې مبارزه او د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو خنثی کول ۸۵
هوايي عمليات ۸۸
**۵. حقوقی چوکاټ** **۹۱**
د وسله والې شخړې د ښکیلو خواوو حقوقي مسوولیتونه ۹۱
**۶. اصطلاح ګانې** **۹٦**
لومړۍ ضمیمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بریدونه: د هدف د نمونې پر اساس تجزیه ۱۰۳
دوهیمه ضمیمه: د طالبانو له خوا د "جنګي جرمونو" د ادعاوو فهرست ۱۰۵

## میتودولوژي

یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلي په سیمه کې څیړې ؛ له مختلفوسرچینو سره سلا مشوره کوي او د معلوماتو بیلا بیل ډولونه راغونډوي چې د اعتبار او ښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. یوناما د هرې پیښې په څیړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي چې د امکان تر حده پورې له مختلفو منابعو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنترول کړي. په دې لړ کې د عیني شاهدانو او په مستقیم ډول د زیانمنو شویو وګړو- بیانونه ،نظامي برخه والو (د افغانستان د حکومت او نړیوال نظامي ځواکونو په ګډون) ځایي کلي/د ولسوالۍ او ولایت چارواکو ، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او هغه معلومات شامل دي چې په مستقیم ډول د ساحې له کتنې څخه او د پیښې له ځای څخه لاس ته راغلي اجناس/مدارک او شواهد او د هغوي فزیکي ازمایښت ، له روغتونونو او روغتیایي اسانتیاوو څخه کتنه ، ویډیوګانې او تصویرونه ، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصوونیت د څانګې او د دې سازمان د نورو ادارو راپورونه ، د دوهیم لاس سرچینو بیانونه ، د خبري رسنیو راپورونه او له نا دولتي موسسو او درهیم ګړي له خوا راټول شوي معلومات په کې شاملیږي.

ترهغه ځایه چې ممکن وي ، تحقیقات د قربانیانو یا د حادثې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځاي په پلټنو ولاړ وي. په ځینو وختونو کې ، د پېښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاس رسی محدود وي ، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي ، په داسې وختونو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې دامکان تر بریده د پراخه معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي اوداعتبار اوباور له مخې یې کره کړي.

کله چې یوناما د یوې پیښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي د هغې پېښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي مځکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږي څوارونۍ وخت نیسي. دا په دې معنی ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې نوي معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخستل کیږي . په کوم ځاي کې چې معلومات ښه څرګند نه وي تر څو چې معتبراو قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري نه کیږي او له دې څخه پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شامیلیږي.

د ځینو پېښو په راپور کې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابتیدلای او یا لانجه من ټکي وي ، په داسې قضیو کې یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګڼي چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګي یا ملکي کس دی .بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو پر بنیاد ارزول کیږي.که چېرې د یوه یا څو قربانیانو هویت څرګند نه وي ، د وژنې دغه ډول پیښې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په عمومي شمیر کې نه شاملیږي.

په وسله والو شخړوکې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د راپور ورکولو او تحلیل لپاره یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایي ډیټابیس پرانیست. ډیټابیس داسې طرح شوی دی چې د معلوماتو سیستماتیکه ، یوشان او اغیزمنه ټولونه او تحلیل اسانه کوي ؛ چې د جنس ، عمر ، مرتکب ، تاکتیک ، او نورو اړخونو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

یوناما تر ممکنه بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلې پیښې کره او مسؤول لوري په مشخصه توګه په ګوته کړي. د عملیاتو په ډګر کې د ستونزو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت ، او د لومړنیو سرچینو ناتواني چې په ډیرو

قضیو کې نه شي کولای د بیلا بیلو نظامي برخه والو/ دولت ضد وسله والو په منځ کې توپیر وکړي ، او کله چې هیڅ یوه خوا د یوې پیښې مسوولیت نه وي منلی ، یوناما د یوې خاصې پیښې مسوولیت یا خو دولت پلوه او یا دولت ضد عناصرو ته منسوبوي. یوناما ادعا نه کوي چې په دغه راپور کې شمیرې بشپړې دي ؛ د کار په چاپیریال کې د محدویت په نظر کې نیولو سره کیدای شي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پوره راپور نه وي ورکړ ی.


**لنډيز**

*دا د ماسپښين وروسته و چې ما په يو تعمير کې کار کوو. ميرمن مې راته غږ کړ او چيغې يې وهلې چې په منډه کورته راستون شه ځکه چې په چاودنه کې زموږ بچيان مړه شول.ما ضعف وکړ او د حرکت نه وم. نورو کاريګرو زما سره مرسته وکړه او کور ته يې يوړم. ميرمن مې راته وويل چې تول تپيان او مړي يې روغتونونو ته انتقال کړي. زه هغه نږدې روغتون ته ورغلم چرته چې مې خپل نهه کلن زوي په کټ کې پروت مړ وليد. ماته وويل شو چې زما بل زوي هم مړ دی. بيا مې خپله وړه لور وليده چې سخته ټپي شوې وه او بل زوي چې هغه هم سخت ټپی شوی و او په وينو کې رنګ و. په سبا ورځ مې لور مړه شوه. ای زما ربه ، دا داسې لوی غم و ، درې بچيان مې مړه شول. زما د بچيانو جرم څه وو؟ دوي د نور کله په شان د کور د باندې عادي لوبې کولې. ما ته وويل شول چې دا د ليرې کنترول شوی بم و چې اصلي هدف يې د افغان ملي اردو يو افسر و. طالبان ولې ملکي خلکو ، ښځو او ماشومانو ته پاملرنه نه کوي؟ طالبان کوم تهذيب او کوم قانون پسې روان دي؟ دا خو ډيره ساده ده : چې د ماشومانو او ملکي خلکو وژل په بشپړ ډول د اسلام په ضد عمل دی.*[1]

-- د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په ۲۱ مه د کابل ښار کې د ريموټ کنترول بم کې د درې وژل شويو او يو ټپي شوي ماشوم پلار ، چې په بم کې د ملي اردو کاروان په نښه شوی و. پنځه ملکيان مړه او دوه ټپی شوي وو.

د ۲۰۱۴ کال په مهال په افغانستان کې د وسله والې جګړې تاو تريخوالې شدت ملکي وګړي ډير زيات اغيزمن کړي چې د دې امله ملکي خلکو د مرګ ژوبلې کچه په بې ساري ډول لوړه شوې. د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) ۱۰،۵۴۸ملکي تلفات ثبت کړي ( ۳،۶۹۹ مړه او ۶۸۴۹ ټپيان)، چې دا په ملکي مړينه کې ۲۵ سلنه ، په ټپي شويو کې ۲۱ سلنه او په ټوله کې د ۲۰۱۳ کال پر تله ملکي تلفاتو کې ۲۲ سلنه ډير والی ښيی.[2] د ۲۰۰۹ کال راهيسې چې يوناما په منظم ډول د ملکي وګړو مرګ ژوبله ثبتوي د لومړي ځل د پاره د يوه کال په موده کې يوناما په ۲۰۱۴ کال کې تر ټولو زيات شمېر د ملکي وګړو مرګ او ژوبله ثبت کړې.

[1] د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په ۲۶ مه په کابل ښار کې د ريموټ کنترول بم په پايله کې د قربانيانو د پلار سره د يوناما مصاحبه.
[2] په ۲۰۱۳ کال کې ، يوناما ۸،۶۳۷ ملکي تلفات ثبت کړي ( ۲۹۶۹ مړه او ۵،۶۶۸ ټپي شوي)





د ۲۰۱۴ کال په مهال ملکي تلفاتو کې ۲۲ سلنه ډیروالی په ټول افغانستان کې په ځانګړي ډول د مخامخ ځمکنیو نښتو ( ښکېلتیاوو ) په پایله کې رامنځ ته شوی چې وسله واله ډلو په کې د ملکي خلکو د ګڼې ګوڼې په سیمو کېډیرې قوي چاودیدونکي وسلې لکه ، هاوانونه ، راکټ او لاسي بمونه کارولي چې د ملکي خلکو لپاره یې د ځان سره ویجاړونکي پایلې لرلي دي. په ۲۰۱۴ کال کې د مخامخ ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله د ۲۰۱۳ کال پر تله ۵۴ سلنه زیاته شوې چې دا په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل او د ښځو او ماشومانو ستر وژونکی دی.

یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۷۲ سلنه تلفات د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي[۳] ، ۱۴ سلنه تلفات یې دولت پلوه ځواکونو ( ۱۲ سلنه افغان امنیتي ځواکونو ته او ۲ سلنه نړیوالو نظامي ځواکونو) ته منسوب شوي[٤] او ۱۰ سلنه د

[۳] د دولت وسله والو مخالفینو څخه د یوناما په تعریف کې ټول هغه افراد او وسله والې ډلې شاملې دي چې چې په وسله والو نښتو کې ښکېل دي او یا د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو سره په وسله وال مخالفت کې واقع دي. د دولت په وسله والو مخالفینو کې ټول هغه شامليږي چې د طالبانو په نامه پيژندل کيږي او همدارنګه هغه افراد او نادولتي منظمې وسله والې ډلې چې په وسله والو نښتو کې په مستقیم ډول ښکېلې دي او ګڼ نومونه لري لکه حقاني شبکه ، حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي خوځښت ، د جهاد اسلامي اتحاد ، لشکر طیبه ، جیش محمد او د هغوه وسله والو ډلو په ګډون چې د جګړې د یو لوري په استازيتوب په مستقیم ډول په نښتو کې ښکیلې دي او سیاسي ، ایډیالوژیکي او اقتصادي موخې پر مخ بیايي چې په کې وسله والې جنايي ډلې په مستقیم ډول په دښمنانه ډکو فعالیتونو کې د جګړې د یو اړخ په استازيتوب ښکیلې دي . د لا زیاتو مالوماتو لپاره دډې راپور د تعریفونو برخه وګورئ. د یوناما څیړنې ښیې چې د ۲۰۰۹ کال راهیسې ، د دولت د وسله والو مخالفینو له خوا په ملکي مرګ ژوبله کې هر کال په داسې ډول زیاتوالی راغلی چې د نورو کالونوپه پرتله په ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې د وسله والو مخالفینو له خوا ډیر ملکي وګړي وژل شوي او ټپیان شوي دي. د افغانستان په کچه د ملکي مرګ ژوبلې ډیری شمیر یې په ګڼ میشته سیمو کې د بې توپیره چاودیدونکو توکو او ځانمرګو بریدونو او همدارنګه په قصدي ډول د ملکیانو په نښه کولو له امله رامنځته شوي ده.

[٤] د دولت پلوه ځواکونو اصطلاح په تعریف کې افغان ملي امنیتي ځواکونه او نور هغه ځواکونه او ډلې شاملې دي چې د یاغیانو ضد نظامي او نیمه نظامي عملیاتو کې ګډون لري او په مستقیم او یا غیرمستقیم ډول د افغانستان د دولت تر کنټرول لاندې دي. دغه ځواکونو کې لاندې ځواکونو شامل دي ، ولې په دوی پورې محدود نه دي: افغان ملي اردو ، ملي پولیس ، سرحدي پولیس ، ملي امنیت ریاست او افغان سیمه ایز پولیس چې د افغانستان د قانوني جوړښتونو تر سیورې لاندې کار کوي ، او همدارنګه دولت پلوه سیمه ایز دفاعي ځواکونه او وسله والې ډلې چې د

دولت ضد عناصرو اوافغان امنيتي ځواکونو ترمنځ مخامخ ځمکنيو نښتو ته[5] منسوب شوي چې دغه ملکي تلفات يوې ځانګړې ډلې ته منسوب کيدای نه شي.[6] يوناما د ټولو ملکي تلفاتو درې سلنه د جګړې نه پاتې شوې نامالومه چاودېدونکو توکو ته نسبت ورکړی[7] او پاتې يوه سلنه تلفات د پولې اخوا د پاکستان د لورې افغانستان کې ګوليو ويشتلو ته منسوب شوي دي.




### ښځې او ماشومان

د ۲۰۰۹ کال راپه دېخوا د کوم وخت نه چې يوناما په منظم ډول د ملکي وګړو مرګ ژوبله ثبتول پيل کړي ، د ۲۰۱۴ په مهال يوناما د جګړې پورې تړلي تاوتريخوالي له امله تر ټولو زيات شمېر د ښځو مرګ ژوبله ثبت کړې. ټولټال ۵۵۶ پېښې ثبت شوې چې د ۹۰۹ ښځو د تلفاتو ( ۲۹۸ مړې او ۶۱۱ ټپيانې شوې) لامل شوې چې دا د ۲۰۱۳ کال په نسبت ۲۱ سلنه ډېروالی ښيي.[8]

د دې لپاره چې په پراخه اندازه د جګړې له امله د افغان ښځو په ژوند په ټولنيز او اقتصادي ډول اغيز پوره په ګوته شي ، يوناما د افغانستان په ټولو سيمو کې ۶۰ هغه ښځو سره مصاحبه کړې چې د هغوې مېړونه ټول ملکيان وو او د

---

افغانستان په قوانينو کې يې ذکر نه دی شوی او د دولت د رسمي جوړښتونو تر سيوري لاندې کار نه کوي. په دې تعريف کې نړيوال نظامي ځواکونه او نور بهرني استخباراتي او امنيتي ځواکونه شامل دي.د لازياتو مالوماتو لپاره د تعريفونو برخه وګورئ.

[5] په ځمکنيو نښتو کې ځمکني عمليات ، د ډزو تبادله ، دفاعي بريدونه او د جګړې ښکيلو غاړو ترمنځ وسله والې نښتې شاملې دي چې په هغوی کې هغه بريدونه او عمليات راځي چې په کې سپکې وسلې ، درنې وسلې او ساحوي تسليحاتي سيستمونه لکه هاوانونه او راکټونه وارول کيږي.

[6] يوناما د درې سرچينو له خوا د تاييد پروسې څخه ګټه اخلي ترڅو د ځمکنيو نښتو په لړ کې د هرې ملکي مرګ او ژوبلې په پيښه کې دا تاييد او تصديق کړي چې کومه غاړه په کې ښکيله ده. په هغه پيښو کې چې د ښکيلې غاړې پيژندل ناشوني دي ، په ځانګړي ډول د دواړو غاړو ترمنځ د درنې جګړې په وخت د ډزو په تبادله کې ، نو يوناما ملکي مرګ ژوبله په دواړو غاړو يعنې دولت پلوه ځواکونو او وسله والو مخالفينو پورې تړي.

[7] له جګړې څخه پاتې شوي چاوديدونکي توکي د ناچاودو مهماتو او پريښودل شوي چاوديدونکي توکو په معنی دي

[8] يوناما په ۲۰۱۳ کال کې ۷۵۰ ښځو تلفات ثبت کړي چې ۲۳۶ يې مړې او ۵۱۴ يې ټپيانې وې.

۲۰۱۴ کال په مهال د جګړې اړوند تاوتریخوالي کې وژل شوې یا سخت ټپي شوي وو. یوناما دا موندلې چې کومې ښځې د میړه د مرګ یا ژوبلې وروسته د کورنۍ لپاره یواځینی سرپرست او عوایدو لاس ته راوړنکې پاتې شوې نو په اوږد مهاله ډول د ټولنیز او معاشي پلوه د منفي پایلو سره لاس ګریوان وې. بې وزلۍ ډیری ښځې دې ته مجبور کړ ي چې خپل ماشومان د ښوونځیو وباسي یا په دې مجبور شوي چې خپلې لوڼه د قرض په بدل کې واده کړي او هم اکثره د کورنۍ او ټولنې د غړیو له خوا د نور ډول تاوتریخوالي په مقابل کې زیانمنونکي پاتې شوي. دا موندنې د دولت نه په کلکه غواړي چې د داسې زیانمنونکو ډلو اساسي ستونزو د حل لپاره په فوري ډول اقدام وکړ ي چې اکثر یې د ټولنې ګوښه شوې ښځې او ماشومان دي.

یوناما مستند کړې چې ۲۰۱۴ کال په مهال د وسله والې شخړې له امله په بې‌ساري ډول ماشومان اغیزمن شوي. په ټوله کې د ۱،۰۶۵ ثبت شوې پیښو په نتیجه کې ۲،۴۷۴ ماشومانو( ۷۱۴ مړه او ۱،۷۶۰ ټپیان شوي) ته تلفات اوښتي ، چې د ۲۰۰۹ کال راهیسې تر ټولو زیات شمیر د ماشومانو تلفات ثبت شوي. په ۲۰۱۴ کال کې د ماشومانو تلفاتو کې د ۲۰۱۳ کال پرتله ۴۰ سلنه ډیروالی راغلی.[۹]

یوناما په جګړه کې د ښکېلو ډلو د لوري په ماشومانو د جنسي تجاوز پیښې هم په دوامداره ډول ثبت کړي. یوناما د داسې جرایمو په اړه په دوامدار ډول د معافیت قایمه فضا مشاهده کړې چې د اړوندو چارواکو له خوا یې د تعقیب قانوني مراحل نه مراعات کیږي چې د مرتکبینو نه تحقیقات وشي ، قانوني تعقیب او هم مجازات شي. د دې واقعیت په منلو سره چې په پوره ډول دا پیښې راپور شوې نه دي خو یوناما د جګړې سره د تړلي تاو تریخوالي په نتیجه کې په ماشومانو د جنسي تیري پنځه پیښې ثبت کړي ،[۱۰] په څلورو پیښو کې تیر ي کونکي سیمه ییزپولیس او په بله یوه پیښه کې مرتکب د دولت پلوه وسله والې ډلې غړی و.

**مخامخ ځمکنۍ نښتې په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و**

څرنګه چې د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې نړیوال ځواکونو وتلو ادامه درلوده ، یوناما د افغان امنیتي ځواکونو له خوا مخا خ ځمکنیو عملیاتو کې ډیروالی لیدلی او هم یې د دولت ضد عناصرو له خوا په افغان امنیتي ځواکونو په بریدونو کې زیاتوالی مشاهده کړی. د همدې امله زیاتره نښتې د ملکي وګړو میشت ځایونو کې رامنځ ته شوي چې ملکیانو د پاره زیان اړونکي عواقب یې د ځان سره لرلي.

یوناما د مخامخ ځمکنیو نښتو په پایله کې ۳،۶۰۵ ملکي تلفات ( ۱۰،۹۲ مړه او ۲،۵۱۳ ټپیان شوي ) ثبت کړي چې د ۲۰۱۳ کال په پر تله ۵۴ سلنه ډیروالی ښیي ،[۱۱] او په ۲۰۱۴ کال کې د ټولو تلفاتو ۳۴ سلنه جوړوي. د ملکي وګړو مرګ ژوبله هغه وخت رامنځ ته شوې کله چې ملکي خلک په ځانګړي ډول ښځې او ماشومان د دولت ضد وسله والو ډلو او افغان امنیتي ځواکونو تر منځ ډزو کې بند پاتې شوي چې د ملکي اوسیدوسیمو په خوا وشا کې جنګیدل.

د ۳،۶۰۵ ملکي تلفاتو د جملې نه چې د مخامخ ځمکنۍ نښتو په نیتجه کې رامنځ ته شوي ، یوناما ۴۳ سلنه تلفات دولت ضد عناصرو ته او ۲۶ سلنه یې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.[۱۲] یوناما د ځمکنۍ نښتو په نتیجه کې د

[۹] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ۱۷۶۴ ماشومانو تلفات کړي چې ۵۶۴ یې مړه او ۱۲۰۰ یې ټپیان وو

[۱۰] له هرو څلورو پیښو چې په ۲۰۱۳ کال کې ثبت شوې دي ، یوه زیاته پیښه شوې ده.

[۱۱] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې ۲۳۳۴ ملکي تلفات ثبت کړي چې ۵۳۷ یې مړه او ۱۷۹۷ ټپیان وو.

[۱۲] د ۹۲۱ ملکي کسانو مرګ ژوبله چې د دولت پلوه ځواکونو (د افغان ملي امنیتي ځواکونو ، نړیوالو نظامي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو) له خوا د ځمکنیو نښتو په پایله کې رامنځته شوې ده ، ۹۲ سلنه یې د یوناما له خوا د نړیوالو ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو سره د

۲۹ سلنه د ملکي وګړو مرګ ژوبله په ځانګړي ډول هیڅ یو لوري ته منسوب نه کړای شول. پاتې دوه سلنه ملکي تلفات د ځمکنۍ نښتو بیا د پولې پورې غاړې نه ګولیو ویشتلو ته منسوب شوې.

د ځمکنۍ نښتو له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله چې د دولت پلوه ځواکونو په عملیاتو او بریدونو کې یې په ښکاره ډول زیاتوالی موندلی چې د۲۹۱ پېښو په پایله کې د ۹۲۱ ملکي تلفات ( ۳۳۶ مړه او ۵۸۵ ټپیان شوي ) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ،چې د ۲۰۱۳ کال په نسبت ۱۴۱ سلنه ډیروالی په ګوته کوي.[13] د دولت ضد عناصرو د لوري هم په ځکمنیو عملیاتو او بریدونو کې ډیروالی ثبت شوی چې د ۱،۵۵۱ ملکي تلفات ( ۴۳۸ مړه او ۱،۱۱۳ ټپیان شوي) د ۴۳۸ بیلا بیل پېښو په پایله کې رامنځ ته شوي چې د ۲۰۱۳ کال پر تله ۵۱ سلنه ښیي.[14]

د ښکېلو خواو ترمنځ درنو او اوږدو جګړو له امله تلفات یو لوري ته منسوبول ، په ځانګړي ډول د ډزو په تبادله کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله تل یو اسان کار نه وو. په دې پېښو کې چې د ۱،۰۵۱ ملکي تلفاتو ( ۳۰۷ مړه او ۷۴۴ ټپیان شوي )لامل شوی ، یوناما ملکي تلفات دواړو لورو ته ؛ دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.[15]

د ځمکنیو نښتو د جملې نیم ملکي تلفات د وسلو غیر مستقیم انداخت له امله رامنځ ته شوي چې د پراخې سیمې پورې اغیزې لري چې اکثر یې هاوانونه وو چې د دواړو خواوو د لوري کارول شوي. یوناما ۱،۷۸۸ ملکي تلفات ( ۴۷۷ مړه او ۱،۳۴۱ټپیان شوي ) د هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو په پایله کې ثبت کړي چې د ۲۰۱۳ کال پر تله ۷۳ سلنه ډیروالی په ګوته کوي.[16] په دې پسې اړوند بله اندیښنه په ملکي تلفاتو کې د ډیروالي ، په ځانګړي ډول د ماشومانو تلفات دي چې د مخامخ ځمکنیو نښتو وروسته د جګړې په میدان کې د چاودېدونکو پاتې شونو له امله رامنځ ته کیږي.


ګډو عملیاتو په ګډون ، په افغان امنیتي ځواکونو پورې تړل شوې ده. پاتې ټول یې د دولت پلوه وسله والو ډلو په مشرۍ ځمکنیو عملیاتو پورې (۷ سلنه) او نړیوالو نظامي ځواکونو پورې (۱ سلنه) تړل شوي دي.

[13] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ، ۳۸۲ ملکي تلفات چې ۱۰۲ یې مړه او ۲۸۰ یې ټپیان وو په دولت پلوه ځواکونو پورې تړلي چې د ځمکنیو نښتو ۱۳۶ بیلو پیښو په پایله کې رامنځته شو ي دي .

[14] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ، ۱۷۹۴ ملکي تلفات چې ۷۶۴ یې مړه او ۱۰۳۰ یې ټپیان وو په وسله والو مخالفینو پورې تړلي چې د ځمکنیو نښتو ۲۶۶ بیلو پیښو په پایله کې رامنځته شوي دي .

[15] د یوناما ډاټابیس د ملکي مرګ ژوبلې یوه بیله کټګوري لري چې دواړو غاړو یعنې دولت پلوه ځواکونو او وسله والو مخالفینو پورې تړل کیږي ، چې معمولاً د درنو ځمکنیو نښتو په لړ کې د ډزو د تبادلې په پایله کې رامنځته کیږي.

[16] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ، د هاوانونو او راکټونو په پایله کې ۱۰۳۳ ملکي تلفات ثبت کړي چې ۲۱۲ کسان یې مړه او ۸۲۱ کسان یې ټپیان دي.





**د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله زیات ملکي تلفات**

د دولت ضد عناصرو له خوا په ۲۰۱۴ کال کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول ډیر شوي او په ټول افغانستان کې د ملکي وګړو لپاره یو ستر ګواښ وو. یوناما د ۲،۹۷۸ ملکي تلفات ( ۹۲۵ مړه او ۲،۰۵۳ ټپي شوي) د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې ثبت کړي چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله درې سلنه ډیروالی ښیي.[۱۷] یوناما د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکو توکو، په موټر کې ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو ( د ځان وژنکو پرته ) او مقناطیسي ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې د ملکي وګړو تلفاتو کې ډیر والی ثبت کړی ، خو د ریموټ کنټرول او نامالومه ډول ماشو درلودونکو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو له امله ملکي تلفات یو څه راکم شوي دي.

---

[۱۷] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې، د چاودیدونکو توکو په پایله کې ۲۸۹۲ ملکي کسانو تلفات ثبت کړي چې ۹۶۴ کسان یې مړه او ۱۹۲۸ کسان یې ټپیان دي.




یوناما د دولت ضد وسله والو له خوا مخ په ډېرېدونکي ډول د بې توپیره او غیرقانوني[۱۸] فشاري چاودیدونکو توکو کارولو او له دې امله د زیات شمیر ملکي تلفاتو په اړه په ځانګړي ډول ژوره اندیښنه په ډاګه کوي. د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو په نتیجه کې ( ۷۷۵) ملکي تلفات ( ۴۱۷ مړه او ۳۵۸ ټپیان شوي) ثبت شوي چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۳۹ سلنه ډیروالی ښیي[۱۹] ، چې دا په ۲۰۱۳ کال کې د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو د کارولو په لړ کې د مشاهده شوي کمښت برعکس ده. . د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې اوښتي تلفات د ټولو چاودیدونکوتوکو د تلفاتو ۲۶ سلنه برخه او د ټولو ملکي تلفاتو اوه سلنه برخه تشکیلوي.

د چاودیدونکو توکو د جملې څخه تر ټولو زیات ملکي تلفات له لیرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکوتوکو(RC-IED) په نتیجه کې اوښتي چې ۱،۱۱۹ ملکي تلفات ( ۲۳۴ مړه او ۸۸۵ ټپیان شوي)[۲۰] ثبت شوي . د مقناطیسي ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې اوښتي ملکي تلفات د ۲۰۱۴ پر تله د دوه ځله هم ډیر وو ، چې ۲۴۱ ملکي تلفات ( ۲۰ مړه او ۲۲۱ ټپي شوي ) ثبت شوي اودا د ۲۰۱۳ کال په نسبت ۱۳۶ سلنه ډیروالی ښیي.[۲۱] د دې ډیری پېښې چې دولت ضد وسله وال په کې ښکېل وو مقناطیسي ځاي پر ځاي شوي

[۱۸] افغانستان( د *"اوتاوا کنوانسیون"* یا د ماینونو د بندیز قانون) ۱۹۹۷ کال کنوانسیون چې د پرسونل ضد ماینونو پر استعمال ، ذخیره کولو ، تولید او لیږد او د هغوی د له منځه وړلو په اړه دی ، تصویب کړی دی. نوموړی تړون په فابریکه کې جوړ د پرسونل ضد ماینونو استعمال او د قربانیانو د تماس سره فعالیدونکي ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو لکه د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو کارول منع کوي . په کنوانسیون تړون کې د " ماین" له مخې د ماین تعریف هغو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو ته هم شامليږي چې په ځمکه او یا د بلې سطحې په ساحه کې کېښودل کیږي او د یو کس او موټر د موجودیت ، نږدې کیدو او تماس په وخت کې چاودیږي.

[۱۹] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ، د قرباني د تماس سره فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکو توکو په پایله کې چې زیاتره یې د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي دي ۵۵۸ ملکي تلفات ثبت کړي چې په کې ۲۴۶ مړه او ۳۱۲ ټپیان شوي دي.

[۲۰] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ، د لرې نه د کنټرولیدونکو چاودیدونکو توکو په پایله کې ۱۱۴۹ ملکي تلفات ثبت کړي چې په کې ۲۵۷ مړه او ۸۹۲ ټپیان شوي دي.

[۲۱] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ، د مقناطیسي ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې ۱۰۲ ملکي تلفات ثبت کړي چې په کې ۱۲ مړه او ۹۰ ټپیان شوي دي.

چاودیدونکي توکي د افغان امنیتي ځواکونو په وسایطو کې ایښودل شوي چې اکثرو یې ملکي خلکو ته د چاودیدو په ځای کې خورا ناوړه پایلې د ځان سره درلودلې.

### د ځان وژونکو او ډله ییز بریدونو په پایله کې مخ پر ډیریدونکي ملکي تلفات

د ځانمرګو او ډله ییز بریدونو په نتیجه کې ملکي قربانیانو شمېره د ۲۰۱۴ کال پر مهال ۲۸سلنه ډیره شوې ، چې یوناما ۱،۵۸۲ ملکي تلفات ( ۳۷۱ وژل شوي او ۱،۲۱۱ټپي شوي )[۲۲] ثبت کړي دي. د بېلګې په ډول د ځانمرګي برید تر ټولو زیاته زیان اړونکي پېښه د نومبر په ۲۳ مه نېټه د پکتیا ولایت په یحی خیلو ولسوالۍ کې رامنځ ته شوه ، چرته چې یو ځانمرګي برید کونکي د ۴۰۰ کسانو چې د والیبال سیالۍ تماشه یې کوله د هغوي په منځ کې چاودنه وکړه. یوناما ۱۳۸ ملکي تلفات (۵۳ وژل شوي په شمول د ۲۱ ماشومانو او ۸۵ ټپیان په شمول د ۲۶ ماشومانو) ثبت کړي دي. په برید کې لس سیمه ییز پولیس د دوه ځایي قومندانانو په شمول هم ووژل شول.

د یوناما د ثبت شویو شمېرو مطابق هدفي وژنې چې په پایله کې ۱،۱۱۴ ملکي تلفات ( ۷۵۳ وژل شوي او ۳۶۱ ټپي شوي) رامنځ ته شوي چې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۱سلنه تشکیلوي ،[۲۳] چې د ۲۰۱۳ کال په نسبت پنځه سلنه کمښت ښیي. په دې تلفاتو کې د قومي مشرانو ، ملکي دولتي چارواکو ، دیني عالمانواو ملکي قضایي چارواکو وژ نې ل شاملې دي.

پاتې نور ۱۲ سلنه ملکي تلفات بیا لاندې ډول پېښو ته منسوب شوي :دوه سلنه تلفات دجګړې څخه د پاتې شوني ناچاوده توکو ، دوه سلنه د نړیوالو ځواکونو د بمبارۍ له امله او پاتې نور ملکي تلفات بیا د موازي قضای جوړښتونو ، د دولت ضد عناصرو له خوا پخپل سر اعدامونو ، اختطاف او په جنګ کې د ښکېلو ټولو لورو د ناقانونه وژنو ته منسوب شوي.


### د دولت پلوه ځواکونو وسله والو ډلو له خوا د بشري حقونو څخه سرغړونه

یوناما د ۲۰۱۴ کال په مهال د دولت پلوه وسله والو ډلو په لاس د ملکي وګړو پر وړاندې د بشري حقونو سرغړونو کې څرګند ډیروالی مشاهده کړی ، اود دې تر څنګ افغان چارواکي هم د دې وسلواله ډلو سره محاسبه کولو کې په لویه کچه پاتې راغلي ، چې زیانمن شوي ملکیان او ټولنې خوندي وساتي. یوناما ۱۰۲ ملکي تلفات ( ۵۳ وژل شوي مړه او ۴۹ ټپیان شوي) د ۸۵ بیلا بېلو داسې پېښو په نتیجه کې ثبت کړې چې په هغه کې دولت پلوه وسلوالې ډلې ښکېل وې ، چې دا د ۲۰۱۳ کال په نسبت ۸۵ سلنه لوړوالی په ګوته کوي.[۲٤]

[۲۲] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ، د ځانمرګو او ډله ییز بریدونو په پایله کې ۱۲۳۶ ملکي تلفات ثبت کړي چې په کې ۲۵۵ مړه او ۹۸۱ ټپیان شوي دي.

[۲۳] -یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ، د هدفي وژنو په پایله کې ۱۱۷۷ ملکي تلفات ثبت کړې چې په کې ۷۹۴ وژل شوي او ۳۸۳ ټپیان شوي دي

[۲٤] سره له دې چې د ملکي کسانو په مرګ ژوبله کې زیاتوالی راغلی د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د رامنځته شوې مرګ ژوبلې شمېره د ۲۰۱۴ کال د ټولو ملکي تلفاتو د مرګ ژوبلېد یوې سلنې څخه کمه ده. د نوموړې مرګ ژوبلې د ډیری پیښو مسؤلیت په شمال او شمال ختیځ زونونو کې د موجوده دولت پلوه وسله والو ډلو په غاړه دی چې په ترتیب سره ۶۲ او ۲۵ سلنه جوړوي او دواړو زونونو کې د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې په پیښو او ملکي تلفاتو کې زیاتوالی راغلی دی.




**په جګړې پورې تړلې تاوتریخوالی : په ملکي تولنه د دې اغیز**

**دجګړې ناچاوده چادیدونکي پاتې شوني**

د جګړې څخه چاودیدونکي پاتې شونو[۲۵] (ERW) په نتیجه کې ملکي تلفاتو د ۲۰۱۲ کال راهیسې د دوه ځلې ډیر والی موندلی. په ۲۰۱۴ کال کې یوناما د ناچاوده چاودیدونکو توکو ۱۸۵ بیلا بېلې پېښې ثبت کړي چې ۴۲۲ ملکي تلفات ( ۱۲۴ مره او ۲۹۸ ټپیان شوي ) یې اړولي ، چې د ۲۰۱۳ کال پرتله ۲۰ سلنه لوړ والی ښیي.[۲۶] یوناما د ۲۰۰۹ کال راپه دې خوا د جګړې څخه چاویدونکي پاتې شونو په نتیجه کې دا د ملکي تلفاتو تر ټولو زیات شمېر تلفات ثبت شوي.

**د موازي قضایي جوړښت سزا ګانې**

یوناما په ۲۰۱۴ کال کې ۴۹ داسې پېښې ثبت کړي چې د دولت ضد وسله والو په شمول د طالبانو ، ملکي خلکو ته د شرعي قانون څخه د سرغړونې په اتهام چې د جرم او یا جاسوسې تور ګمان پرې کیده مجازات شوي. د ثبت شویو پېښو په ډله کې د دولت ضد وسله والو له خوا پخپل سر اعدامونه ،سرغوڅول ، د بدن د غړو پرې کول ، وهل ، په دورو وهل او غیر قانوني توقیف شامل دی.[۲۷] یوناما دا په ګوته کوي چې موازي قضایي جوړښتونه غیر قانوني او د

---

[۲۵] له جګړې څخه پاتې شوي چاودیدونکي توکي د ناچاودو مهماتو او پریښودل شویو چاودیدونکو توکو په معنی دي.

[۲۶] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې ، د ۱۶۴ پیښو په پایله کې ۳۵۱ ملکي تلفات ثبت کړي چې ۱۱۶ یې مره او ۲۳۵ یې ټپیان دي.

[۲۷] د ملکي تلفاتو ټولې پیښې چې د موازي عدلي سیستم د مجازاتو تر عنوان لاندې د یوناما له خوا ثبت شوې دي ، ټولې د دولت ضد د وسله والو عناصرو له خوا ترسره شوي دي. یوناما د دا ډول مرګ ژوبلې بیلګې ثبت کړي ، چیرته چې مجازاتو یې د جګړې سره مستقیم تړاو درلود لکه د ملي اردو د یو سرتیري د پلار وژل او یا هم د جګړې پرته د او قصوراو تیروتنو په پایله کې د یو ملکي کس په وړاندې د وسله والو مخالفینو له خوا ترسره شوي دي ، لکه د زنا په تور په عام محضر کې په د ، رو وهل. ۳مه مشترکه ماده په ځرګنده توګه د قتل ، تاوتریخوالي ، پخپل سراعدامونو ، شکنجه ، د اعضاء پرې کول او د هر بل ډول تاوتریخوالي د منع کولو له لارې ملکیان خوندي کړي دي. دا ډول کړنې په هر وخت ، هرځای او


افغانستان د قوانینو په رڼا کې مشروعیت او قانوني بنسټ نه لري. هغه سزا ګانې چې د دې جوړښتونو له خوا تطبیق شوي د بشري حقونو سرغړونه بلل کیږي او یا د افغانستان د قانون په اساس جرمي عمل پیژندل شوی ، او په ځینې مواردو کې جنګي جرم ګڼل کیږي.[۲۸]

### د طالبانو په لاس د کورونو سوځول

د ۲۰۱۴کال د اګست د لومړۍ نېټې نه تر ډسمبر ۳۱ پورې ، یوناما داسې لس پېښې ثبت کړي چې د طالبانو غړیو د هغو ملکي خلکو کورونه سوځولي چې هغوي د طالبانو سره سیاسي او یا لفظي مخالفت ښکاره کړی. د اسې ټولې پېښې د افغانستان په ختیځ کنړ ، ننګرهار او نورستان ولایتونو کې رامنځ ته شوې. ډیری کورونه چې طالبانو سوځولي هغه خو یا د دولت ملکي مامورین ، د افغان امنیتي ځواکونو غړي او د طالبانو په ضد د پاڅون کونکو ډلو غړیو کورونه وو. یوناما په دې تاکید کوي چې د داسې پېچلي ډول سزا ورکول د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه کلکه سرغړونه ده او د طالبانو په شمول د جګړې ټولې ښکېل لوري یې په اطاعت او درنښت مکلف دي.

### د جګړې  له امله بې ځایه کیدل

په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شویو وګړو کاري ډلې په ۲۰۱۴ کال کې د ۱۵۶،۱۹۳ ملکي خلکو د وسله والې جګړې له امله بې ځای کیدل ثبت کړي.[۲۹] دا شمېرې د ۲۰۱۳ کال په نسبت اته سلنه ډیروالي په ګوته کوي.[۳۰] د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر تر ۳۱ مې نېټې پورې په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شویو وګړو شمېر ۸۰۵،۴۰۹ کسان وو.




---

هرشکل چې وي ، منع شوې دي. په افغانستان کې د ۳مې  مشترکې  مادې د تطبیق په هکله د لازیاتو مالوماتو لپاره  د دې راپور د *قانوني چوکاټ* برخه وګورئ.

[۲۸] د جنګي جنایتونو د تعریف په اړه د لازیاتو مالوماتو لپاره د قانوني چوکاټ برخه وګورئ.

[۲۹] د داخلي بې ځایه شویو کاري ډله د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ اود کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت په مشرۍ ترسره کیږي. دا یو لومړنی میکانیزم دی چې له لارې یې د جګړې په پایله کې داخلي بې ځایه شوي وګړي ثبتیږي او مرستې ورته برابریږي.

[۳۰] دغه شمیرې یوناما ته د داخلي بې ځایه شویو د کاري ګروپ له خوا په ۲۸ د جنورۍ ۲۰۱۵ کال ورکړل شوي دي.

## **کتنې**

د ۲۰۱۴ کال په مهال د نړیوالو ځواکونو څخه افغان امنیتي ځواکونو ته بشپړ امنیتي مسوولیت سپارل په ټول افغانستان کې د ملکي خلکو خوندیتوب په څرګند ډول اغیز من کړی. د نړیوالو امنیتي ځواکونو د وتلو سره په ځانګړي ډول افغان امنیتي ځواکونو سره د هوایي عملیاتو ملاتړ او ځمکنیوځواکونو کې کمی ، طالبانو او نور د دولت ضد وسله والو ډلو ته ډیره موقع په لاس ورکړې چې په ځینو سیمو کې په لویه کچه ځمکني عملیات پیل کړی.[۳۱]

په زیاتو سیموکې طالبانو په ګروپي شکل عملیات پیل کړل چې شمېر یې څو سوه طالبانو جنګیالو ته رسیده چې په ښکاره د دې هڅه وه چې د یوې پراخه سیمې ولکه په لاس کې واخلي کومه چې مخکې کم نه کم په نوم باندې د دولت د کنترول لاندې وه چې د دې ښکاره بیلګه په هلمند ولایت کې وه.اکثرو افغان امنیتي ځواکونو یواځې په ګڼ مېشته ځایونوکې او یا دې ته نږدې د افغان امنیتي ځواکونو د مرکزونو نه د یاغیانو په ضد وقفه بیز غبرګون کې عملیات تر سره کړي. په نسبي ډول د خوندي ښاري سیمو د باندې ، په ځانګړي ډول د هیواد سهیل ، سهیل ختیځ او ختیځو سیمو ډیری ولسوالیو کې د افغان امنیتي ځواکونو او حکومت شتون یواځې د ولسوالیو تر مرکزپورې محدود و ، چې اکثر ډیر ملکي وګړي د خوندي ساتنې پر ته پرېښودل شوي.

د دې سره د افغان امنیتي ځواکونو مخ په ډیریدونکو ځمکنیوې عملیاتو رهبرۍ دوي زیات را ښکاره کړل او د دولت ضد وسله والو لپاره ډیره موقع په لاس ورغله چې په دوي بریدونه وکړي. د جګړې او ځمکنیوې نښتو په نتیجه کې ډیرو ملکي خلکو ته مرګ ژوبله اوښتې - بیا په ځانګړي ډول ښځې او ماشومان چې د جنګ په منځ کې نښتي وو.

په ۲۰۱۴ کال کې د یو سلسله وسله والو ډلو نفوذ او مخ پرغزیدونکې ځواکمنې چې اکثره د ولایتي او ولسوالۍ چارواکو سره تړلي وي- بیا په ځانګړي ډول شمال ، شمال خیتځ او جنوب ختیځ سیمو کې د ډیرې اندیښنې خبره ده. یوناما د دولت پلوه وسله واله ډلو په لاس د ملکي خلکو په ضد د بشري حقونو سرغړونه کې ډیروالی مشاهده کړی او حکومت هم دا ستونزه نه ده حل‌کړې . د معافیت او د حساب ورکونې نه شتون د دې لامل شوی چې د هیواد په ځینو سیمو ناامني ډیره او د ملکي وګړو خوندیتوب یې ټکنی کړی.

یوناما په ګوته کوي چې د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو میاشتو کې امنیتي او سیاسي وضعیت د دې ښکارندوي کوي چې افغان امنیتي ځواکونه او طالبان اراده لري چې د ۲۰۱۵ کال د جګړې موسم په روانه شخړه کې یو بدلون راوستونکی نقطه ثابت شي. که چېرې د افغان امنیتي ځواکونو او د ولت ضد عناصرو تر منځ د پراخه ځمکنیو نښتو اوسنۍ وضعیت ادامه ومومي ، چې د بې توپیره ګولۍ ویشتلو په شمول د هاوانونوا ،- ر پې جي راکټونو او ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو او نورو وسلو کارولوته د ملکي ګڼې ګونې سیمو کې ادامه ورکړي نو د دې ډیر احتمال دی چې په ۲۰۱۵ کال کې به د ملکي وګړو تلفاتو کې نور ډیروالی راشي.

په ۲۰۱۵ کال کې د مخ پر ډیریدونکي تاوتریخوالي شرایطو ته په کتلو سره یوناما بیا یو ځل په ښکېلو خواو - په ځانګړي ډول د دولت ضد عناصر باندې غږ کوي .چې د نړیوال بشر دوستانه قانون سره په مطابقت اوخپل مکلفیت سره سم دملکي وګړو خوندي ساتنې لپاره نور زیات تدابیر ونیسي. د ملکي خلکو زیانمن کیدل او د هغوي مرګ ژوبله . په ځانګړي ډول د ښځو اوماشومانو په بې سارې ډول لوړه شوې ، یوناما په جنګ کې د ښکېلو خواوو څخه په کلکه

---

[۳۱] د دې لپاره چې په نړیوال هوایي ځواک باندې د افغان ملي امنیتي ځواکونو تکیه راکمه شي ، نړیوال نظامي ځواکونه د هوایي ځواک د ظرفیت د لاپرمختګ په موخه حکومت څخه ملاتړ کوي. د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو او د پریکنده ملاتړ ماموریت له استازو سره د یوناما کتنه ، د ۲۰۱۴ کال د فبروري ۱۲ مه.

غواړي چې په خپلو نظامي عملياتو کې د ملکي وګړو دخوندي ساتنې لپاره د ټول ممکن احتياط نه کارواخلي .د بې تفکيکه او غيرمتناسبو بريدونو درولو په شمول د ملکي مېشت سيمو کې د درندو او غير مستقيم فير وسلو کارولو کې احتياط او د هغه وسله واله ځواکونو غړيو سره حساب وشي چې په قصدي ډول يې بې توپيره ملکي خلک زيانمن کړي دي.

يوناما ښکېلو خواو ته لاندې سپارښتنې لري چې د هغوي د هغو هلو ځلو سره مرسته وکړي چې ملکي وګړي او ټولنې خوندي وساتي او د ملکي تلفاتومخنيوی وکړي.

## سپارښتنې

### دولت ضد عناصرو ته

د بشر پالنې د نړيوال  قانون لاندې مکلفيت سره په سمون کې :

- بې توپيره ( تفکيک ) او غيرمتناسب بريدونه ، او په ملکي سيمو باندې د هاوانونو ، راکټونو او اولاسي بمونو توغول  ودروئ.
- په قصدي ډول د ملکي وګړو په نښه شوې وژنې او ملکي ځايونو ، د عبادت او کلتوري ځايونو په شمول او ملکي دولتي دفترونو په نښه کول ودروئ.
- د ملکي و ګړو د پرلپسې تګ راتګ  په ځايونو کې د ځای پر ځای شوي چاوديدونکو کارول او په ځانګړي ډول د ځانمرګو بريدونو ترسره کول ودروئ او هم نا قانونه د فشار په ذريعه د فعاليدونکو   ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو کارول توقف کړئ.
- د " ملکی ، ملکيانو"  لپاره هغه تعريف وکاروئ چې د بشرپالنې د نړيوال قانون سره مطابقت ولري او د دې قانون د اصولو سره سم  په ټولو نظامي عملياتو کې تفکيک  ، تناسب او احتياطي تدابير په پام کې ونيسئ.
- د طالبانو د رهبرۍ لهخوا هغه صادرې شوې  اعلاميې پلي کړئ کومې چې په ملکي خلکو او د ملکي اوسيدنې په ځايونو کې بريدونه منع  کوي. هغه لارښودونه پلي کړئ چې د طالبانو غړيو ته يېلارښونه کړ ې  چې د ملکيانو  د تلفاتو څخه مخنيوی او ورڅخهډډه وکړ ئ  او هغو کسانو سره حساب وشي څوک چې ملکي خلک هدف ګرځوي  ، وژني او يايې ټپي کوي.

### د افغانستان دولت ته

- د هستوګنې په سيمو کې د هاوانونو ، راکټونو او لاسی بمونو ويشتل ودروئ.
- ډير کوښښ و کړئ  چې ملکيان د جګړې د زيان  څخه د  واضحو تاکتيکي لارښودونو ، د نښتو د قواعدو  او نورو طرزالعملونود جوړولو او پلي کولو ، او د ملکاينو د ساتنې د تدابيرو ، د اغيزو د کمولو  ، احتساب  ، او قربانيانو ته د تاوان د تلافي په برخه کې د ټولو افغان ملي امنيتي ځواکونو د روزنې  تمويل او تجهيز د لارې خوندي شي.

- ټولې وسله واله ډلې او ملېشې بې وسلې او منحل کړئ ، او د هغو ه وسله واله ډلو د غړیو سر د حساب کولو نه ډاډ ورکړئ کومو چې د بشري حقونو څخه سرغړونه کړې.
- د افغان امنیتي ځواکونو د نور ښه ظرفیت ودې ورکولو ته دې لومړیتوب ورکړل شي ، چې د ځای په ځای شوي چاویدونکو توکو سره د مبارزې عملیات ، د دې چاودیدونکو توکو له منځه وړل او استحصال قومانده او کنترول په اغیزمن ډول تر سره کړای شي. ټولې لازمې سرچینې د دې لپاره ځانګړې کړئ څو د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې دملي ستراتیژۍ بشپړه پلي کېدنه باوري شي.
- داسې پالیسي ګانې او طرزالعملونه دې رامنځ ته شي چې د جنګ په میدان کې د ځمکنیو نښتو وروسته د ناچاوده چاودیدونکو پاتې شوني په نښه او د پاکوالو ی په اړه یې ډاډ تر لاسه شي.
- د افغان امنیتي ځواکونو ، د دولت پلوه وسله والو ډلو او ایتلافی ځواکونو د بشري حقونو د تیري او د بشر پالنې د نړیوال قانون او بشری حقونو قانون څخه د سرغړونو ټول تورونه دې وپلټل شي. د افغانستان او نړیوال قانون په وړاندې ګرم پیژندل شوې کسان دې قانوني تعقیب او مجازات شي.
- د جګړې له امله تاوتریخوالي په نتیجه کې د وژل شویو ملکي وګړو د ښځو او کورنۍ لپاره د خسارې د جبران په اړه په شته طرزالعملونودې بیا کتنه وشي او هغه دې اصلاح شي. او ورسره د خساري جبران او بنسټیز خدمتونو ته لاس رسي په اړه دې عامه پوهاوی ترسره شی .

**نړیوالو نظامي ځواکونو ته**

- د ۲۰۱۵ وروسته د ناتوټو د پریکنده ملاتړ ماموریت له خوا افغان امنیتي ځواکونو سره مرسته کول ، او اوسنې عملیاتي شرایطو ته په کتلو سره دې د دې څخه ډاډ تر لاسه شي چې افغان امنیتي ځواکونه په بشپړ ډول تمویل ، تجهیز او روزل شوي. د افغان امنیتي ځواکونو سره مرستې ته ادامه ورکړئ چې د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د عملیاتو او د ځاي پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د خنثی کولو قومانده کنترول په اغیزمن ډول ترسره کړي ، چې په کې ۲۰۱۵ — ۲۰۱۷ کلونو کې د دغو توکو استحصال شامل دی.
- هغه کوښښونو ته ادامه ورکړل شي چې د نړیوالو سوله ساتوي ځواکونو(ایساف ) د ټول نظامي مرکزونو او تمرین ځایونه چې د عملیاتو د پیل وروسته بیا تړل شوي ، د ناچاوده چاودیدونکو توکو ځایونه نقشه او په نښه شي او د پاکولو په اړه یې بشپړ ډاډ ترلاسه شي.
- په افغانستان کې ټول نظامیان یا خارجي استخبارات او امنیتي ځواکونه چې په یواځې سر یا د افغان امنیتي ځواکونو سره د ملاتړ لپاره ګډ عملیات ترسره کوي ، باید دې ډاډ ورکړي چې په مخامخ ځمکنیوي او هوایي عملیاتو کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په موخه ټول اړین ګامونه او تدبیرونه واخلي.
- په شفاف ډول د عملیاتو وروسته د ارزونو ، او د هغو عملیاتو په تعقیب چې په کې ملکي تلفات د نړیوالو امنیتي او یا هم استخباراتي ځواکونو د ښکیلتیا له امله را منځته شوي د تحقیقاتو د سرته رسولو د باوري کولو ادامه او د حساب ورکولو ، خسارې جبران او د عملیاتو نه د ښه زده کړو په اړه دوامداره ګامونه واخلئ .

## ۱. د نښتو په ساحو کې د بشري حقونو ساتنه

### ښځې او وسله والې نښتې

له کله چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي کسانو د تلفاتو په مستند کولو پیل کړی ، دې سازمان له ۲۰۰۹ راهیسې په ۲۰۱۴ کې د ښځو په منځ کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه شمیره ښوولې ده. یوناما ۵۵۶ پیښې مستندې کړې چې ۹۰۹ تنه ښځینه تلفات لري (۲۹۸ وژنې او ۶۱۱ ژوبلې)، دغه تلفات د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۲۱ سلنه زیاتوالی څرګندوي.[32] په منځنۍ حد کې د ۲۰۱۴ کال په هره اونۍ کې په نښتو پورې تړلې تاوتریخوالي کې له ۱۷ څخه زیاتې ملکي ښځې یا وژل شوي یا ژوبلې شوې دي.

په وسله والو نښتو کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ په شپږ میاشتنۍ راپور کې د مستند شویو تمایلاتو په تعقیب ، ځمکنۍ شخړې په همدې کال کې تر ټولو زیات د ښځینه تلفاتو سبب ګرځېدلې ، چې ۵۲۷ تلفات یې درلودل (۱۵۳ وژنې او ۳۷۴ ژوبلې). دغه شمیر د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۵۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[33] د ښځو د ټولو تلفاتو له نیمایي زیاتې (۵۸ سلنه) د ځمکنیو شخړو په ترځ کې رامنځ ته شوي. د دغو تلفاتو ډیری شمیر هغه ښځې وې چې د جګړو په منځ کې ګیرې وې او یا د ګولیو د شیندلو له امله مړې شوې چې د دوی په کورونو اوریدلې.

ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ۱۶۹ ښځینه تلفات (۶۲ وژنې او ۱۰۷ ژوبلې) اړولي ، چې د ۲۰۱۳ په پرتله ۵ سلنه کمښت څرګندوي.[34] که څه هم ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي په تیرو کلونو کې د ښځینه تلفاتو عمده سبب ګڼل کیده ، په ۲۰۱۴ کال کې دغه توکي د ۱۹ سلنه تلفاتو سبب پېژندل شوي. د ښځینه تلفاتو له نیمایي څخه زیات (۵۶ سلنه) د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي او حکومت پلوه ځواکونه د ۲۷ سلنه تلفاتو سبب ګرځیدلي. د ښځینه تلفاتو پاتې برخه د حکومت پلوه او دولت ضد عناصرو په منځ کې د ډزو د تبادلې له امله رامنځ ته شوې چې یوناما نه شو کولای هغه یوې خوا ته منسوب وګڼي (۱۵ سلنه)، د پولې په دواړو خواوو کې د ډزو د تبادلې له امله (یوه سلنه) او هغه پیښې چې مجرمین یې نه دي پیژندل شوي (یوه سلنه ، ډیری یې له جګړو څخه د چاودیدونکي پاتې شونو له امله).

۲۰۱۴ کال کې د حکومت پلوه ځواکونو په ذریعه د ښځینه تلفاتو په شمیر کې ۶۷ سلنه زیاتوالي لیدل کیږي ،[35] چې ډیری یې د توپونو د ویشتلو په وخت کې له تیروتنو څخه رامنځ ته شوي. د دې تېروتنې یوه بیلګه د ډسمبر په ۳۱ پېښه شوه کله چې افغان ملي اردو د هاوان ګولۍ په دولت ضد عناصرو وورولې او په یوه ملکي کور ولګیدې چیرې چې د واده مراسم پر ځای کیدل او ۸۳ ملکي تلفات (۲۹ وژنې او ۵۴ ژوبلې ، چې ۱۵ نجونې ، نهه تنه ښځې او پنځه تنه هلکان و وژل شول او ۳۰ تنه نجونې ، نهه تنه ښځې او اوه هلکان او اتنه تنه سړي ژوبل شول). دغه او دې ته ورته پیښې د دې غوښتنه کوي چې ټول افغان امنیتي ځواکونه په خپلو تاکتیکي لارښوونو بیا غور وکړي او که اړتیا وي هغه بدلې کړي څو یقیني شي چې د غیر مستقیمو ډزو پر مهال له ملکي تلفاتو څخه د مخنیوی په خاطر ټول احتیاطي تدابیر نیول شوي وي.

[32] په ۲۰۱۳ کې یوناما ۷۵۰ ښځینه تلفات مستند کړي دي (۲۳۶ وژنې او ۵۱۴ ژوبلې)
[33] په ۲۰۱۳ کې د ځمکنیو جګړو له امله ۳۳۶ ښځینه تلفات (۷۳ وژنې او ۲۶۳ ژوبلې) رامنځ ته شوي.
[34] په ۲۰۱۳ کال کې ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ۲۹۱ ملکي تلفات (۱۳۵ وژنې او ۱۵۶ ژوبلې) اړولي دي.
[35] په ۲۰۱۳ کال کې دولت پلوه ځواکونو ۱۴۸ ښځینه تلفات اړولي (۴۱ وژنې او ۱۰۷ ژوبلې). په ۲۰۱۴ کال همدې ځواکونو ۲۴۷ ښځینه تلفات اړولي (۹۳ وژنې او ۱۵۴ ژوبلې).

**ښځې چې د وسله وال تاوتریخوالي له امله کونډې شوي: د  تلفاتو اغیزې**

*زه یوه نالوستې میرمن یم او کلتوري حساسیتونه ددې مانا لري چې ښځې د دې اجازه نه لري چې له کور ځخه بهر کار وکړي او له خپلو کورنیو سره مرسته وکړي ، ځکه زه نه شم کولای چې د کورنۍ لپاره اقتصادي ګټې وکړم. زما درې ماشومان چې زما د خاوند له وژلو مخکې ښوونځي ته تلل اوس له ښوونځي ځخه پاتې دي او پاده واني کوي څو له کورنۍ سره مرسته وکړي.*[٣٦]

یوناما په ۲۰۱۴ کې د ښځو د تلفاتو په شمیر کې چې په جګړو کې وژل شوې یا ژوبلې شوي دي ، د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۲۱ سلنه زیاتوالي مستند کړي دي. په داسې حال کې چې دغه زیاتوالی پخپله هم د اندېښنې خبره ده ، خو د جګړو ټولنیزې او اقتصادي اغیزې د ښځو او د دوي د ماشومانو په ژوند تر ډېره بریده پټې پاتې کیږي. ښځې چې د خپلو کورنیو لپاره یوازینۍ د عایداتو راوړونکې دي او میړونه یې په جګړو کې وژل شوي یا ژوبل شوي دي د ډېرې مودې لپاره د ټولنیزو او اقتصادي منفي اغیزو ځخه متاثره شوي او په ځانګړې ډول د تاوتریخوالي او ناوړه ګټې اخیستنې په وړاندې زیانمنیدونکې دي. یوناما په دې ټینګار کوي چې حکومت باید زر تر زره د زیانمنیدونکو او کوښه شویو ښځو او ماشومانو بنسټیزې اړتیاوې پوره کړي.

یوناما له ۶۰ ښځو سره مرکې کړې دي او په هرو څلورو کې یوه ښځه وروسته له هغه چې میړونه یې له لاسه ورکړي دي ، د تاوتریخوالي (له خپلوانو او ټولنې له خوا) سره مخا مخ شوي. تر ټولو عام تاوتریخوالي ناوړه لفظي چلند ، له کورونو ځخه ایستل ، په اجباري ډول بیا واده ته اړ ایستل ، او ټولنیزه رټنه او فزیکي ناوړه چلند ګڼل شوي. په ډېری قضیو کې دغه ډول تاوتریخوالي د میړه له مرګ ځخه څو ورځې وروسته ښکاره شوی او په زیاتره حالاتو کې د خسرګنۍ (د میړه د کورنۍ ) د غړو له خوا ترسره شوي. ښځو چې له یوناما سره یې خبرې کړي وویل چې تاوتریخوالی د دې عقیدې پر بنیاد ورسره شوي چې ښځه او د دې ماشومان د میړه له مرګ وروسته یو اقتصادي بوج ګڼل کیږي. خپلوانو هم ډېر ځله ښځې د همدې دلیل پر بنسټ اړې کړي چې خپلې لونې واده کړي.

ټولو هغو ښځو چې یوناما مرکې ورسره کړې ویلي دي چې د میړونو له وژنې یا ژوبل کیدنې ځخه وروسته یې مالي وضعیت ډېر ویجاړ شوی دی. یوازې یوه ښځه چې مرکه ورسره شوې د میړه له مرګ ځخه مخکې په کار ګمارل شوې ، څو تنو ښځو ویلي دي چې دوي ډېرې کمې پیسې لاس ته را وړي ، د مثال په ډول په کورونو کې خدمت کوي یا پاک کاري کوي ، وروسته له هغه چې میړونه یې مړه شوي دي او زیاترو هغو یې ویلي دي چې کارونه یې نه دي موندلي. یو په دریمې برخې ښځو چې مرکې ورسره شوې ویلي دي ، چې دوي د میړونو له مرګ یا ژوبلې ځخه وروسته له حکومت ځخه په کمه اندازه مالي جبران تر لاسه کوي ، چې ډېری ښځو د منظم معاش په څېر نه بلکه په یوه ځای او د یو ځل لپاره څه پیسې تر لاسه کړي. ډېرې ښځې چې مرکې ورسره شوي په دې نه پوهیدلې چې د جبران تر لاسه کولو میکانیزمونه څنګه تر لاسه کولای شي او له هغو شته لارو چارو ځخه خبرې نه وې چې په ولایتي یا د مرکزي حکومت په کچه د کار او ټولنیزو چارو د وزارت یا د ولسمشر د دفتر له خوا برابرې شوي او په دې باور وې چې جبران یوازې هغو کسانو ته ورکول کیږي چې په لوړه کچه اړیکې ولري.

له مرکو ځخه یوناما دا وموندله چې څلورمه برخه د هغو ښځو چې مرکې ورسره شوي د دې توان یې درلود چې له بهرنۍ مرستې ځخه پرته د خپلو کورنیو لګښتونه پیدا کړي. د دوی ډېری په قسمي یا ټولیز ډول په خپلو کورنیو (ډېری ځله د

---

[٣٦] له ۳۵ کلنې ښځې سره د یوناما مرکه چې د شپږو ماشومانو مور ده ، بدخشان ولایت ، نوومبر ۱۱ ، ۲۰۱۴

خپلو میړونو په کورنیو) تکیه کوله چې مرسته ورسره وشي. ډیری ښځې له دې څخه محرومې ساتلې شوې وې چې د خپلو میړونو ملکیت ته لاس رسی ولري ، څو تنو ښځو د دې اجازه درلودله چې د خپلو میړونو له ملکیت او شتمنیو څه ګټه واخلي خو په دې خبرې نه وې چې دوي د میراث/جایداد او مالکیت حق لري.

په داسې حال کې چې له مرګه شویو ښځو څخه تر نیمایي زیاتو یې و ویل چې د میړونو له مرګ څخه وروسته د دې اجازه لري چې له کومې بدرګې پرته له کورونو څخه و وځي ، ډیرو یې و ویل چې په ګرځیدو راګرځیدو یې محدودیتونه لګیدلي او کله چې له کور څخه بهر ته وځي باید د نارینه وو خپلوانو څخه څوک دوي بدرګه کړي.

څو تنو ښځو چې مرګه ورسره شوې ویلي چې د میړونو له مرګ وروسته یې موقف په ټولنه کې بدل شوی او دوي ته د یوه پېټي په څیر کتل کیږي او یا یې ټولنیز موقف له لاسه ورکړی. د لغمان له ولایت څه یوې ۲۸ کلنې ښځې و ویل:

*"یوه اونۍ زما د میړه له مرګ څخه وروسته زما د لیورونو ښځو له ما سره بد چلند پیل کړ. دوي هر چا ته ویل چې دوي زما او زما د ماشومانو په وړاندې هیڅ مسوولیت نه لري. دغه وضعیت د یوې بلې اونۍ لپاره هم دوام وکړ. د دوي له بد چلند څخه زه تنګه شوم او د خپل پلار کور ته لاړم. ما نه شو کولای چې د دوي بد چلند او سپکاوي وزغم. کله چې زما میړه ژوندی و ، دوي ټول ډیر ښه وو خو د هغه له مرګ سره هر څه بدل شول."*[۳۷]

سره د دې ، چې د دوي په شرایطو کې بدلون راغلی او بدتره شوي ، ځینو ښځو د دې راپور ورکړی چې ټولنې د دوي حالت لپاره تفاهم لري. ډیری ښځو ویلي دي چې د دوي په وړاندې له زغم څخه کار اخیستل کیږي ، خو ځینو نورو بیا د دوي په وړاندې د ټولنو له خوا د ډیر ناوړه چلند راپور ورکړی. له څلورو تنو څخه یوې ویلي چې دوي نهاد یا خیریه موسسې ته د مرستې لپاره ورغلې ، خو یوازې یوې ښځې مرسته تر لاسه کړې.

د وسله وال تاوتریخوالي په پایله کې مرګ او ژوبلې په افغاني کورنیو ډیرې منفي اغیزې کړې دي. کله چې له دوي څخه وپوښتل شول چې تاسې کومو بیړنیو مرستو ته اړتیا لرئ ، مرګه شویو ښځو د لومړیتوب په ډول دا لاندې اړتیاوې بیانې کړې: مالي مرستې ، خواړه ، د سون او تودوخې توکي ، کورونه ، او د دوي د ماشومانو لپاره تعلیم. یوناما د اړونده حکومتي موسسو څخه په ټینګار سره غوښتنه کوي چې د وسله وال تاوتریخوالي په پایله کې د متاثره شویو ښځو او ماشومانو د بنسټیزو اړتیاوو په رفع کولو کې د لومړیتوب له مخې مرستې وکړي.

[۳۷] د یوناما مرکه له ۲۸ کلنې ښځې سره چې د پنځو ماشومانو مور ده ، لغمان ولایت ، نوومبر ۱۰ ، ۲۰۱۴

**ماشومان او وسله والې نښتې**

*سهار د وخته شاوخوا اته نيمې بجې وې؛ زه په خپل کور کې ويده وم چې د يوې چاودنې غږمې واوريد. زه په بيړه را و وتم چې وګورم څه پيښيږي او و مې ليدل چې د لسو ماشومانو يوه ډله خواره واره پرته ده، د کلي په نا پاکه سړک باندې په وينو کې لت پت پراته دي. د دوي په منځ کې زما درې زامن هم وو. له دوي څخه يو مړ و او دوه نور يې ژوبل شوي وو.*[38]

-- د هرات ولايت د ګلران په ولسوالي کې يو پلار چې يو زوي يې مړ او دوه نور يې د ځاى پر ځاى شويو چاوديدونکو توکو په ذريعه ژوبل شوي وو، ۳ جولای، ۲۰۱۴: درې ماشومان وژل شوي او اووه تنه نور ژوبل وو. ټول يې د ريو او ۱۲ کلونو په منځ کې وو.

**وژنې او ټپي کېدنه**

په ۲۰۱۴ کې يوناما په بې ساري ډول په لوړه کچه د وسله وال تاوتريخوالي پيښې مستندې کړي چې ماشومان ورڅخه متاثره شوي دي. په ټوليز ډول په ۱۰۶۵ پيښو کې د ماشومانو د تلفاتو شمير ۲۴۷۴ (۷۱۴ وژل شوي او ۱۷۶۰ تنه ژوبل شوي) تنو ته ورسيد. دغه شمير له ۲۰۰۹ راهيسي چې کله يوناما د ملکي تلفاتو په مستند کولو پيل کړى، د ماشومانو په ملکي تلفاتو کې تر ټولو لوړه کچه ده. د ۲۰۱۳ کال په پرتله د ماشومانو په تلفاتو کې ۴۰ سلنه زياتوالى راغلى دى.[39] په اوسط ډول نږدې اووه تنه ماشومان هره ورځ د وسله وال تاوتريخوالي په پيښو کې وژل شوي يا ژوبل شوي دي.

د ځمکنيو نښتو له امله د ماشومانو په تلفاتو کې ۶۵ سلنه[40] زياتوالى راغلى، چې يوناما ۱۰۶۴ تلفات (۲۵۹ وژنې او ۸۰۵ ژوبلې) ثبتې کړي او په دې ډول دغه تاکتيک د ماشومانو په تلفاتو کې تر ټولو لوى لامل و چې د دې تلفاتو د ټول شمير ۴۳ سلنه جوړوي.

د ځاى پر ځاى شويو چاوديدونکو توکو له امله هم د ماشومانو په تلفاتو کې زياتوالى څرګند شوى، چې له ۲۰۱۳ سره په پرتله کې ۲۱ سلنه ډېروالى ښيي.[41] ځاى پر ځاى شوي چاوديدونکي توکي دوهيم لوى لامل و، چې د ماشومانو د تلفاتو سبب ګرځيدلي او د دوي په ټول شمير کې ۲۵ سلنه تلفات جوړول چې په ۲۰۱۴ کې له دې درکه اوښتي دي.

**له جګړې څخه چاوديدونکي پاتې شوني**

له پخوانيو او اوسنيو جګړو څخه چاوديدونکي پاتې شوني په پرلپسې ډول افغان ماشومانو ته سخت زيانونه اړوي. ناچاودو توکو ۳۲۷ تلفات ماشومانو ته اړولي (۹۷ وژنې او ۲۳۰ ژوبلې) چې د ۲۰۱۳ کاله په پرتله ۱۴ سلنه زياتوالى

[38] د يوناما مرکه، ۶ جولای، ۲۰۱۴
[39] په ۲۰۱۳ کې يوناما ۱۷۶۴ تلفات (۵۶۴ وژنې او ۱۲۰۰ ژوبلې) مستند کړي دي.
[40] په ۲۰۱۳ کې يوناما د ماشومانو ۶۴۶ تلفات مستند کړي (۱۴۰ وژنې او ۵۰۶ ژوبلې)
[41] په ۲۰۱۳ کې يوناما له جګړې څخه د پاتې شونو په پايله کې د ماشومانو ۶۲۰ تلفات مستند کړي (۱۹۲ وژنې او ۴۲۸ ژوبلې)

ځرګندوي.[٤٢] ناچاودي توکي درېیم لوي لامل و چې (له ځمکنیو نښتو او ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو څخه وروسته) چې ماشومانو ته یې تلفات اړولي او د دغو ټولو تلفاتو ۱۳ سلنه یې جوړوله.

### جنسي تیري او د جنسي تاوتریخوالي نورې بڼې

یوناما په پرلپسې ډول په جګړو کې د ښکیلو خواوو له اړخه د ماشومانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي ځینې پېښې مستندې کړې دي. د یوناما د مشاهدې له مخې دغه ډول جرمونه بې ځوابه پاتې شوي دي ، چې د رسمي چارواکو له خوا د مجرمینو په تعقیب او مجازات کولو کې غفلت ، کلتوري بدنامي او بې ځایه شرم ، له غچ اخیستنې څخه ویره د ارجاعي میکانیزمونو او خدمتونو نشتوالی ، په تیره بیا په نا امنو سیمو کې منعکسوي.

سره له دې چې د راپورونو په کمښت باندې اعتراف کوي ، یوناما د ماشومانو په وړاندې د نښتو په دوران کې د جنسي تاوتریخوالي ۵ پیښې تصدیق کړي [٤٣] چې څلور پیښې د سیمه ییز پولیسو له خوا او یوه یې د حکومت پلوه وسله وال ګروپ د یوه غړي له خوا رامنځ ته شوي.

- د مارچ په ۱۷ ، د سیمه ییزو پولیسو یو تن په یوه اووه کلن هلک باندې د حملې او جنسي تیري د هڅو په جرم د لغمان ولایت د مهتر لام په ښار کې په لسو کلونو بند محکوم شو. د نومبر په ۹ سترې محکمې د بند موده پنځو کلونو ته راټیټه کړه.
- د مۍ په ۶ ، یوه ۱۵ کلن هلک او د ده کورنۍ یوناما ته راپور ورکړی چې هلک په جبري ډول د حکومت پلوه وسله والې ډلې د غړو له خوا د کندز ولایت د قلعه زال په ولسوالۍ کې په لیکو کې شامل شوی او د دوی له خوا په مکرر ډول پرې جنسي تیری شوی. دغه تیري پنځه ورځې دوام موندلی ترڅو هلک په تېښته بریالی شو. د هلک مشر ورور له وسله والې ډلې څخه غوښتي وو چې د ده د ورور په ځای هغه په خپلو لیکو کې شامل کړي ، ځکه چې هغه خام هلک دی ، خو ورته ویل شوي دي چې یوازې کشر ورور کولی شي "د دوي شهواني غوښتنې پوره کړي". په دې پېښه کې هیڅوک نه دي نیول شوي.

### وسله واله ځواکونو او ډلو ته د ماشومانو جلبول او له هغو ګټه اخیستل

په ۲۰۱۴ کې په ټول هیواد کې مشاهده شوي چې ماشومان هم په جنګي نقش کې او هم د کومکیانو په څېر استخدام شوي. په وسله والو نښتو کې د ماشومانو په حقونو د جدی سرغړونو د څارنې او راپور ورکونې لپاره د ملګرو ملتونو هیوداني کاري ځواک د دولت ضد عناصرو له خوا د جلبولو ۴۱ قضیې د افغان امنیتي ملي ځواکونو له خوا ۵ قضیې او د حکومت پلوه وسله والې ډلې له خوا یوه قضیه ثبته کړې ده.

دولت ضد عناصرو په دوام داره توګه ماشومان جلب کړي دي چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په جوړولو ، انتقال او ښخولو او د ځانمرګي بریدونو په کولو کې ورڅخه ګټه واخلي. د مثال په ډول ، د اګست په ۲۳ ، د غزني ولایت د غزني په ښار کې طالبانو درې هلکان (هویت یې ناڅرګند و) ګمارلي وو چې په لاسي کراچۍ کې د فشار په ذریعه ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي ولیږدوي. ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي له وخت څخه د مخه وچاودیدل او دوه هلکان چې عمرونه یې ۶ او لس کاله و ووژل او درېیم یې ، یو اته کلن هلک ژوبل شو.


[٤٢] په ۲۰۱۳ کې له جګړې څخه چاودیدونکو پاتې شونو ماشومانو ته ۲۸۷ تلفات اړولي (۹۳ وژنې او ۱۹۴ ژوبلې)
[٤٣] په ۲۰۱۳ کې په مستندو څلورو قضیو برسیره یوه بله قضیه

يوناما د افغان ملي پوليسو له خوا د ماشومانو د جلبولو او د د تصديق شوو  قضيو په اړه په راپورونو کې په پرلپسې ډول کمښت مشاهده کړی. په ۲۰۱۴ کې يوازې يوه قضيه د افغان ملي پوليسو په اړه او يوه بله قضيه د سيمه ييزو پوليسو په اړه تصديق شوې چې د ۲۰۱۳، ۲۰۱۲ او ۲۰۱۱ کلونو په پرتله يو ښکاره کمښت ښکاره کمښت څرګندوي ځکه چې په دې کلونو کې په ترتيب سره ۱۳ اووه او شپږ قضيې ثبتې شوې. څرنګه چې زياتره قضيې له راپورونو څخه پاتې کيږي ، ځکه دغه شمير ښايي د دواړو ځواکونو له خوا د ماشومانو د جلبولو واقعي اندازه و نه شي ښولای.

سره د دې چې حکومت ډيرې ژمنې کړي دي او د کم عمر کسانو د استخدام د منع لپاره د عمل د پلان په تطبيق کې ښکاره پرمختګونه راغلي ، خو ننګونې لا په ځای پاتې دي.[٤٤] د ۲۰۱۵ کال د فبروري په ۲ افغان ولسمشر اشرف غني يو قانون توشيح کړ چې له مخې يې د افغان امنيتي ځواکونو له خوا د نابالغو هلکانو جلبول جرم ګڼل کيږي.[٤٥] دغه قانون د افغانستان د ولسي جرګې له خوا د ۲۰۱۴ د نوومبر په لومړۍ نېټه او د مشرانو جرګې له خوا د ډسمبر په ۱۳ تصويب شو ، يوناما د دې قانون تصويب ستايي چې په افغانستان کې د ماشومانو د جلبولو د منع په اړه يوه مهمه پيښه ده او د عمل د پلان د تطبيق په اړه د حکومت له خوا په هلو ځلو کې يو مهم پرمختګ دی.

### له جګړو څخه چاوديدونکي پاتې شوني

له جګړو څخه د چاوديدونکو پاتی شونو[٤٦] له امله د ملکي تلفاتو په شمير کې له ۲۰۱۲ راهيسې دوه برابره زياتوالی راغلی. په ۲۰۱۴ کې يوناما د ناچاودو توکو د چاودېدنې ۱۸۵ جلا پيښې تصديق کړې چې په ۴۲۲ ملکي تلفاتو (۱۲۴ وژنې او ۲۹۸ ژوبلې) تمام شول او دغه شمير د ۲۰۱۳ په پرتله ۲۰ سلنه زياتوالی څرګندوي.[٤٧] له ۲۰۰۹ راهيسې له کله چې يوناما په سيستماتيک ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پيل کړي ، د ناچاودو توکو له امله دغه شمير تلفات تر ټولو لوړه کچه څرګندوي.




[٤٤] د ټولنيزو او اقتصادي شرايطو کمزوري چې کورنۍ دې ته اړ باسي چې خپل ماشومان ملي امنيتي ځواکونو ته استوي ؛ د افغان ملي امنيتي ځواکونو محدود ظرفيت چې د عمر اندازه وټاکي ، د ځرګندو پاليسو نشتوالی ، د احتساب نشتوالی ، او د زيږون د تصديق د پاڼو نشتوالی او په اسانۍ سره د هويت د سندونو جعل له بنيادي ننګوونو څخه دي.

[٤٥] افغان امنيتي ځواکونو ته د نابالغه کسانو جلبول د هغو کسانو جلبولو ته اشاره کوي چې عمر يې له ۱۸ کلونو (۰-۱۷) کم وي.

[٤٦] له جګړې څخه چاوديدونکی پاتې شوني ناچاوی توکو او پريښودل شويو چاوديدونکو توکو ته اشاره کوي.

[٤٧] په ۲۰۱۳ کې يوناما ۳۵۱ ملکي تلفات مستند کړي (۱۱۶ وژنې او ۲۳۵ ژوبلې) چې په ۱۶۴ پيښو کې رامنځ ته شوي.

له ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو څخه وروسته له جنګ څخه پاتې ناچاودو توکو د بل هر ډول پېښې په پرتله ډېر شمیر ملکی کسان وژلي یا ژوبل کړي دي. له جګړو څخه چاودیدونکو پاتي شونو له امله د ۴۲۲ وژنو او ژوبلو څخه ۷۷ سلنه ماشومان وو چې ۳۲۷ تنه تلفات (۹۷ وژنې او ۲۳۰ ژوبلې) یې درلودل او د ۲۰۱۳ په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالی ښیي.[٤٨]

په ډېرو مواردو کې ، ماشومانو یا لوبې کولې او یا یې د اوسپنې ټوټې راټولولې چې ویې پلوري. څرنګه چې ډېر ماشومان د کورنیو له عایداتو سره په دې ډول مرسته کوي چې دوي د اوسپنې ټوټې یا د سون لرګي راټولوي او یا مالونه د څړ لپاره وباسي ، او له کورونو څخه بهر لوبې کوي ، په دې ډول دوي د ناچاودو توکو له احتمالي خطر سره مخامخ کیږي. د مثال په ډول ، د ډسمبر په ۷ د ماشومانو یوې ډلې د کندهار ولایت د ډنډ په ولسوالي کې یوه نا چاودې ټوټه موندله ، کله چې دوي له هغې سره لوبې کولې هغه وچاودله او دوه هلکان یې و وژل (عمرونه یې ۸ او ۱۰ کاله و) او دوه نور یې ژوبل کړل (عمرونه یې ۷ او ۹ کاله وو). د جولای په ۳ ، درې هلکان چې ۱۲ ، نهه او اته کلن وو ، په هغه وخت کې د ناچاودي توکي په ذریعه ټپیان شول چې د هرات ولایت د ګذرې په ولسوالي کې د ایساف په پخواني تمرین ځای کې یې لوبې کولې.

**ځمکنۍ جګړې او د جګړو څخه د چاودیدونکو پاتې شونو له امله د ملکي تلفاتو زیاتوالی**

که څه هم د ۲۰۰۱ کال څخه د مخه جګړو څخه چاودیدونکي پاتي شوني تر ډېره بریده کم شوي وو ، د ماین پاکې سازمانونه اټکل کوي چې د ۲۰۰۱ کال څخه د مخه جګړو څخه پاتې ناچاودي توکي ۸۰ سلنه ایستل شوي دي.[٤٩] یوناما له ۲۰۰۹ راهیسې په پرلپسې ډول د پرېښودل شویو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي کسانو په تلفاتو کې زیاتوالی ثبت کړی دی. یوناما مشاهده کړې ده چې دغه زیاتوالی د ملکي خلکو د هستوګنې په سیمو کې د ځمکنیو جګړو له ډېروالي سره تړاو لري. په جګړه کې ښکیلې خواوې ډېر ځله د جګړو له ساحو څخه ناچاودي توکي نه ایسته کوي او یا له جګړو څخه وروسته هغه ساحې د خطرناکو هغو په څېر نه نښاني کوي چې په دې ډول ډېر ځله دغه ساحې د ملکي تلفاتو سبب ګرځي.

یوه بېلګه چې په ځمکنیو نښتو کې له جګړو څخه پاتې چاودیدونکي توکي د شومره ډېرو تلفاتو لامل ګرځي ، د هلمند ولایت د سنګین په ولسوالي کې مستنده شوه. د سنګین په ولسوالي کې سختې مخامخ جګړې وشوې چې په ۲۰۱۴ کې یې ۴۵۵ ملکي تلفات وکړل. دغه شمیره د ۲۰۱۳ په پرتله نږدې لس ځله زیاته وه. یوناما په ۲۰۱۴ کې په سنګین ولسوالي کې له ناچاودو توکو څخه ۱۵ ملکي تلفات ثبت کړي ، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۳ کې د دغو تلفاتو شمیر یوازې یو و. د مثال په ډول ، د نوومبر په ۱۳ یوې ډلې ماشومانو له ناچاودو توکو سره د سنګین په ولسوالي کې لوبې کولې ، کله چې وچاودله ، لس تنه ماشومان یې ټپیان کړل ، دوه هلکان او اته نجونې وې او ټول له ۱۶ کلونو څخه ټیټ وو.

**له جګړو څخه د چاودیدونکو پاتي شونو له امله د ملکي تلفاتو نمونې:[٥٠]**

- د اګست په ۲۷ ، د هاوان یوه مرمۍ په هغه وخت کې د بدخشان ولایت ، د وردوج په ولسوالي کې وچاودله ، کله چې ماشومانو هغې ته لاس ور وړ ، چې نهه تنه ملکي تلفات (درې تنه و وژل شول ، چې دوه یې هلکان و ، او ۶ تنه نور یې ټپیان شول) یې درلودل.

[٤٨] په ۲۰۱۳ کې یوناما ۲۸۷ د ماشومانو تلفات (۹۳ وژنې او ۱۹۴ ژوبلې) مستند کړي دي.
[٤٩] د جګړو څخه پاتې شویو چاودیدونکو توکو کاري ګروپ ۲۵ جنوري ۲۰۱۵.
[٥٠] له جګړو څخه پاتې د ناچاودو توکو مثالونه هغه پیښې رانغاړي چې اوسنیو جګړو (له ۲۰۰۱ راهیسې) او په پخوانیو نښتو کې (له ۲۰۰۱ څخه پخوا) پیښې شوې دي.

- د اکتوبر په ۱۱ ، د بدخشان ولایت د کشم په ولسوالي کې یو ناچاودی توکی هغه مهال وچاود کله چې یوې ډلې ماشومانو هغه اورته وغورځاوه. دغې چاودنې اووه ملکي تلفات ورکړل (درې ماشومان و وژل شول او څلور سرړي ټپیان شول).
- د نوومبر په ۹ ، یوې پنځه کسیزې ډلې هلکانو د غزني ولایت د اندړو په ولسوالي کې له یوې ناچاودې ټوټې سره چې له اوسنیو جګړو څخه پاتې شوې وه ، لوبې کولې ، دغه ټوټه وچاودیدله او ټول هلکان یې ټپیان کړل. څو تنه یې ډیر سخت ژوبل شول.

**د پالیسیو اړتیاوې چې په جګړو کې ښکیلو خواوو ته وښیې چې خطرناکې ساحې په نښه او ناچاوده توکي ایسته کړي**

د جګړې د ساحو په نښه کولو او د ناچاودو توکو په ایسته کولو کې د بیرته پاتې کیدلو یو دلیل دا کیدای شي چې له دې کار سره عادت نه لري او داسې یوه پالیسي د حکومت له خوا نشته چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته وښیې چې له جګړې څخه د چاودیدونکو توکو پاتې شونو ساحې په ګوته او هغه په نښه کړي ، د هغو نښتو په ګډون چې د وسلو داسې سیستمونه کار وي چې ناچاودې مرمۍ اوروي. دغه ډول پالیسي کولای شوای چې له ناچاودو توکو په ذریعه د ملکي کسانو له تلفاتو څخه مخنیوی وکړي.

**د ځینو دودیزو وسلو په رابطه کنوانسیون او له جګړو څخه د پاتې ناچاودو توکو پنځم پروتوکول**

د نا چاودو توکو له امله په ملکي تلفاتو کې په پرلپسې زیاتېدو سره ، یوناما د دې سپارښتنه کوي چې افغانستان د ځینو دودیزو وسلو د ۱۹۸۰ کال د کنوانسیون په اړه له جګړو څخه د پاتې ناچاودو توکو پنځم پروتوکول غړیتوب تر لاسه کړي.[۵۱] دغه پروتوکول له جګړو څه د پاتې ناچاودو توکو له امله سختې بشري پایلې پیژني او داسې لارښوونې کوي چې له جګړو څخه د پاتي ناچاودو توکو پیښې د هغوی اغیزې او خطرونه کم کړي.

د پنځم پروتوکول په غړیتوب سره غړي هیوادونه د دې مکلفیت پیدا کوي چې له جګړو څخه پاتې ناچاوده توکي له هغو ساحو څخه پاک ، ایسته یا تخریب کړي چې د دوي په کنترول کې وې. د پنځم پروتوکول غړي هیوادونه مکلفیت لري چې له جګړو د پاتې چاودیدونکو توکو معلومات راغونډ او ثبت کړي او دارنګه په خپلو منځونو کې او له نورو دولتونو او سازمانونو سره له جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونو په پاک کولو ، ایسته کولو او تخریب کې همکاري وکړي.

**د ایساف د نظامي تمرین ځایونو بندول او پاک کول**

د ۲۰۱۳ کال په وسله والو نښتو کې د ملکي کسانو د ساتنې شپږ میاشتني راپور (یوناما) څرګندوي چې د ایساف په پالیسي کې داسې چوکاټ نشته چې له مخې یې له نظامي تمرین ځایونو څخه له بندیدو څخه مخکې د پاتې شویو ناچاودو توکو د پاک کولو په اړه لارښوونې وکړي.[۵۲] د ۲۰۱۳ په دوهیمه نیمایي کې او د ۲۰۱۴ په اوږدو کې ایساف څو داسې اقدامات ونیول چې دغه اندېښنې رفع کړي.[۵۳]

[۵۱] له جګړو د پاتې ناچاودو توکو پروتوکول (د ځینو دودیزو وسلو په اړه د ۱۹۸۰ کال کنوانسیون ، ۵ پروتوکول) ۲۸ نوومبر ، ۲۰۰۳. پر دغې ویب پاڼه د لاس رسي وړ دی: http://www.onug.ch/80256EE600585943/

[۵۲] د لوړو چاودیدونکو توکو نظامي تمرین ځای هغه ځای دی چیرې چې نظامي یا امنیتي ځواکونه د وسلو داسې سیستمونه کاروي چې چاودیدونکي مرمۍ لري ، د درنو وسلو په ګډون.

[۵۳] په ۲۰۱۴ کې د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ د سترلینګ موسسې له ۶۲۰۰۰ څخه زیاتو ملکي افغانانو ته د ناچاودو توکو په اړه د پوهاوي روزنه ورکړې. دغه پروګرام د ایساف د ماینونو سره د مقاومت د تعلیم د چوکاټ یوه برخه وه چې د تمرین د پاک کولو د عملیاتو سره په تړاو ترسره

د ایساف د لوړو چاودنو د تمرین ځایونو اکثریت یې د افغان امنیتي ځواکونو ته سپارل شوي دي. پاتې ۱۰۲ تمرین ځایونه د شپږ ملکونو تر مسوولیت لاندې دي- ۸۴ د امریکې د متحده ایالاتو تر مسوولیت او ۱۸ یې د نورو پنځوو هیوادو مسوولیت دی.

د ۲۰۱۵ د جنوري راهسې د امریکې د متحده ایالاتو په اتو تمرین ځایونو کې سروې لا نه وه پوره شوې ، دوه لا تر دې وخته فعال وو ، ۷۴ سروې شوي وو ، ۴۵ یې سرسري پاک شوي وو ، پنځه هغه د سرسري پاکونې لاندې و ، ۲۳ نورو د ځمکې پر مخ سروې بشپړه کړې او د افغانستان د ماین پاکي او همغږي د مرکز (ماکا) له خوا تایید شوې وو او یو بل یې د ځمکې د سطحې لاندې سروې بشپړه کړې او د ماکا له خوا تصدیق شوې وه.

د ۲۰۱۴ په اکتوبر کې د امریکې د متحده ایالاتو کانګرس ۲۵۰ میلیونه ډالر د دې لپاره منظور کړل چې د ځمکې د سطحې لاندې سروې (چیرې چې ضروري وي) د لوړې کچې د چاودیدونکو توکو په تمرین ځایونو کې ترسره شي. د امریکې د متحده ایالاتو لومړنۍ ژمنې چې ټول ۸۴ تمرین ځایونه به د ځمکې په سطحه او د سطحې د لاندې د ۲۰۱۵ د ډسمبر تر مخه پاک کوي ، ښایي تر دې نېټې د مخه پوره شي. د ایساف سره مرسته کوونکي نورو هیوادونو هم ژمنه کړې ده چې په لنډ وخت کې به تمرین ځایونه پاک کړي او له ماکا څخه به یې تصدیق تر لاسه کړي.

یوناما د ایساف له خوا د تمرین ځایونو په پاک کولو او د تصدیق په تر لاسه کولو کې دغه پرمختګ ستایي او د غوڅ ملاتړ له ماموریت څخه غواړي چې دغه پروسه ډیر ژر بشپړه کړي څو له جګړې څخه د پاتې ناچاودو توکو په ذریعه د افغان ملکي کسانو د تلفاتو کچه راټیټه شي. دغه راز یوناما په هغو ملکونو چې د ماکا له خوا تصدیق کولو ته ژمن نه دي ، غږ کوي چې دغه ژمنې وکړي او د یوه خپلواک بهرني همکار تضمین په دې اړه تر لاسه کړي چې د پاک کولو پروسه په سم ډول شوې او ساحه د ځایي تولنو لپاره بې خطره ده.

**د بشرپالنې د ماین پاکانو په ضد بریدونه**

> *۲۰۱۴ کال د افغانستان په اوږد او طوفاني تاریخ کې د عطف یوه نکته شمیرل کیدای شي ، دا یو کال و چې په کې ټاکنې وشوې ، ایساف له دې هیواد څخه ووت او افغانان پخپله پریکړې کوي. خو په دغه کال کې دغه راز ډیری امنیتي پیښې هم ثبتې شوې ، داسې پیښې چې د افغانستان د ماین پاکي پروګرام یې له ډیرو بې ساري ننګونو سره مخامخ کړ.*[54]
>
> -- د افغانستان د ماین پاکي او همغږي د مرکز وینا ، جنوري ۲۰۱۵ [55]

په ۲۰۱۴ کې یوناما ۱۷ داسې بریدونه مستند کړي دي چې په عمدي ډول یې ماین پاکان هدف ګرځولي وو او ۵۱ ملکي (۳۴ وژنې او ۱۷ ژوبلې) تلفات یې اړولي. دولت ضد عناصرو دغه بریدونه ترسره کړل او طالبانو د دوو هغو مسوولیت منلی دی.[56]

---

شوی . دې پروګرام د ناچاودو توکو د خطر په اړه همدارنګه په دې لړ کې چې له ناچاودو توکو سره که په تولنه کې وموندل شي څه باید وشي ، روزنه برابره کړې.

[54] دغه وینا د افغانستان د ماین پاکي او همغږي د مرکز له خوا خپره شوې "د افغانستان د ماین پاکي او همغږي د مرکز لپاره د زیان او تراژیدي کال" ۲۰ جنوري ، ۲۰۱۵. په دغې ویب پاڼې د لاس رسي وړ ده: http://www.macca.org.af/macca/blog/a-year-of-loss-and-tragedy-for-the-mine-action-programme-of-afghanistan/

[55] پروژه د ملګرو ملتونو د ماین پاکي د خدمتونو (یو این ایم ای ایس) له خوا تنظیم شوې.

په ۱۷ مستند شویو بریدونو کې نهه تښتونې او پنځه داسې موارد شامل وو چې دولت ضد عناصرو په قصدي ډول ماین پاکان وژلي دي ، په پاتې بریدونو کې یوه پیچلې حمله ، له دې سره موازي د قضایي تشکیلاتو د جزا یوه پیښه او یوه پېښه د تهدید او بیروني شامله وه.د افغانستان په مر کزي سیمو کې زیاتې پیښې وشوې چې شمیر یې شپږو ته ورسید ، ورپسې په جنوبي افغانستان کې پنځه پیښې ، په ختیځ او لویدیځ افغانستان کې په هره برخه کې درې پیښې رامنځ ته شوې دي.

په دریو جلا پیښو کې په لوګر ، هلمند او هرات ولایتونو کې دولت ضد عناصرو د ماین پاکانو د بشرپالنې ډلې چې د مایونونو په پاک کولو بوخت وو ، ته کمین نیولی و. د مثال په ډول د ډسمبر په ۱۳ دولت ضد عناصرو د هلمند ولایت د واشیر په ولسوالي کې د ماین پاکانو په یوې ډلې چې ناچاودي توکي یې ایسته کول برید وکړ او ۱۱ تنه یې و وژل او ۶ نور یې ټپیان کړل. له دې برید وروسته د دولت ضد عناصرو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ جګړه وشوه.

د بشرپالنې نړیوال قانون په ښکاره ډول په ملکي کسانو قصدي بریدونه منع کوي او وايي چې دغه ډول بریدونه کیدای شي چې په جنګي جرمونو کې وګڼل شي. په ملکي ماین پاکانو بریدونه نه یوازې ناقانونه بریدونه دي ، بلکه د دوي هغه مهم او ژوند ژغورونکي فعالیتونه چې د افغان ټولنو لپاره یې کوي ، هم له ګواښ سره مخ کوي. په دې ډول بریدونو سره به افغانان نور هم د ماینونو او له جګړو څخه د ناچاودو توکو له خطر سره مخامخ شي.

**د ماین پاکانو په وړاندې د بریدونو نمونې**

- د جنوري په ۲۱ ، طالبانو د هرات ولایت د پښتون زرغون په ولسوالي کې د ماین پاکانو یو ۶۶ کسیز ټیم وتښتاوه او ۷ ساعته وروسته یې د قومي مشرانو د منځګړیتوب له لارې پریښودل. طالبانو د دې پیښې مسوولیت ومانه او زیاته یې کړه چې دوي ماین پاکان په تیروتنې په هغه کمین کې نیولي وو چې دوي د "دښمن د لښکرو" لپاره جوړ کړی و ځکه چې دوي له برید څخه مخکې د هغو له موجودیت څخه خبر نه وو.
- د جولای په ۱۰ دولت ضد عناصرو د ماین پاکانو په یوه ټیم برید وکړ ، کله چې دغه ټیم د هرات ولایت د کهسان په ولسوالي کې د ماین پاک کولو سیمې ته په لار و. برید کوونکو ۶ تنه ماین پاکان و وژل په دې کې ډریوران او امنیتي بدرګه کوونکي شامل وو او یو بدرګه کوونکی ژوبل شو. دوي وروسته درې تنه نور کارمندان وتښتول او بیایې خوشې کړل.
- د جون په ،د دولت ضد عناصرو د لوګر ولایت د محمد ا ـ غې ولسوالي کې د مان پاکانو یو ټیم چې په ساحه کې په کار بوخت و تر برید لاندې ونیو او ۱۱ تنه ماین پاکان یې و وژل او درې نور یې ژوبل کړل.

**د جګړو له امله د ملکي کسانو بې ځایه کیدنه**

د داخلي بې ځایه شویو خلکو په اړه د افغانستان کاري ځواک په ۲۰۱۴ کې د جګړو له امله ۱۵۶۱۹۳ ملکي بې ځایه شوي کسان ثبت کړي دي.[۵۷] دغه شمیر د ۲۰۱۳ په پرتله ۸ سلنه زیاتوالي څرګندوي ، کله چې د جګړو له امله د

[۵۶] لاندنی قضیې د نمونې په ډول وګورئ
[۵۷] د داخلي بې ځایه شویو کسانو کاري ځواک د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د غالي کمیشنري او د افغانستان د کډوالو او راستنیدونکو چارو د وزارت له خوا په ګډه رهبري کیږي. دغه ځواک یو میکانیزم کاروي چې له مخې یې د داخلي بې ځایه شویو کسانو هویت څرګندوي او مرستې ورسره کیږي.

داخلي بې ځایه شویو کسانو شمیر ۱۴۲۲۸۴ تنه و.[۵۸] د ۲۰۱۴ تر ډسمبر پورې د داخلي بې ځایه شویو کسانو شمیر په افغانستان کې ۸۰۵۴۰۹ تنه و.

د داخلي بې ځایه کېدنې تر ټولو مهم لامل د راپورونو له مخې د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو ترمنځ ځمکنۍ جګړې (په دې جګړو کې د لویې پیماني عملیات او د کمې کچې تیت پرکې جګړې دواړه شاملې دي)، ډارونې او تهدیدونه د دولت ضد عناصرو له خوا او د دولت ضد عناصرو په خپلو منځو کې قومي شخړې شاملې وې. عمومي نا امني ، جنایتونه او د پولې په اوږدو کې د ډزو تبادله (په خاص ډول په ختیځو سیمو کې) د داخلي بې ځایه کېدنې له نورو لاملونو څخه شمیرل کیږي.

د بې ځایه کیدنې شکلونه په عمومي ډول محلي پاتې شوي دي په دې مانا چې داخلي بې ځایه شوي کسان یا له کلیوالي سیمو څخه ولایتي مرکزونو ته یا په یوه سیمه کې له یوه ولایت څخه بل ولایت ته کوچېدلي دي.

په ۲۰۱۴ کې د داخلي بې ځایه شویو کسانو لوی شمیر د افغانستان په مرکزي سیمو کې و ، ځکه د دولت ضد عناصرو د زیاتو فعالیتونو په پایله کې افغان ملي امنیتي ځواکونو د کاپیسا ، میدان وردګ او لوګر ولایتونو کې نظامي عملیات پیل کړل. په جنوبي سیمه کې د طالبانو د بریدونو په وړاندې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو په پایله کې په هلمند ولایت او د کندهار ولایت په هغو ولسوالیو کې چې له هلمند سره پوله لري ، زیات شمیر خلک بې ځایه شول.

په شمالي سیمو کې هم زیات شمیر خلک په داخل کې بې ځایه شوي دي ، چې په دې سیمه کې د فاریاب ولایت تر ټولو زیات شمیر داخلي بې ځایه شوي کسان درلودل. په ۲۰۱۴ کې نوې پیښې په کندز (شمالي سیمه) کې هم د داخلي بې ځایه شویو کسانو لوی شمیر څرګندوي.

په لویدیځه سیمه کې داخلي بې ځایه کیدنې په هغو ځایونو کې دوام موندلی چې په دودیز ډول په ۲۰۱۴ کې د وسله والو شخړو څخه اغیزمن شوي وو لکه د فراه ، غور او بادغیس ولایتو نه ، خو د امنیتي وضعې د خرابیدو له امله په هرات ولایت کې هم بې ځایه کیدنه په هغو برخو کې رامنځ ته شوه چې پخوا یې امنیت ښه و. په همدې ډول په سهیل ختیځ کې په ځانګړي ډول د غزني په ولایت کې بې ځایه کېدنې ډیرې وې .

### د پولې د پورې غاړې نښتې

په ۲۰۱۴ کې له پاکستان څخه د افغانستان په سیمه کې ډزو ملکي کسانو او د دوی ملکیتونو ته ډیر زیانونه اړولي. یوناما په ۲۰۱۴ کې د پولې په اوږدو کې ۴۱ پیښې ثبتې کړې چې ۸۲ ملکي تلفات (۱۱ مړینې او ۷۱ ژوبلې) یې اړولي ، چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۱۲۲ سلنه زیاتوالي څرګندوي.[۵۹] د دغو پیښو ډیری د ۲۰۱۴ په دوهیمه نیمایي کې رامنځ ته شوي دي.

له ۴۰ پیښو څخه چې د پاکستان له خوا د افغانستان په سرحدي سیمه د ګولیو وارونه شوي دي ، یوناما ۳۹ داسې پیښې د کنړ په ولایت او یوه هغه یې د خوست په ولایت کې ثبته کړې ده. یوناما د پاکستاني چورلکو په ذریعه د هوایي بمبارد یوه پیښه مستنده کړې ده چې د خوست ولایت ګربزو په ولسوالي کې چې له پاکستان سره له پولې څخه نږدې دوه کیلومتره لرې پرته ده ، ځینې ملکي کورونه و ویشتل.

[۵۸] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري د داخلي بې ځایه شویو کسانو د کاري ځواک له خوا معلومات د بریښنالیک په ذریعه ، ۲۸ جنوري ۲۰۱۵.
[۵۹] په ۲۰۱۳ کې یوناما د ملکي تلفاتو ۳۷ (نهه وژنې او ۲۸ ژوبلې) د پولې په اوږدو کې د ډزو له امله مستند کړي دي.

که څه هم افغان چارواکو د پولې په دوارو خواوو کې نورې پیښې هم یادې کړې دي ، یوناما یوازې هغه پیښې مستندې کړې چې ملکي تلفات یې درلودل یا یې د ملکي کسانو ملکیتونو ته زیان رسولی او د ژوندانه وسایل یې تخریب کړي وي. دغه راز یوناما د کنړ ولایت د دانګام په ولسوالي کې نورې پنځه پیښې مستندې کړې دي ، چې ملکي تلفات یې نه درلودل ، خو څاروي تلف شوي او ملکي جایداد ته تاوان رسیدلی.

تر ټولو وروستۍ پېښه د ډسمبر په ۲۳ رامنځ ته شوه ، کله چې د پاکستان د اردو دریو چورلکو په افغان خاوره هوایي عملیات پیل کړل او د خوست ولایت د ګربزو په ولسوالي کې د دریو ملکي کسانو په کورونو بمونه وغورځول. که څه هم په دې عملیاتو کې ملکي کسان وژل شوي یا ټپیان شوي نه دي ، په بمباریو کې دریو کورونو زیان ولید ، درې عرادې موټر زیانمن شول او دوه څاروي تلف شول. ځایي سرچینو راپور ورکړی چې په نښه شوي کورونو په پاکستاني کډوالو پورې تړاو درلود ، چې په وروستیو کې د پاکستان له ساحې ، شمالي وزیرستان څخه د پاکستان نظامیانو د عملیاتو له امله ، هلته راکډه شوي وو.

د پولې په اوږدو کې د ډزو په ذریعه په متاثره شویو کلیو کې ملکي کسان له خپلو کورنیو څخه بې ځایه شوي دي. په ۲۰۱۴ کې د کنړ په ولایت کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري ۱۸۳ بې ځایه شوې کورنۍ ثبتې کړې دي (نږدې ۱۱۲۳ کسان)چې د پولې په اوږدو کې د متقابلو ډزو له امله بې ځایه شوي. دغه شمیر په ۲۰۱۳ کې ۱۱ کورنۍ وې.

د ۲۰۱۴ په اوږدو کې د پولې له دوارو خواوو ډزې په ټول افغانستان کې د خلکو د غوسې سبب وګرځېدل او د ټولنو او حکومت له خوا وغندل شول ، په تیره بیا د کنړ ولایت د دانګام او اسعد ا ـ باد په ولسوالیو کې. ځوانانو ، قومي مشران او مدني ټولنې د ننګرهار ولایت د جلال ا ـ باد او د کنړ ولایت د اسعد په ښارونو کې لاریونونه وکړل او د پاکستاني نظامي ځواکونو په ضد یې مظاهره وکړه او له افغان حکومت یې وغوښتل چې د پولې په اوږدو کې د ډزو په وړاندې جدي اقدامات وکړي.

**د پولې د هغه غاړې نه د ډزو نمونې چې ملکي تلفات یې درلودل**


- د سپتمبر په ۷ له پاکستاني لوری څخه ۵۰ د هاوان ګولۍ د کنړ ولایت د دانګام د ولسوالي په کورونو ولګیدلې چې اته ملکي تلفات (دوه وژنې ، یوه یې نجلۍ وه ، او شپږ ژوبلې ، یو سړی ، دوه ښځې او درې هلکان) یې درلودل.
- د سپتمبر په ۱۶ له پاکستاني لوري څخه د خوست ولایت د تیریزی په ولسوالي کې د خلکو په کورونو درې د هاوان ګولۍ ولګیدلې چې یوه ښځه یې و وژله او دوه ماشومان ، څلور کلن او پنځه کلن یې ژوبل کړل.
- د اګست په ۲۴ د پولې په دوارو خواوو کې ۲۵ د هاوان مرمۍ و ویشتل شوې چې یوه یې د کنړ ولایت د دانګام په ولسوالي کې په یوه کور ولګیده په دې چاودنه کې ۵ ملکیان ، دوه ښځې ، دوه سړي او یو درې کلن هلک ټپیان شول.

## ۲- په جګړه کې د ښکیلو خواوو ترمنځ ځمکنۍ نښتې[٦٠]: ملکي خلک د جګړو په منځ کې

*نیمه شپه وه او مور په خوب ویده وو. د هاوان یوه مرمۍ زموږ د خوب په کوټې ولګیده او زه او زما دوې کوچنۍ لوڼې یې ټپیان کړلو. ټول زموږ د خوب د خونې په لوري په منډه راغلل او ویې لیدل چې مور د خښتو او ډبرو په ټوټو کې پراته وو. دوي شروع وکړه چې مور له خاورو او خځلو څخه را وباسي چې دوېیمه مرمۍ ولګیده او زما دریېمه کوچنۍ لور او زما زوي یې ټپیان کړل. زما ښځه او زما وراره چې نه وو لګیدلي، له مور سره مرسته کوله او دریېمه مرمۍ په حویلۍ کې راپریوته. په دې ځلې یې زما ښځه و وژله او زما وراره او ځلورمه لور مې ټپیان کړل. زه نه پوهیږم چې څوک دغه راکټونه اوروي؛ طالبان او افغان ملي امنیتي ځواکونه دواړه د یو بل په وړاندې د هاوان مرمۍ او راکټونه اوروي. زه نور ژوند نه لرم، ځکه چې نه دومره پیسې لرم چې د خپلو ټپي ماشومانو درملنه وکړم او نه د دوي د تغذیې لپاره څه لرم.[٦١]*

-- یو سړی چې ښځه یې وژل شوې او ځلور لوڼې، یو زوي او یو وراره یې ژوبل شول کله چې د دوي په کور د هلمند ولایت د سنګین ولسوالي کې د هاوان څو ګولۍ هغه وخت ولګیدې چې د افغان امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ ځمکنۍ نښتې د جون په ۱۶ پیل شوې.

د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو شخړو شدت په ګڼ میشتو سیمو کې ملکي خلکو ته په ۲۰۱۴ کې ډیر زیانونه واړول چې د ځمکنیو جګړو له امله زیانونه د ۲۰۱۳ په پرتله له دوه برابره څخه زیات و.




[٦٠] په ځمکنیو نښتو کې متحرکه ځمکني عملیات، متقابلې ډزې، یا داسې بریدونه چې د متقابل لوري ګوزارونه خنثی او د ښکیلو خواوو ترمنځ نښتې شاملیږي چې بریدونه یا عملیات وي په کومو کې چې سپکې وسلې، درندې وسلې او/یا د وسلو ساحوي سیستمونه لکه هاوانونه او راکټونه اورول کیږي.
[٦١] د یوناما مرکه، ۳ دسمبر، ۲۰۱۴ کندهار

د ۲۰۱۴ په اوږدو کې يوناما په پرلپسې ډول د ځمکنيو نښتو په ترڅ کې په ملکي تلفاتو کې زياتوالي مستند کړی چې ۳۶۰۵ ملکي تلفات (۱۰۹۲ مړينې او ۲۵۱۳ ژوبلې) يې اړولي.[٦٢] دغه تلفات د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو ترمنځ[٦٣] د ځمکنيو نښتو په ترڅ کې اوښتي چې د ۲۰۱۳ په پرتله ۵۴ سلنه زياتوالي ښکاره کوي.

ځمکنيو نښتو په ۲۰۱۴ کې د ټولو ملکي تلفاتو۳۴ سلنه جوړوله او له بل هر تاکتيک څخه يې زياتې ملکي وژنې او ژوبلې رامنځ ته کړي دي.

يوناما په ملکي تلفاتو کې ډېر زياتوالی له هغو ځمکنيو نښتو او عملياتو او بريدونو څخه مستند کړي چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا شوي دي. يوناما ۹۲۱ ملکي تلفات (۳۳۶ وژنې او ۵۸۵ ژوبلې) حکومت پلوه ځواکونو ته منسوبې کړې چې په ۲۹۱ جلا ځمکنيو نښتو کې رامنځ ته شوې او د ۲۰۱۳ په پرتله ۱۴۱ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.[٦٤]

دغه راز يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا په ملکي تلفاتو کې زياتوالی هم مستند کړی چې د ځمکنيو عملياتو او بريدونو په ترڅ کې رامنځ ته شوي او ۱۵۵۱ ملکي تلفات يې ثبت کړي (۴۳۸ وژنې او ۱۱۱۳ ژوبلې) چې په ۲۹۱ جلا پيښو کې وې او د ۲۰۱۳ په پرتله[٦٥] ۵۱ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د ۲۰۱۴ په لومړۍ نيمايي کې له مستند شويو تمايلاتو سره سم د ځمکنيو نښتو په ترڅ کې د ښځو او ماشومانو د وژنې او ژوبلونې په پيښو کې زياتوالی ليدل کيږي چې يوناما تر بل هر کال د ماشومانو او ښځو زيات تلفات ثبت کړي چې د ځمکنيو نښتو په ترڅ کې رامنځ ته شوي.

په ملکي تلفاتو کې زياتوالی چې د ځمکنيو نښتو له امله رامنځ ته شوي په عموم ډول د ياغيانو او افغان امنيتي ځواکونو ترمنځ په جګړو کې د متقابلو ډزو په پايله کې پيښ شوي چې په وګړ ميشتو سيمو کې وې.

د ۲۰۱۴ په اوږدو کې ، يوناما له نړيوالو نظامي ځواکونو څخه افغان امنيتي ځواکونو ته د امنيتي مسووليت له ليږد سره سم د دښمنيو په چلند کې توپير او د ايساف له خوا په هوايي بمباريو کې کمښت ليدل دی. دولت ضد عناصرو په يو شمير سيمو کې خپل خوځښت چټک کړی او په افغان امنيتي ځواکونو يې ډېر بريدونه کړي چې سيمې لاندې کړي او نوې ساحې تر ولکې لاندې راولي.

### د ځمکنيو نښتو له امله د ښځو او ماشومانو په تلفاتو کې زياتوالی

په جګړو کې د ښکېلو خواوو له پلوه په ځمکنيو نښتو کې تېزوالی او ډېروالی د دې سبب ګرځېدلی چې ښځې او ماشومان په زيات شمير کې تلفات و ويني. ځمکنۍ جګړې په ۲۰۱۴ کې يو وتلی لامل و ، چې ښځې او ماشومان و وژل شي او يا ټپيان شي ، چې له بل هر تاکتيک څخه په دې ذريعه دوي ته پورته زيانونه رسيدلي. د ښځو زياتره تلفات د

---

[٦٢] په دغو ارقامو کې دغه راز له افغانستان سره د پولې په دواړو خواوو کې ډزې شامليږي چې د ځمکنيو نښتو له امله تر دوه سلنه کمه اندازه په ملکي تلفاتو کې ښيي.
[٦٣] يوناما په ۲۰۱۲ کې ۱۵۷۰ ملکي تلفات (۴۲۶ وژنې او ۱۱۴۴ ژوبلې) د ځمکنيو نښتو په ترڅ کې ثبتې کړې.
[٦٤] په ۲۰۱۳ کې يوناما ۳۸۲ ملکي تلفات (۱۰۲ وژنې او ۲۸۰ ژوبلې) دولت پلوه ځواکونو ته په ۱۳۶ جلا ځمکنيو نښتو کې منسوبې کړې.
[٦٥] په ۲۰۱۳ کې يوناما ۱۷۹۴ ملکي تلفات (۷۶۴ وژنې او ۱۰۳۰ ژوبلې) دولت ضد عناصرو ته د ځمکنيو نښتو په ۲۶۶ جلا جلا پيښو کې منسوبې کړې.

ځمکنیو نښتو له امله وو (۵۲۷ تلفات چې ۱۵۳ مړيني او ۳۷۴ ژوبلې وې)،[٦٦] چې ۵۷ سلنه زياتوالي څرګندوي او په ۲۰۱۴ کې د ټولو ملکي تلفاتو ۵۸ سلنه جوړوي.

ځمکنۍ نښتې دغه راز د زياتو ماشومانو د ژوبليدو سبب ګرځيدلي (۱۰۶۴ تلفات ، ۲۵۹ يې مړه شوي او ۸۰۵ تنه يې ټپيان دي) ۶۵ سلنه زياتوالي څرګندوي که له ۲۰۱۳[٦٧] سره پرتله شي نو په ۲۰۱۴ کې د ماشومانو د ټولو ملکي تلفاتو ۴۳ سلنه جوړوي.


د ۲۰۱۴ د لومړۍ نيمايي سره برابر د ماشومانو او ښځو زياتره تلفات چې د ځمکنيو نښتو له امله رامنځ ته شوي د هاوان د مرميو يا نورو مهماتو په ذريعه پيښ شوي چې په کورونو لګيدلي او يا له دې امله چې ښځې او ماشومان د جګړو په منځ کې ګير شوي دي.

**د ځمکنيو نښتو له امله په ملکي تلفاتو کې د سيمې په اساس تجزيه جنوري- ډسمبر ۲۰۰۹- ۲۰۱۴**

په ۲۰۱۴ کې يوناما د افغانستان په هره سيمه کې د ځمکنيو نښتو له امله په ملکي تلفاتو کې زياتوالی مستند کړی دی.[٦٨] د دغو تلفاتو اکثريت په جنوبي سيمه کې پيښ شوي چې ۹۲۵ ملکي تلفات دي (۳۵۲ وژني او ۵۷۳ ژوبلې)، له هغه وروسته په ختيځو سيمو کې ۷۷۰ ملکي تلفات (۱۶۴ وژني او ۶۰۶ ژوبلې) او په شمالي سيمو کې ۴۳۵ ملکي تلفات (۱۵۱ مړيني او ۲۸۴ ژوبلې) رامنځ ته شوي دي.

يوناما د ځمکنيو نښتو له امله تر ټولو زيات ملکی تلفات په هلمند ولايت کې ثبت کړي چې شمير ۷۴۰ تنو ته رسيده (۲۸۲ مړيني او ۴۵۸ ژوبلې)، له هغه وروسته د کنړ په ولايت کې ۳۴۰ ملکي تلفات (۵۶ مړيني او ۲۸۴ ژوبلې) او بيا په فارياب کې ۳۱۵ ملکي تلفات (۱۱۸ مړيني او ۱۹۷ ژوبلې) ثبت شوي دي.

**د ملکي وګړو مرګ او ژوبله : په سيمه ييز ډول ټولې ځمکنۍ نښتې**
**د جنوري - دسمبر ۲۰۰۹- ۲۰۱۴**





| | مرکزي سيمه | مرکزي لوړه سيمه | ختيځ | شمال ختيځ | شمال | جنوب ختيځ | جنوب | لوديځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 139 | 0 | 430 | 68 | 100 | 289 | 375 | 28 |
| 2010 | 192 | 8 | 535 | 128 | 125 | 496 | 543 | 83 |
| 2011 | 276 | 1 | 578 | 51 | 60 | 549 | 470 | 77 |
| 2012 | 325 | 3 | 507 | 56 | 181 | 348 | 127 | 85 |
| 2013 | 358 | 12 | 727 | 129 | 196 | 392 | 368 | 152 |
| 2014 | 415 | 18 | 770 | 353 | 435 | 413 | 925 | 276 |

---

[٦٦] په ۲۰۱۳ کې يوناما ۳۳۶ ښځينه تلفات مستند کړي (۷۳ وژني او ۲۶۳ ژوبلې) چې له ځمکنيو نښتو څخه راپيد شوي.
[٦٧] په ۲۰۱۳ کې له ځمکنيو نښتو څخه ۶۴۶ د ماشومانو تلفات (۱۴۰ وژني او ۵۰۶ ژبلې) مستند کړي.
[٦٨] دغه راز يوناما د دولت ضد عڼاصرو له خوا د نابرابرو تاکتيکونو کارول مستند کړي په تيره بيا د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو کارول ، هدفي وژنې او په دولتي ملکي کارمندانو بريدونه چې په دې راپور کې پرې تينګار شوی.

### له ځمکنیو نښتو څخه د راپیدا شویو ملکي تلفاتو منسوبونه[٦٩]

له ځمکنیو نښتو څخه د راپیدا شویو ۳۶۰۵ ملکي تلفاتو څخه ، یوناما ۴۳ سلنه ، چې ۱۵۵۱ تنه ملکي تلفات جوړوي (۴۳۸ مړینې او ۱۱۱۳ ژوبلې) دولت ضد عناصرو ته منسوبې کړې او ۲۶ سلنه (۳۳۶ مړینې او ۵۸۵ ژوبلې چې ټول ۹۲۱ ملکي تلفات دي حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي دي.[٧٠] یوناما نه شو کولای چې د ځمکنیو نښتو له امله ۲۹ سلنه تلفات چې ۱۰۵۱ تنه (۳۰۷ مړینې او ۷۴۴ ژوبلې)[٧١] کیږي کوم لوري ته منسوب کړي. پاتې ملکي تلفات چې له ځمکنیو نښتو څخه را پیدا شوي د پولې په دواړو خواوو کې له ډزو څخه رامنځ ته شوي.[٧٢]




[٦٩] له ځمکنیو نښتو څخه د مړینو او ژوبلو یوه لوري ته د منسوبونې د کره کولو لپاره ، یوناما د ملکي تلفاتو د تصدیق د دری ګوني ډول طرز العمل څخه کار اخلي: په هغو مواردو کې چې منسوبونه ممکن نه وه- په ځانګړي ډول د ډزو تبادلې په مورد کې- یوناما ملکي تلفات دواړو خواوو ، یاني دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي چې دا یوه جلا کتګوري ده او د دواړو خواوو څخه د ډزو ، دولت ضد عناصرو/د دولت پلوه ځواکونو ته منسوبه ده.

[٧٠] له ۹۲۱ ملکي تلفاتو څخه چې د دولت پلوه ځواکونو له عملیاتو څخه راپیدا شوي (چې افغان ملي امنیتي ځواکونه ، نړیوال نظامي ځواکونه او دولت پلوه وسله والې ډلې په کې شاملیږي)، یوناما ۹۲ سلنه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب کړي چې له نړیوالو نظامي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو سره یو ځای ځمکني عملیات اجرا شوي. پاتې عملیات یوازې د نړیوالو نظامي ځواکونو (۱ سلنه) او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا (۷ سلنه) ترسره شوي دي.

[٧١] په جګړو کې د ښکېلو خواوو ترمنځ د سختو او اوږدو جګړو په ترځ کې منسوبونه تل ممکنه نه وه ، په تېره بیا د ډزو د تبادلې په مورد کې د ملکي تلفاتو منسوبونه. په دغو مواردو کې (۱۰۸۴ تلفات ، ۳۱۷ مړینې او ۷۶۷ ژوبلې)، یوناما ملکي تلفات دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ته په جلا کتګوري کې منسوب کړي دي.

[٧٢] وګورئ په دې راپور کې د پولې په دواړو خواوو کې متقابلې ډزې

## دولت ضد عناصر: له ځمکنیو نښتو څخه ملکي تلفات

> *زه یو ډاکټر یم. د جولای په ۱۴ طالب جنګیالي [.......] کلي ته راغلل[۷۳] چې په ساحه کې خپل شتون ثابت کړي. د سهار درې بجې وې چې سیمه ییز پولیسو له طالبانو سره جګړه پیل کړه. د متقابلو ډزو له امله دوه تنه سړي ژوبل شول. په وروستي پړاو کې طالبانو هغه کوله چې په یوه کور کې ځانونه پټ کړي، خو کورنۍ و نه منله چې دروازه خلاصه کړي. طالبانو بیا د دوي کور ته لاسي بم وغورځاوه او دوه ښځې او دوه هلکان یې ژوبل کړل. دغه تلفات د درملنې لپاره زموږ کلینیک ته راوړل شول. یوه ژوبله شوي ښځه امیندواره وه او موږ هغه د سرپل روغتون ته راجع کړه.*[۷٤]
>
> -- طبي ډاکټر چې د ځمکنیو نښتو څخه ملکي تلفات یې تداوي کول، سرپل ولایت، سوزمه کلا ولسوالي، د۲۰۱۴ کال د جولای په ۱۴ څلور تنه ملکي کسان ژوبل شول.

د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو نږدې نیمایي زیاتوالي په ۲۰۱۴ کې د دولت ضد عناصرو د عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي. دغه تلفات په عمده ډول پر افغان امنیتي ځواکونو په داسې وخت کې د بریدونو په ترڅ کې پېښ شوي چې کله نوموړي ځواکونه په ګزمه بوخت وو او یا د تلاشي په پوستو کې په دندو لګیا وو، یا هغه بریدونه چې د ولسوالیو په اداري مرکزونو شوي او هغه نظامي عملیات چې په ګڼ میشته سیمو کې ترسره شوي وو.

له ځمکنیو نښتو څخه را پیدا شوي ملکي تلفات چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي له دې امله هم ډېر شوي چې په اپریل او جون کې[۷۵] د ټاکنو پروسه تر برید لاندې راغله او له دې سره یو ځای په افغان ملي امنیتي ځواکونو هم په ګڼ میشتو سیمو کې بریدونه وشول. یوناما له ځمکنیو نښتو څخه ۵۲۵ ملکي تلفات (۲۰۱ مړینې او ۳۲۴ ژوبلې) مستند کړي، چیرې چې دولت ضد عناصرو په ملي پولیسو بریدونه وکړل او تر ۲۰۱۳ یې ۲۷ سلنه زیات تلفات ورواړول.[۷٦]

که څه هم د دولت ضد عناصرو له خوا د ترسره شویو ځمکنیو عملیاتو او بریدونو زیاته برخه د امنیتي ځواکونو په ضد شوي، یوناما داسې پیښې مستندې کړې چې دولت ضد عناصرو په کې په قصدي ډول په ځمکنیو جګړو کې ملکي کسان په نښه کړي، په تېره بیا د ټاکنو په وخت کې د ډېرو بریدونو په ترڅ کې.

د ۲۰۱۴ په اوږدو کې، یوناما په پرلپسې ډول په حکومتي ملکي کارمندانو، ملکي حکومتي ودانیو او دفترونو او نورو ځایونو باندې د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې بریدونه مستند کړي[۷۷] لکه څنګه چې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ شپږ میاشتنی راپور څرګندوي، د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په وخت کې د اپریل په ۵ او د

---

[۷۳] دقیق موقعیت د امنیتي دلایلو له امله نه دی څرګند شوی.

[۷٤] د یوناما مرکه، مزار شریف، بلخ ولایت، ۱۷ جولای ۲۰۱۴

[۷۵] وګورئ په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې شپږ میاشتني راپور (۲۰۱۴ د یوناما راپور، مخونه ۶۲-۶۵).

[۷٦] په ۲۰۱۳ کې یوناما ۴۱۵ ملکي تلفات (۱۱۸ مړینې او ۲۹۷ ژوبلې) مستند کړي دي چې د دولت ضد عناصرو له خوا په افغان ملي پولیسو په داسې حال کې شوي چې هغوي د ملکي کسانو په څیر د برید ځایونو ته نږدې ولاړ وو او یا د قانون د انفاذ په دنده بوخت وو او یا له وظیفې څخه په فارغ حال کې وو.

[۷۷] په دې راپور کې هغه برخه وګورئ چې ملکي کسان څکه وژل شوي چې کورنیو یې یا له حکومت سره اړیکې درلودې او یا فکر کیده چې ښایي د حکومت مرسته ورسره وي چې په ملکي کسانو د برید یوه برخه ده. د جګړو په ترڅ کې په ملکي کسانو بریدونه په دې کې د ځمکنیو نښتو تر عنوان لاندې راغلي.

ولسمشریزو ټاکنو د دوهیم دور په وخت کې د جون په ۱۴ ، یوناما د ځمکنیو بریدونو ۲۴۲ پیښې مستندې کړې چې د دولت ضد عناصرو له خوا ټاکنیزه پروسه په کې تر برید لاندې راغلې. دغه بریدونه د ۳۸۰ ملکي تلفاتو سبب ګرځیدلي (۷۴ مړیني او ۳۰۶ ژوبلې).[۷۸]

**د دولت ضد عناصرو له خوا په ځمکنیو نښتو کې د ملکي تلفاتو نمونې:**

- د جولای په ۱۶ دولت ضد عناصرو په کنړ ولایت ، چپه درې په ولسوالي کې یوه کلنیک ته نږدې پر یوې امنیتي پوستې برید وکړ. یو راکټ د ملکي کسانو په کور ولګید چې ۹ تنه تلفات (دوه تنه مړه ، یو پنځه او بل شپږ کلن هلکان وو او اووه تنه ژوبل شول ، درې نجونې ، دوه هلکان او د دوي مور او پلار) یې واړول.
- د اګست په ۱۱ ، دولت ضد عناصرو د کنړ ولایت د ناړۍ په ولسوالي کې د افغان ملي سرحدي پولیسو پر یوې پوستې د درنو او سپکو وسلو برید وکړ. په برید کې ۹ تنه ملکي تلفات (درې وژنې چې یوه یې ښځه وه او ۶ ژوبلې ، چې ۴ هلکان وو) واوښتل.
- د سپتمبر په ۲۱ ، دولت ضد عناصرو د خوست ولایت د باک د ولسوالي په اداري مرکز باندې د هاوان ګولۍ و اورولې ، راکټ په یوه ملکي کور ولګېد چې ۱۵ ملکي تلفات (۴ تنه مړه چې دوه ښځې او دوه هلکان وو ، او ۷ تنه ژوبل وو چې ۴ هلکان ، ۲ ښځې او ۱ سړي وو) یې درلودل.
- د سپتمبر له ۲۲ د اکتوبر تر ۸ ، دولت ضد عناصرو د غزني ولایت د ارجستان په ولسوالۍ کې د افغان ملي پولیسو او افغان سیمه ییز پولیسو د تلاشي په څو پوستو بریدونه کړي چې ۱۵ ملکي تلفات (۱۱ مړینې چې یوه ښځه او یو ۱۶ کلن هلک و او ۴ ټپیان وو چې یوه ښځه او دوه ماشومان وو) یې واړول. دولت ضد عناصرو دغه راز ۴ تنه ملکي کسان وتښتول او بیا یې وروسته خوشي کړل.
- د نوومبر په ۱۱ ، دولت ضد عناصرو د ننګرهار ولایت د جلال اباد په ښار د هاوان ګولۍ وویشته چې د ښار په یوه مرکزي کوڅه کې راپرېوته او ۱۰ تنه ملکي تلفات (دوه وژنې او ۸ ژوبلې ، زیاتره یې ورځني مزدوران وو) یې رامنځ ته کړل.

**د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو ترمنځ ځمکنۍ نښتې چیرې چې منسوبونه کومې خوا ته ممکنه نه وه**

> *کله چې زموږ کور د افغان ملي اردو له خوا د هاوان په ګولۍ و ویشتل شو ، زموږ د واده مراسم په جنازه بدل شول. موږ نه پوهیږو چې ولې تر هدف لاندې ونیول شو ، او ولې موږ د هیڅ لپاره تلفات ورکړل. چا ته ورشو چې زموږ خبره واوري؟ زه په دې باور یم چې له خدای پرته هیڅوک زموږ خبره نه اوري او نه پوهیږي چې په دې سیمه کې څه پیښیږي.*[۷۹]
>
> -- د یوه زوم ورور چې د واده مراسم یې د افغان ملي اردو له خوا د هاوان په مرمۍ و ویشتل شول ، سنګین ولسوالي ، هلمند ولایت ، ۳۱ دسمبر ، ۲۰۱۴.

---

[۷۸] پر ټاکنیزه پروسه ۲۴۲ بریدونه په هغو بریدونو کې شامل دي چې ملکي تلفات یې نه درلودل خو بشري حقونه یې ډیر زیانمن کړي. د مثال په توګه ، یوناما ډیرې داسې پیښې ثبتې کړي چیرې چې ښوونځي چې د رایې اچولو د مرکزونو په څېر ورڅخه استفاده کیدله تر بریدونو لاندې راغلي. دغه ډول بریدونه تعلیم ته لاس رسي اغیزمن کوي ، ځکه چې ښوونځیو ته زیان رسیدلی وي یا زده کوونکي له ښوونځیو څخه منصرف کوي.

[۷۹] د یوناما مرکه ، ۱ جنوري ، ۲۰۱۵ ، کندهار

د مسوولیت منسوبونه ، په تېره بیا د هغو ملکي مړینو او ژوبلو مسوولیت چې د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو ترمنځ د سختو او اوږدو نښتو په ترڅ کې رامنځ ته کیږي ، ستونزمن کار دی. د داسې پیښو لپاره چیرې چې د ډزو د تبادلې له امله د ملکي تلفاتو منسوبونه ممکنه نه وي ، یوناما هغه دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو دواړو ته د یوې کتګورۍ لاندې منسوبوي: "دولت ضد عناصر /حکومت پلوه ځواکونه."

په ۲۰۱۴ کې کله چې جګړو د ملکي ټولنو په منځ کې یا هغوي ته نږدې شدت وموند ، یوناما د هغو ملکي خلکو په تلفاتو کې زیاتوالی مستند کړی ، چې د متقابلو ډزو په منځ کې ګیر وو. په ۲۰۱۳ کې یوناما ۱۰۵۱ ملکي تلفات (۳۰۷ مړینې او ۷۴۴ ژوبلې)[۸۰] د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو په منځ کې د ځمکنیو جګړو له امله مستند کړي چې منسوبونه یې یوې مشخصې خوا ته ممکنه نه وه. دغه شمیر د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.[۸۱]

**د دولت ضد عناصرو او حکومت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې د ملکي تلفاتو نمونې ، چیرې چې یوې مشخصې خوا ته د هغوي منسوبونه ممکنه نه ده:**

- د اکتوبر په ۲۴ ، د طالبانو یوې لویې ډلې په ورته وخت کې د فراه ولایت د بالابلوک په ولسوالي کې د سیمه ییزو پولیسو د تلاشي پر یوې پوستې برید وکړ. افغان ملي امنیتي ځواکونو دې برید ته غبرګون وښود. په پایله کې د متقابلو ډزو له امله ۸ ملکي تلفات (درې وژنې ، یو سړی او دوه هلکان ، او ۵ ژوبلې ، د یوې ښځې په ګډون) واړول. که څه هم طالبانو د سیمه ییز پولیسو په ضد د حملې مسوولیت منلی دی ، یوناما د ملکي تلفاتو مسوولیت دواړو خواوو ته منسوب کړی دی.
- د نوومبر په ۱۵ ، د طالب جنګیالیو یوې ډلې د هلمند ولایت د نادعلي په ولسوالي کې د افغان ملي اردو او ایساف په لښکرو چې هلته یې د تلاشي عملیات کول ، برید وکړ. په پایله کې د متقابلو ډزو له امله ۹ ملکي تلفات (۴ وژنې او ۴ ژوبلې د دریو نجونو او یوه هلک په ګډون) واوښتل.
- د نوومبر په ۳۰ ، دولت ضد عناصرو د زابل ولایت د شاجوی په ولسوالي کې د افغان ملي پولیسو د تلاشي په پوستې برید وکړ. له دې وروسته د مرمیو د تبادلې په پایله کې ۸ ملکي تلفات واوښتل (۵ وژنې د دریو هلکانو په ګډون او درې ژوبلې).
- د ډسمبر په ۲۰ ، طالبانو د کنړ ولایت د دانګام په ولسوالي کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په اډه څو د هاوان ګولۍ و اورولې. افغان ملي امنیتي ځواکونو هم د هاوان په مرمیو ځواب ورکړ. د ډزو په تبادله کې یوه ګولۍ په یوه ملکي کور ولګېده چې ۷ ملکي تلفات (درې وژنې ، د دوه ماشومانو او یوې ښځې په ګډون او ۴ ښځې ژوبلې شوې) یې درلودل.

---

[۸۰] په جګړو کې د ښکېلو خواوو ترمنځ د شدیدو او اوږدو جګړو په ترڅ کې منسوبونه تل ممکنه نه وه ، په تېره بیا د هغو ملکي تلفاتو منسوبونه چې د متقابلو ډزو له وجې راپیدا کیږي. په داسې قضیو کې یوناما ملکي تلفات دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو دواړو ته منسوبوي چې په یوه جلا کټګورۍ کې راځي.

[۸۱] په ۲۰۱۳ کې یوناما ۸۷۷ ملکي تلفات مستند کړي (۱۵۹ مړینې او ۷۱۸ ژوبلې ) چې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنیونښتو په ترڅ کې رامنځ ته شوي او منسوبونه یې یوه مشخص لوري ته ممکنه نه وه.

**افغان ملي امنيتي ځواکونه: له ځمکنيو نښتو څخه ملکي تلفات**

د ځمکنيو نښتو له امله ملکي تلفات چې حکومت پلوه ځواکونو ته يې نسبت شوی په ۲۰۱۴ کې ۱۴۱ سلنه لوړ تللی چې ۹۲۱ تلفات (۳۳۶ مړينې او ۵۸۵ ژوبلې)[۸۲] يې لرل. ملکی تلفاتو چې افغان ملي امنيتي ځواکونو- په عمده ډول افغان ملي اردو- ته منسوب شوي د ځمکنيو جګړو له امله د راپيدا شويو تلفاتو ۲۶ سلنه او ۹ سلنه د ټولو تاکتيکونو څخه د راپيدا شويو ملکي تلفاتو جوړوله. د ډيرې اندېښنې خبره دا ده چې د ځمکنيو جګړو په ترڅ کې افغان ملي اردو ته منسوب شوي ملکي تلفات په ۲۰۱۴ کې څلور برابره لوړ تللی او ټول شمير يې ۳۹۸ تنو ته رسېده (۱۲۹ مړينې او ۲۶۹ ژوبلې).[۸۳]

لاندې په ځمکنيو نښتو کې حکومت پلوه ځواکونو ته د منسوب شويو تلفاتو اندازه ښول شوې:

- ۸۵ پيښې چې ۳۹۸ ملکي تلفات لري (۱۲۹ مړينې او ۲۶۹ ژوبلې) او يوازې افغان ملي اردو ته منسوب شوي.
- ۱۹ پيښې چې ۴۹ ملکي تلفات لري (۱۳ مړينې او ۳۶ ژوبلې) او يوازې افغان ملي پوليسو ته منسوب شوې.
- ۱۸ پيښې چې ۳۷ ملکي تلفات لري (۲۶ مړينې او ۱۱ ژوبلې) او يوازې افغان سيمه ييز پوليسو ته منسوب شوې.
- ۱۳۵ پيښې چې افغان امنيتي بيلا بيلو ځواکونو په کې برخه اخيستې وه او ۳۸۳ ملکي تلفات لري (۱۳۰ مړينې او ۲۵۳ ژوبلې).
- ۳۰ پيښې د حکومت پلوه مليشه له خوا رامنځ ته شوې چې ۶۷ ملکي تلفات يې لرل (۳۲ مړينې او ۳۵ ژوبلې).
- د ځمکنيو نښتو ۶ پيښې چې ۸ ملکي تلفات يې لرل (۶ وژنې او ۲ ژوبلې) چې يوازې نړيوالو نظامي ځواکونو ته منسوبې ګڼل شوي.

پاتې پيښې او تلفات د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ګډو عملياتو په لړ کې پيښې شوې ، د هغو عملياتو په ګډون چې د نړيوالو نظامي ځواکونو او حکومت پلوه وسله والو ډلو سره په همکاري کې ترسره شوي.

**د ځمکنيو عملياتو په لړ کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د اوښتو ملکي تلفاتو نمونې:**

- د اګست په ۱۸ ، افغان ملي اردو د کندز ولايت د کندز په ښار کې په دولت ضد عناصرو باندې څو د هاوان ګولۍ و اورولې. ګولۍ په ملکي ساحه ولګيدې او ۲۷ ملکي تلفات (۱۴ وژنې د ۴ ښځو ، ۴ هلکانو او دريو نجونو په ګډون او ۱۴ ټپيان ، ۴ ښځې ، ۵ نجونې او ۲ هلکان) يې واړول.
- د سپتمبر په ۷ ، افغان ملي اردو د فراه ولايت د بالا بلوک په ولسوالي کې د طالبانو د يوه بريد په ځواب کې د هاوان ګولۍ و ويشتې. ګولۍ په ملکی ساحه ولګيده او ۶ ملکي تلفات (۲ مړينې ، د يوه ۱۴ کلن هلک او يوې ښځې په ګډون او ۴ ټپيان چې درې سړي او يوه ښځه وه) يې واړول.

---

[۸۲] په ۲۰۱۳ کې يوناما ۳۸۲ ملکي تلفات مستند کړی (۱۰۲ مړينې او ۸۰ ژوبلې)؟؟؟ چې د ځمکنيو عملياتو په ترڅ کې رامنځ ته شوي او دولت پلوه ځواکونو ته يې نسبت شوی.

[۸۳] په ۲۰۱۳ کې يوناما ۹۹ ملکي تلفات (۲۴ مړينې او ۷۵ ژوبلې) مستند کړي چې د ملي اردو له خوا د ځمکنيو نښتو په ترڅ کې پيښې شوې.

- د اکتوبر په ۱۵ ، طالبانو د کندهار ولایت د خاکریز په ولسوالي کې افغان ملي اردو د تلاشي په یوې پوستې برید وکړ. افغان ملي اردو د دې برید په غبرګون کې د هاوان ګولۍ وویشتې چې په ملکي ساحه ولګیدې او ۹ ملکي تلفات (۵ وژنې ، د دوو ښځو او دوو نجونو ، چې شپږ او اوه کلنې وې او د یوه ۱۳ کلن هلک په ګډون او ۴ ټپیان ، چې ۲ ښځې او ۲ کوچنۍ نجونې وې).
- د نوومبر په ۱ ، طالبانو د لغمان ولایت د الیشنګ په ولسوالي کې د افغان ملي اردو په یوې ګزمې برید وکړ. افغان ملي اردو په درنو وسلو غبرګون وښود او یو راکټ په ملکي ساحه ولګیده چې ۷ ملکي تلفات (یو مړ او ۶ تنه ټپیان ، د یوې ښځې او ۵ هلکانو په ګډون چې ټول یې له ۱۲ کلنۍ ټیټ وو).

**د افغان ملي اردو د هاوان ګولیو ۸۳ ملکي تلفات اړولي- ۲۹ ښځې او ماشومان وژل شوي او ۵۳ ملکیان ټپیان شول ، هلمند ولایت سنګین ولسوالي ، ۳۱ ډسمبر ۲۰۱۴**

د ډسمبر په ۳۱ ، د ماسپښین پر مهال د هلمند ولایت د سنګین په ولسوالي کې افغان ملي اردو درې د هاوان ګولۍ وویشتې ، چې په یوه شخصي کور ولګیدلې چیرې چې د واده مراسم اجرا کیدل. د دې پیښې په پایله کې ۸۳ ملکي تلفات (۲۹ مړینې او ۵۳ ژوبلې) واوښتل. ټول ۲۹ تنه وژل شوي ملکیان او ۴۶ تنه ملکي ټپیان ښځې او ماشومان وو . یوناما داسې راپور نه دی تر لاسه کړی چې دولت ضد عناصرو ته مرګ ژوبله اوښتې وي.

د هاوان ګولۍ د واده د مراسمو په لومړۍ مرحله کې هلته ولګیده چیرې چې ښځې- له خپلو ماشومان او کوچنیو هلکانو سره- راغونډې شوې وې چې ناوې وګوري. سړیو پلان درلود چې د غرمې د ډوډې په وخت کې جلا مراسم اجرا کړي.

د زوم د ورور په وینا ، چې له پیښې ژوندي پاتې و ، د هاوان ګولۍ د ماسپښین په درې نیمو بجو د کور په انګړ کې ولګیده ، ډیر لیږ له هغه وروسته چې ناوې د زوم کور ته راوړل شوه ، چې د واده مراسم تر سره شي. د زوم ورور یوناما ته وویل چې کورنۍ افغان ملي اردو ته خبر ورکړی و چې هلته د واده مراسم اجرا کیږي او ده وویل چې دی نه پوهیږي ولې د دوي کور هدف ګرځیدلی و ځکه چې په دې وخت کې په هغه ساحه کې جنګ نه و نښتی.

افغان ملي اردو دا خبره منلې چې دوی ګولۍ ویشتلې او په کور لګیدلې دي خو دوي وویل چې په دې وخت کې په ساحه کې جګړو جریان درلود. یوناما د دې هڅه وکړه چې په دې ساحه کې د دغې پیښې په وخت کې د جګړو په اړه معلومات تر لاسه کړي ، خو کوم خبر لاس ته را نه غی او دومره یې یاده کړې چې طالبانو له دې یوه ورځ مخکې ، د نوومبر په ۳۰ د سنګین ولسوالي په بله برخه کې د تلاشي په پوستې برید کړی و.[٨٤] ځایي سرچینو وویل چې د افغان ملي اردو د تلاشي پوستې (د ملي اردو نږدې اډه په فتح محمد پیچ ، سنګین ولسوالي کې) یوه داسې سابقه لري چې د طالبانو له خوا د برید پر مهال په غیر متناسب او بې توپیره ډول غبرګون ښي.

له پیښې لیږ وروسته ، افغان ملي اردو د تلاشي له پوستې څخه دوه تنه پرسونل ونیول چې د هاوان ګولۍ یې ویشتلې وې او د دې راپور د لیکلو په وخت کې له هغو څخه پوښتنې کیدلې.

یوناما له افغان چارواکو غوښتنه کوي چې د دې پیښې په اړه هر اړخیزه او شفافه څیړنه وکړي ، په تیره بیا د هغو انګیزو په اړه چې برید یې هڅولی دی او د دې یقین ورکړي چې مسوول کسان به احتساب ته را وستل کیږي ، او د مخنیوي لپاره به نور اقدامات نیول کیږي.

[٨٤] قاري یوسف احمدي ، په سنګین کې د تلاشي په پوستې برید ، ۱۱ پولیس ووژل شول ؛ ۳۰ ډسمبر ، هلمند. پر دغې ویب پاڼې د لاس رسي وړ دي: http://shahamat-english.com/index.php/news/51801-check-post-overrun-in-sangin,-11-police-killed. Accessed 20 January 2015

### د نړیوالو نظامي ځواکونو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو ګډ عملیات

سره د دې چې د ایساف نړیوال ځواکونه له ټول هیواد څخه کم شوي او له دې سره د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا په ملکي تلفاتو کې هم په ټولیز ډول کمی راغلی ، یوناما په ۲۰۱۴ کې د ملکي تلفاتو ۹ سلنه زیاتوالی مستند کړی چې د نړیوالو نظامي ځواکونو په مرسته د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا ترسره شوي.

افغان ملي امنیتي ځواکونو د نړیوالو ځانګړو ځواکونو په مرسته په ځینو سیمو کې زیات عملیات ترسره کړي. د نړیوالو ځواکونو له کموالی سره ، یوناما مشاهده کړې ده چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ډیر شمیر خاص عملیات کړي دي او د دې عملیاتو په ترڅ کې د ملکي تلفاتو شمیر هم زیات شوی دی. په ۲۰۱۴ کې یوناما ۱۸۵ ملکي تلفات (۱۰۲ مړینې او ۸۳ ژوبلې)[۸۵] مستند کړي چې په ګډو عملیاتو کې یا په هغو عملیاتو کې پېښ شوي چې نړیوال ځواکونه په کې هم شامل وو او د ۲۰۱۳ په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی څرګندوي.[۸۶]

یوناما د ملکي تلفاتو له زیاتوالی سره خپله اندېښنه څرګندوي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو ځواکونو د ګډو عملیاتو په ترڅ کې ملکي خلکو ته مرګ ژوبله اوړي. د مثال په ډول ، یوناما د لوګر او پکتیکا په ولایتونو کې له مختلفو سرچینو څخه د ملکي تلفاتو په اړه تایید تر لاسه کړی چې د نړیوالو ځانګړو ځواکونو او افغان ملي امنیتي ځواکونو په ګډو عملیاتو کې رامنځ ته شوي. یوناما په مکرر ډول د دغو عملیاتو په اړه خپلې اندېښنې افغان ملي امنیتي ځواکونو او د ایساف ځانګړو ځواکونو ته په ډاګه کړي چې دوي دواړو له ملکي تلفاتو له منلو څخه انکار کړی دی.[۸۷]

- د اګست په ۳ ، نړیوالو نظامي ځواکونو او افغان ملي امنیتي ځواکونو د لوګر ولایت د څرخ په ولسوالي کې په ملکي سیمو کې چاپیز عملیات ترسره کړل ، چې هوایي او ځمکني فعالیتونه په کې شامل وو. په عملیاتو کې ۲۸ ملکي تلفات (۱۵ مړینې او ۱۳ ژوبلې) واوښتل.
- د اګست په ۶ ، افغان ملي اردو او نړیوالو نظامي ځواکونو د پکتیا ولایت د ځاځیو په ولسوالي کې- د تلاشي عملیات ترسره کړل چې ۲۵ ملکي تلفات (۱۰ مړینې د دوو هلکانو ، یوې ښځې او ۷ سړیو په ګډون او ۱۵ ټپیان د ۵ ښځو ، یوې نجلۍ ، ۲ هلکانو او ۷ سړیو په ګډون) یې درلودل.
- د اګست په ۹ ، د افغان ملي اردو او نړیوالو نظامي ځواکونو د لوګر ولایت د برکي برک په ولسوالي کې چاپیز عملیات ترسره کړل. د هاوان د ګولیو په پایله کې ۱۷ ملکي تلفات (۷ وژنې د یوې ښځې ، ۲ سړیو او ۴ ماشومانو- یوه ۹ میاشتنۍ ماشومه- یوه نجلۍ او ۲ هلکانو په ګډون او ۱۰ ټپیان ، د یوه سړي ، یوې ښځې او ۸ ماشومانو په ګډون چې ۳ هلکان او ۵ نجونې وې) یې درلودل. ملکي خلکو دغه راز راپور ورکړی چې افغان ملي امنیتي او نړیوالو نظامي ځواکونو خلک بیرولي او تهدید کړي دي.
- د سپتمبر په ۱۸ ، د افغان ملي اردو د پکتیا ولایت د نیکه په ولسوالي کې د شپې د تلاشي عملیات ترسره کړل ، چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا یې هوایي ملاتړ کیده. په عملیاتو کې ۷ ملکي تلفات (۵ مړینې- درې سړي او ۲ هلکان او ۲ ټپیان) واوښتل.

---

[۸۵] له ۱۸۵ ملکي تلفاتو څخه ، لس هغه د ۶ مړینو او ۴ ژوبلو په ګډون یوازې نړیوال ځواکونو ته منسوب شوي.

[۸۶] په ۲۰۱۳ کې یوناما ۱۷۰ ملکي تلفات (۵۹ مړینې او ۱۱ ژوبلې) له ځمکنیو نښتو څخه مستند کړي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو نظامي ځواکونو یا د افغان ملي امنیتي ځواکونو تر مشري لاندې ، چې د نړیوالو ځواکونو مرسته ورسره وه ، ترسره شوي.

[۸۷] د یوناما غونډې له ایساف سره ، ۱۵ نوومبر ، ډسمبر ۲۰۱۴ او ۸ او ۲۷ جنوري ۲۰۱۵ ، کابل او د یوناما غونډه د امریکې د متحده ایالاتو له ځانګړو ځواکونو سره ، ډسمبر ۲۳.

یوناما خپلې پخوانۍ سپارښتنې نړیوالو ځواکونو ته بیا تکراروي چې د ټولو عملیاتو وروسته د ګډو عملیاتو یا هغو عملیاتو په ګډون چې نړیوال نظامي او/یا امنیتي ځواکونو او/یا بهرني استخباراتي ایجنسۍ په کې هلته شتون ولري بیا کتنه وکړي او له پېښو وروسته بشپړه پلټنه وکړي چیرې چې ملکي تلفات رامنځ ته شوي وي او/یا یې راپور ورکړل شوی وي. نړیوال ځواکونه په ټولو داسې پېښو کې باید په پرلپسې ډول مناسب ګامونه اوچت کړي څو یقیني کړي چې د قربانانیانو لپاره یې حساب ورکونه شته او عملیات په مناسب ډول اجراء کیږي.

**په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د هاوان ګولۍ او راکټونه کارول**

د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې یوناما په جګړو کې د ښکیلو خواوو له پلوه په غیر مستقیم ډول د وسلو، په عمده ډول د هاوانونو د کارولو له امله په ملکي تلفاتو کې پرلپسې زیاتوالي مشاهده کړی. غیر مستقیمې ویشتونکي وسلې لکه هاوانونه، راکټونه او لاسي بمونه د وسلو قوي چاودیدونکي سیستمونه دي چې ګولۍ یو ځای ته شړي بې له دې چې هدف په مستقیم ډول و ویني. د هاوان ګولۍ نه شي کولای چې یو مشخص هدف و ولي، ځکه د اغیزې یوه پراخه ساحه رانغاړي؛ کله چې د ا ډول وسلې په ګڼ میشتو سیمو کې وکارولې شي د ملکي خکو د تلفاتو خطر ډیریږي.

په ۲۰۱۴ کې، د ملکي تلفاتو ۵۰ سلنه په ځمکنیو نښتو کې د هاوانونو او راکټونو له امله رامنځ ته شوي چې ۱۷۸۸ تلفات (۴۴۷ مړینې او ۱۳۴۱ ملکي ژوبلې) یې اړولي چې د ۲۰۱۳ په پرتله ۷۳ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.[88]

یوناما د ملکي تلفاتو ۵۳ سلنه (۹۴۵ ملکي تلفات، ۲۲۳ وژنې او ۷۲۲ ژوبلې) چې د هاوانونو او راکټونو له امله پیښې شوي، دولت ضد عناصرو ته او ۳۷ سلنه (۶۶۳ ملکي تلفات- ۱۸۶ وژنې او ۴۷۷ ټپي کېدنې) حکومت پلوه ځواکونو ته[89] ۵ سلنه (۸۲ ملکي تلفات، ۱۱ وژنې او ۷۱ ژوبلې) د پولې په دواړو خواوو کې متقابلو ډزو ته منسوب کړي او پاتې ۵ سلنه (۹۸ ملکي تلفات، ۲۷ وژنې او ۷۱ ژوبلې) یوې خوا ته هم نه دي منسوب شوي.

که څه هم یوناما له ځمکنیو نښتو څخه د ملکي تلفاتو ډیری دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د غیر مستقیمو ویشتنو او هاوان ګولیو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی. یوناما ۶۶۳ ملکي تلفات (۱۸۶ مړینې او ۴۷۷ ژوبلې) مستند کړي چې د حکومت پلوه ځواکونو له لوري د هاوان د ګولیو او لاسي بمونو له امله رامنځ ته شوي.[90] دغه شمیر د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۱۵۸ سلنه زیاتوالي څرګندوي.[91]

لکه څنګه چې یوناما د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۴ شپږ میاشتني راپور کې څرګنده کړې چې د هاوانونو او لاسي بمونو کارول د ځمکنیو نښتو پر مهال د ملکي کسانو په وژلو او ژوبلولو برسیره ساحه په ناچاودو توکو سره ککړوي

---

[88] په ۲۰۱۳ کې یوناما ۱۰۳۳ ملکي تلفات (۲۱۲ وژنې او ۸۲۱ ژوبلې) د هاوانونو، لاسي بمونو او راکټونو د کارولو په پایله کې رامنځ ته شوي چې په جګړو کې د ټولو ښکیلو خواوو په ذریعه د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې ترې کټه اخیستل شوې مستند کړي.

[89] له ۱۸۶ پیښو څخه چې دولت پلوه ځواکونو ته یې نسبت شوی او د هاوانونو، لاسي بمونو او راکټونو د استعمال په پای کې یې ملکي تلفات اړولي، یوناما ۱۷۷ پیښې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته (د دولت پلوه وسله والو ډلو یا نړیوالو ځواکونو د شتون په صورت کې) ۷ پیښې دولت پلوه وسله والو ډلو او ۲ پیښې نړیوالو ځواکونو ته منسوبې کړي دي.

[90] له ۶۶۳ ملکي تلفاتو څخه چې د هاوان د ګولیو له امله رامنځ ته شوي او دولت پلوه ځواکونو ته یې نسبت شوی، یوناما ۹۶ سلنه افغان امنیتي ځواکونو ته (له دولت پلوه وسله واله ډلو یا نړیوالو نظامي ځواکونو سره د ګډو عملیاتو په ګډون) څلور سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو ته او درې تلفات (له یو سلنه څخه کم) نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړي دي.

[91] په ۲۰۱۳ کې، یوناما ۲۵۷ ملکي تلفات (۵۶ مړینې او ۲۰۱ ژوبلې) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي چې د هاوانونو او لاسي بمونو د کارولو له امله اوښتي دي.

. يوناما په پرلپسې ډول خپله اندېښنه څرګنده کړې چې افغان امنيتي ځواکونه داسې پاليسي يا عملي اقدامات نه لري چې له مخې يې دوي بايد ناچاودي توکي په ګوته او پاک کړي چې د ځمکنيو نښتو په ساحه کې پاتې شوي وي.[٩٢]

د بشرپالنې نړيوال قانون حکم کوي چې په جګړو کې ښکيلې خواوې- د افغانستان په قضيه کې طالبان او افغان ملي امنيتي ځواکونه دي- بايد ټول ممکن احتياطي اقدامات ونيسي چې ملکي خلک او ملکي اجناس د بريدونو له اغيزې څخه وساتي. په داسې احتياطي تدابيرو کې ملکيانو ته خبرداري ، د جګړو لپاره د مناسبو روشونو اختيارول ، او له دې څخه ډډه کول شامليږي چې نظامي هدفونه د ملکي خلکو ساحې ته نږدې نه پريږدي.[٩٣]

په ځانګړي ډول ، يوناما په جګړو کې له ښکېلو خواوو څخه په ټينګه بيا غوښتنه کوي چې د ملکي خلکو د اوسيدو ځايونو ته هاوانونه او لاسي بمونه ونه غورځوي او له ښکېلو خواوو څخه غواړي چې د غير مستقيمو وسلو د ويشتلو په طرز العملونو او قواعدو کې چې وضع شوي بيا له سره کتنه وکړي. د بشرپالنې د نړيوال قانون له مخې په جګړو کې ښکيلې خواوې مکلفيت لري چې د غير مستقيمو چاوديدونکو وسلو له ويشتلو د مخه ، لکه هاوانونه ، راکټونه او لاسي بمونه ، په جګړه کې د وسلو اغيزې هغه نظامي دنده چې وسلې يې بايد اجرا کړي او د دغو دوو عواملو په منځ کې د تناسب اصل و ارزوي څو د ملکي کسانو تلفات حد اقل ته راټيټ کړي.[٩٤]

[٩٢] د جګړې څخه د پاتې ناچاودو توکو په اړه د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو د خنثي کولو د کاري ګروپ سره د يوناما مرکه ، اګست ، ٢٠١۴ ، کابل.


[٩٣] د بريدونو د اغيزو په ضد ٢٢ ، ٢٣ او ٢۴ احتياطي تدبيرونه. د سره صليب نړيواله کميټه ، نړيوال عرفي قانون ، ١ جلد ، قواعد ، چاپ: دان ماري هينکرس او لوويز دو سوالدبيک (سی‌ايو/سی ا - ر سي کامبريج ٢٠٠۵).

[٩٤] وګورئ: د لارښوونکو اصولو او وسلو د تطبيق لپاره د لارښود ، لاسي کتاب ، اکسفورډ چاپ ٢٠٠۴.

## ۳. دولت ضد عناصر[۹۵] او د ملکیانو ساتنه

په ۲۰۱۴ کې یوناما ۷۵۴۵ ملکي تلفات (۲۶۴۳ وژني او ۴۹۰۲ ژوبلي) مستند کړي چې د عملیاتو او بریدونو په ترڅ کې د دولت ضد عناصرو په ذریعه رامنځ ته شوي. دغه شمیر د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالي ښیي[۹۶] چې په ۲۰۱۴ کې ۷۲ سلنه د ټولو ملکي تلفاتو دولت ضد عناصرو ته منسوبیږي.

د ملکي تلفاتو شمیر چې د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځ ته شوي له ۲۰۰۹ راهیسي هر کال زیاتیږي. له ۲۰۰۹ راهیسې په ۲۰۱۴ کې دولت ضد عناصرو تر بل هر کال زیات شمیر ملکیان وژلی او ژوبل کړي دي. د دغو ملکي مړینو او ژوبلو زیاته برخه د بې توپیره ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو او په ګڼ میشتو ځایونو کې د ځانمرګو بریدونو او په ټول هیواد کې د ملکي کسانو د عمدي هدفي وژنو له امله رامنځ ته شوي دي.




### ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي

*د جمعي د لمانځه پر مهال زه پر منبر ناست وم چې خطبه پیل کړم. یو تن له لمونځ کوونکو څخه دوهم اذان ورکولو چې یو ځای پر ځای شوی بم د منبر د لاندې وچاودید. زه بې سده شوم. نور زه پوه نه شوم چې له دې وروسته څه پیښ شول. په روغتون کې په هوښ راغلم. نه پوهیږم چې هغوی زه او جومات ولې موخه وګرځولو ، خو په دې پوهیږم چې دغه ډول کړنه په بشپړ ډول د اسلام ضد عمل دی. هیڅ یو مسلمان به دغه ډول بریدونه ونه کړي. دا د وحشت انتها ده.*[۹۷]

-- د ۲۰۱۴ کال د نوومبر په ۲۸ نېټه د ننګرهار ولایت د خوګیانیو په ولسوالي کې د جومات د ننه د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي برید چې په پایله کې یې ۳۴ تنه ملکیان ټپیان شول.


---

[۹۵] دولت ضد عناصر ټول هغه انفرادي کسان او وسله والې ډلې رانغاړي چې د افغانستان سره په وسله واله جګړه کې یا د افغانستان د دولت او/یا نړیوالو نظامي ځواکونو په ضد په وسله واله مقاومت کې شامل وي. د تفصیل لپاره د اصطلاحاتو برخه وګورئ.

[۹۶] په ۲۰۱۳ کې یوناما ۶۳۷۳ ملکي تلفات (۲۳۱۰ وژني او ۴۰۶۳ ژوبلي) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

[۹۷] د ۲۰۱۴ کال د نوومبر په ۳۰ نېټه د ننګرهار د ولایت د جلال اباد په ښار کې د یوناما مرکه.

په ۲۰۱۴ کال کې د ځاي پرځاي  شوو چاودیدونکو توکو بې توپیره او ناقانونه کارونې په زیاته پیمانه ملکیانو ته تاوان واړولو. د شپږو پرلپسې کلونو په موده کې د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی راغلی چې یوناما په دغه موده کې د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو په وسیله ۲۹۷۸ ملکي تلفات(۹۲۵ مړینې او ۲۰۵۳ ټپي کېدنې) ثبت کړي دي چې د ۲۰۱۳[۹۸] کال په پرتله درې سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د فشارپه ذریعه فعالیدونکي ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو، په موثر کې ځاي پرځاي شویو چاودیدونکي توکو(غیر انتحاري) او مقناطیسي ځاي پرځاي کېدونکو چاودیدونکو توکو د کارولو په پایله کې په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی راغلی دی. په داسې حال کې چې له لېرې څخه کنترول شویو چاودیدونکو توکو او د نا مشخصو  ماشو د درلودونکو ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو د کارولو له لارې په ملکي تلفاتو کې کمښت راغلی دی.




په ۲۰۱۴ کال کې د ځمکنیو نښتو وروسته ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د نورو تاکتیکونو په پرتله زیاتره ملکیان وژلي او ټپي کړي دي، چې په دې کې د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو کارونې په پایله کې ۲۸ سلنه ملکي تلفات رامنځته شوي دي. زیاتره ملکي تلفات د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله په هغو بریدونو کې چې د افغان امنیتي ځواکونو په وړاندې د ملکي نفوس د اوسېدنې په ګڼ میشته سیمو کې شوي رامنځته شوي دي .

د ۲۰۰۹ کال راهیسې په افغانستان  کې د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو په ۴۶۶۴ بیلابیلو بریدونو کې ۱۵۴۸۴ ملکي تلفات (۵۴۴۲ مړینې او ۱۰۰۴۲ ټپي کېدنې ) رامنځته شوي دي.

په ۲۰۱۴ کال کې د هلمند ولایت په دې توګه هغه ولایت دی چې هلته زیات ملکیان د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو له امله اغیزمن شوي دي ، چې په دې پسې بیا کندهار ، ننګرهار او د فاریاب ولایتونه راځي.

[۹۸] په ۲۰۱۳ کال کې یوناما ۲۸۹۲ ملکي تلفات(۹۶۴ وژنې او ۱۹۲۸ژوبلې) چې د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکوڅخه رامنځته شوي دي مستند کړي دي.

## ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي چې په عمدي توګه ملکيان هدف ګرځوي

يوناما دا مشاهده کړې ده چې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو د کارونې په برخه کې چې په کې په قصدي توګه ملکيان په نښه کيږي يو څه کمښت راغلی دی. د ځاي پر ځاي شويو چاوديدنکو توکو په هغو بريدونو کې چې د قومي مشرانو ، د ولسواليو د چارواکو ، د قضايي چارواکو ، د روغتيايي او پوهنې د کار کونکو او منفردو ملکيانو پرضد تر سره کيږي تر يوې اندازې کموالی راغلی دی.[99]

يوناما دځاي پر ځاي شويو چاوديدنکو توکو په هغو بريدونو کې چې د يوې کتګورۍ ملکيانو او ملکي هدفونو پر ضد تر سره کيږي په ملکي تلفاتو کې زياتوالی مستند کړی دی: ديني عالمان او عبادت ځايونه. په ۲۰۱۴ کال کې د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو په جوماتونو کې د ځاي پرځاي کولو درې داسې پيښې مستندې کړې دي چې له امله يې ۳۷ تنه ملکيان ټپي شول چې دغه شان بريدونه په ۲۰۱۳ کال کې دوه وو ، چې هغو تلفات نه درلودل (په دې رپوټ کې *د ديني اشخاصو او عبادت ځايونو پر ضد تهديدونه او بريدونه* ، برخه و ګورئ ).

يوناما د ملکيانو په وړاندې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو په بريدونو کې د کمښت يادونه کوي خو ورسره دا په ډاګه کوي چې دغه ډول بريدونو په ۲۰۱۴ کال کې ادامه درلودله. د بيلګې په توګه:

- د جون په ۱۰ نېټه ، له لېرې څخه کنترولېدونکی چاوديدونکی توکی د ارزګان د ولايت په ترينکوټ کې د يوه تن قومي مشر د شخصي موټر لاندې وچاوديدلو. په دغه بريد کې د قومي مشر دوه تنه تنکي زامن چې د ۱۵ او ۱۸ کلونو وو او لس کلن لمسی يې و وژل شول او پخپله قومی مشر او د هغه موټر چلونکی ټپيان شول.
- د ډسمبر په ۲۴ نېټه ، يوه حلقه له لېرې څخه کنترولېدونکی چاوديدونکی توکی هغه مهال وچاودول شو چې د صنايعو د رياست يوه دولتي نقليه وسيله يې په موخه کړې وه ، يو تن کارمند او شپږ تنه نور ملکيان يې ټپيان کړل. د شخړې هيڅ يوه اړخ د دغې پيښې مسووليت پر غاړه نه دی اخيستی.

په قصدي توګه د ځاي پر ځاي کيدونکو چاوديدونکو توکو د لارې د ملکي وګړو په نښه کول کيدای شي په جنګي جرمونو کې و شمېرل شي. د بشر پالنې نړيوال قانون د کوم په رعايت کولو چې د دولت ضد عناصر مکلف دي په بې توپيره او نا متناسبه توګه بريدونه منع کوي چې په هغو کې په قصدي ډول ملکيان تر هدف لاندې نيول کيږي.[100]

## ځاي پرځاي شوي چاوديدونکي توکي چې په ملکي ميشته ځايونو کې نظامي اهداف په نښه کوي

يوناما په دې اړه انديښمنه ده چې د دولت ضد عناصر د ځاي پر ځاي کېدونکو چادوديدنکو توکو کارولو ته ادامه ورکوي څو د ملکي وګړو د هستوګنې په سيمو کې نظامي موخې هدف ونيسي(اکثره وخت مصروفې سيمې چې په کې د ملکيانو ګڼه ګوڼه وي چې په هغو کې بازارونه ، د ښار ګوټو او ښارونو مرکزونه ، جوماتونه او روغتونونو او ښوونځيو ته نږدې ځايونه شامل دي)، چې په کې د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو اغيزې د ملکيانو تر منځ توپير نه کوي او په غير متناسب ډول د ملکيانو تر منځ اثر کوي. د بيلګې په ډول يوناما ۱۶۸ ملکي تلفات(۴۲ مړينې او ۱۲۶ ټپي

[99] يوناما هغه ملکي تلفات د هدفي وژنو په لړ کې ، چېرته چې ځاي پرځاي شوي چاوديدونکي توکي د تاکتيک په توګه کارول شوي دي د هدفي وژنو په لړ کې شميري او هغه د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو په ارقامو کې نه شاملوي. په بله برخه کې د *قتل جنګي جرمونه: د ملکيانو هدفي وژنې* ، وګورئ.

[100] د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ نيټې د ژنيو د کنوانسيون دريمه مشترکه ماده ، د ژنيو د کنوانسيونونو ، او په غير نړيوالو وسله والو شخړو کې د قربانيانو د ساتنې په اړوند دوهم الحاقيه پروتوکول ۱۳ ماده وګورئ. همدارنګه د روم د ۱ ـ ساسنامې ۸ ماده او (ج)، (ح) او (ک) پراګرافونه وګورئ.

کېدنې) د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د کارولو له امله ثبت کړي دي چې جوتېدله په هغو کې د افغانستان ملي اردو په نښه شوې وه چې دا د ۲۰۱۳ [۱۰۱] کال په پرتله ۳۸ سلنه زياتوالى په ډاګه کوي.

د ملکي نفوس دميشت په سيمو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځاي پرځاي کېدونکو چاوديدونکو توکو د چاودنو بېلګې:

- د نوومبر په ۲۹ نېټه ، د لوګر د ولايت د محمد ا ـ غې په ولسوالي کې يو ځاي پر ځاي شوى چاوديدونکى توکى چې د يوه پل د لاندې ايښوول شوى و وچاوديد چې تلفات يې نه درلودل. کله چې محلي زده کوونکي هلته د دې لپاره را ټول شول چې د لومړنۍ چاودنې پايلې وګوري دوهم ځاي پر ځاي شوى چاوديدونکى توکى وچاودېد چې اته ملکي تلفات (دوه زده کوونکي مړه او شپږ نور ټپيان شول) يې را منځته کړل.
- د نوومبر په ۲۴ نېټه ، د کندز ولايت د دشت ارچي په ولسوالي کې محلي روغتون ته نږدې په موټر کې ځاي پرځاي شوي چاوديدونکى توکى چې په کې د افغانستان د ملي اردو موټر په نښه شوى و چاوديد ، ۲۷ ملکي تلفات (اته مړينې چې په کې دوه ميرمنې او دوه ماشومان شامل وو او ۱۹ ټپي کېدنې چې په هغو کې څلور نجونې او درې هلکان شامل وو) رامنځته شول. په شخړه کې شامل هيڅ اړخ د دې مسووليت نه دى منلى.
- د نوومبر په ۳ نېټه ، د دولت ضد عناصرو د پکتيا د ولايت د ګرديز په ښار کې يوه رستورانت ته نږدې يو ځاي پر ځاي شوى چاوديدونکى توکى تعبيه کړ. د هغه د چاودنې له امله ۲۶ ملکي تلفات (څلور مړينې چې په کې يو هلک شامل و او ۲۱ ټپي کېدنې چې په کې څلور هلکان شامل وو) رامنځته شول. په شخړه کې شامل هيڅ يو اړخ د پېښې مسووليت پر غاړه نه دى اخيستى.

د ملکي نفوس په سيمو کې د چاودېدونکو وسلو کارول د ځانګړې انديښنې لامل دى ، ځکه چې دا په حتمي ډول په بې توپيره توګه پر ملکيانو هم په لنډ مهال کې او هم په اوږد مهال کې زياتې شديدې بشري اغيزې لري. د دې انديښنو پر بنسټ د ملګرو ملتونو د سازمان سرمنشي په شخړه کې په شاملو اړخونو باندې غږ کړى چې د ملکي وګړو د ګڼې کونې په سيمو کې د پراخه اغيز لرونکو منفلقه وسلو د کارولو څخه ډډه وکړي. [۱۰۲]


### د سيمې په لحاظ ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي

د تيرو کلونو سره په سمون کې يوناما د ملکي مړينو او ټپي کېدنو چې د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو د کارولو د لارې د هېواد په سهيل ، سهيل ختيځ او ختيځو سيمو کې رامنځته شوي دي مستند کولو ته ادامه ورکړې ، چې ډېر شمير يې د هلمند ، کندهار ، ننګرهار ، فارياب ، خوست او غزني په ولايتونو کې رامنځته شوي دي.

[۱۰۱] په ۲۰۱۳ کال کې يوناما د افغان ملي اردو پر خلاف ۱۲۲ د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو د بريدونو له امله ملکي تلفات (۴۹ وژنې او ۷۳ ژوبلې) مستند کړي دي.

[۱۰۲] په وسله واله شخړه کې د ملکيانو د ساتنې په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي راپور S/2012/376 وګورئ.

**ملکي مړينې او ټپي کېدنې: د سيمې په اساس چاودېدونکي توکي**
**جنوري- ډسمبر ۲۰۱۴-۲۰۰۹**




| | مرکزي سيمه | مرکزي لوره سيمه | ختيځ | شمال ختيځ | شمال | سويل ختيځ | سويل | لوديځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 90 | 0 | 101 | 52 | 47 | 383 | 1079 | 125 |
| 2010 | 108 | 0 | 233 | 199 | 129 | 554 | 1316 | 207 |
| 2011 | 106 | 0 | 234 | 176 | 149 | 597 | 906 | 292 |
| 2012 | 179 | 0 | 181 | 151 | 230 | 653 | 876 | 261 |
| 2013 | 138 | 39 | 288 | 137 | 254 | 675 | 1108 | 253 |
| 2014 | 204 | 7 | 437 | 288 | 357 | 451 | 1013 | 221 |

لکه چې په دغه چارټ کې يې انعکاس موندلی دی په ملکي تلفاتو کې زياتوالي په ۲۰۱۴ کال کې د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکوتوکو له امله رامنځته شوي دي ، او په هغو سيمو کې يې ډېروالي موندلی دی چې د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې د دغو تلفاتو شمير لږ و ، لکه مرکزی ، شمال ختيځ او د شمال سيمې. ملکي تلفات په سهيل ، ختيځ او سهيل ختيځو سيمو کې په همغه حالت کې پاتې دي ، چيرته چې د ملکي تلفاتو اکثريت د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو له لارې پخوا مستند شوي دي.

### د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو ډولونه چې ملکي تلفات رامنځته کوي

د ځاي پر ځاي شويو چاوديدنکو توکو د پيښو د څيړنې پر مهال چې له امله يې ملکي تلفات رامنځته کيږي يوناما د افغانستان او نړيوالو امنيتي موسسو سره مشورې کړي دي ، چې په هغو کې د ولسوالي ، ولايت او د هېواد په کچه د ځاي پر ځاي شويو چاوديدنکو توکو سره د ځنډ کولو متخصيصين شامل دي څو په دې توګه د کاريدونکو ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو ډولونه په يو مشخص بريد کې معلوم شي. يوناما ځاي پرځاي شوي چاوديدونکي توکي د هغه اساسي ميتود له مخې چې په کې د ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکو توکو چاودنه ترسره کيږي[۱۰۳] کټګورۍ کيږي ، چې په هغو کې د فشار / د قرباني د تماس سره فعاليدونکي ځاي پرځاي شوي چاوديدونکي توکي ،له لېرې / د راډيو / د

[۱۰۳] يو ځاي پر ځاي شوی چاوديدونکی توکی د چاودونې ورکولو د سيستم پر بنسټ چاودول کيږي ، چې کيدلای شي هغه د فشار تخته وي ، موبايل ټيليفون ، راديو ، ټايمر او ياهم سيم وي چې په فزيکي لحاظ د وسيلې سره وصل وي. و ګورئ د کنترول شويو ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو د پوهې لاربښود ، ملکي نظامي ګډ مرکز (CFC ) *د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکوپر اساساتو پوهېدنه*. د ۲۰۱۱ کال سپټمبر ، په *www.cimicweb.org/CounterIED/20110912_c-IED_Topical_report_introduction_to_IEDs%20-https://:draft%5B1%5D.pdf,* د ۲۰۱۴ کال د جون له ۸ نيټې څخه د لاس رسی وړ دی.

قوماندې د لارې  کنترول شوي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي ، ځان مرګي ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي او مقناطیسي ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي  شامل دي.[١٠٤]

**له  له لېرې / قوماندې څخه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو  له امله ملکي تلفات**

> *زه ماسپښین مهال پخپل کور کې وم کله چې مې د چاودنې غږ واورید. څو دقیقې وروسته زما یو خپلوان په موبایل راسره وغږید. د هغه غږ ډیر نا ارامه و او دا ستونزمنه وه چې د هغه په خبره پوه شم. په پاي کې زه خبر شوم چې زما دوه کوچني ورونه چې د کانال پر څنډه کې هغه مهال چې هلته یې لوبې کولې په چاودنه کې ټپیان شوي دي. د پېښې ځا   ی ته ورمنده کړه او و مې لیدل چې خلک هلته پرځمکه پراته دي او په وینو لړلي دي. ما خپل دوه ورونه هم چې د دوو نورو ما شومانو سره پر ځمکه پراته وو ولیدل. پولیس را سره مرسته وکړه چې زما ورونه او نور ماشومان یوې نقلیه وسیلې ته پورته کړو او هغوي مو د میرویس روغتون ته ولیږدول. دې پېښې زه او زما کورني خورا غمجنه کړه.١٠٥*
>
> د  هغو دوو هلکانو (یو لس کلن او ١٢ کلن) ورور چې له لېرې څخه د کنترول شوي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي په وسیله چې د ملي امنیت یوه نقلیه وسیله یې د کندهار د ولایت د کندهار په ښار کې د ٢٠١۴ کال د اکتوبر په ١٩ نیټه په نښه کړې وه ټپیان شوي دي.

په ٢٠١۴ کال کې یوناما ١١١٩ ملکي تلفات (٢٣۴ مړینې او ٨٨٥ ټپي کېدنې) چې له لېرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې را منځته شوي دي ، او د ٢٠١٣ کال په پرتله یوه څه کمښت(درې سلنه) په ډاګه کوي ثبت کړي دي.[١٠٦]

د یو لږ څه کمښت سره سره له لېرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په لړ کې د ټولو هغو ملکي تلفاتو چې ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو رامنځته کړ ي٣٨ سلنه تشکیلوي چې دا د ټولو ملکي تلفاتو ١١ سلنه ده. که څه هم له لېرې څخه کنترول شوي چاودیدونکي توکي داسې ډیزاین شوي دي چې په تخنیکي لحاظ اپریټرانو ته(کاروونکو ته یې) د دې امکان ورکوي چې دغه چاودیدونکې وسیله هغه مهال وچوي کله چې هدف د موخې ځاي ته په حرکت کې وي او په دې توګه کیدلای شي چې په زیاته پیمانه توپیر په کې وشي ، د دغو وسیلو په هغو محلاتو کې چې ملکي وګړي په کې میشته دي او د هغو په چاودونه کې تیروتنه (په ځنډ او یا هم تر مخه چاودونه) اکثره وخت په زیاته پیمانه کې ملکي تلفات رامنځته کوي.

یوناما همدارنګه دا مستنده کړې ده چې د دولت ضد عناصرو له خوا چې په کې طالبان هم شامل دي د نا متناسبه بریدونو په  سرته رسولو سره چې په کې  له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي کارول کیږي او په کې ملکیانو ته زیان اوړي د پام وړ دی- او هغه کسان چې دغه ډول ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي کاروي باید چې په منطقي لحاظ د دغه زیان وړاند وینه یې کړې واې-  چې له برید څخه د مستقیمې او مشخصې نظامي بریا سره په تړاو کې وي.

---

[١٠٤] د ځاي پر ځاي شویو چا ودیدونکو توکو د ډولونو د تعریف او تشریح لپاره د اصطلاحاتو برخه وګورئ.


[١٠٥] د کندهار په ولایت کې د ٢٠١۴ کال د اکتوبر په  ٣٠ نېټه د یوناما مرکه.

[١٠٦] په ٢٠١٣ کال کې یوناما  له لېرې څخه د کنترول شویو چاودېدونکو توکو د کارونې له امله ١١۴٩ ملکي تلفات (٢٥٧ وژنې او ٨٩٢ ژوبلې) ثبتې کړي دي.

**له لیري ښخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو له لارې د ملکي تلفاتو نمونې:**

- د ډسمبر په ۲۰ نېټه له لېرې ښخه کنترول شوی چاودیدونکی توکی چې د طالبانو له خوا د کنړ د ولایت د ناړۍ په ولسوالي کې په عمومي سړک ځاي پرځاي کړا ی شوی و و چاودید او یوه شخصي نقلیه وسیله یې و وهله چې ۱۰ تنه ملکي تلفات (اوه مړینې چې په کې ځلور نارینه یوه اوه کلنه نجلۍ او دوه هلکان چې د شپږو او اوو کلونو وو شامل وو او درې نور ټپیان شول) رامنځته کړل. طالبانو د دغه برید مسوولیت په غاړه واخیست او د دې دعوه یې وکړه چې ځلور پولیس یې وژلي دي.
- د نوومبر په ۱۸ نېټه د دولت ضد عناصرو د خوست د ولایت د ځاځي میدان په ولسوالي کې د یوې ملکي نقلیه وسیلې په وړاندې له لیرې ښخه کنترول شوې چاودیدونکې وسیله وچاودوله چې ۱۴ تنه ملکي تلفات یې رامنځته کړل (یوه میرمن و وژله شوه او ۱۳ تنه نور ژوبل شول ، چې په کې ځلور میرمنې او دوه نجونې شاملې وې).
- د نوومبر په ۳ نېټه د پکتیا د ولایت د ګردیز په ښار کې د دولت ضد عناصرو د چایو په یو ترموز کې له لېرې ښخه کنترول شوی ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکی تعبیه کړی و چې وروسته بیا وچاودېد. دغه برید ۲۶ تنه ملکي تلفات (ځلور مړینې چې په کې یو ماشوم هم شامل و ، او ۲۲ ټپي کېدنې چې په هغو کې پنځه تنه یې ماشومان وو) رامنځته کړل.
- دسپتمبر په ۱۹ نېټه له لېرې ښخه کنترول شوي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکی توکی له لارې چې د سولې د ولایتي شورا غړی یې په نښه کړی و د بغلان د ولایت د بورکه ولسوالي په مرکزي بازار کې و چاودېد ، چې ۱۶ ملکي تلفات (شپږ مړینې ، چې په هغو کې درې هلکان شامل وو ، او ۱۳ ټپي کېدنې چې په کې شپږ هلکان شامل وو ) رامنځته شول.

په جګړه کې د ټولو ښکیلو اړخونو ښخه غوښتل کیږي چې د توپیر کولو او تناسب هغه اصول چې د بشر پالنې په نړیوال قانون کې راغلي دي رعایت کړي. په داسې حال کې چې له لېرې ښخه کنترول شوي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي ښایي چې د نظامي هدفونو د په نښه کولو په لړ کې په دقیق ډول توپیر رامنځته کړي ، د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې اپریټر مکلف دی چې د 'ضمنی زیان' مخه ونیسي او یا هم لږ تر لږه هغه د عملیاتو پر مهال تر لږې اندازې پورې راټیټ کړي او له هغو بریدونو ډډه وکړي چې په نا متناسبه توګه ملکیانو او ملکي هدفونو ته زیان اړوي.



**د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د لارې په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی**

*ما د صحنې څخه تقریبا سل متره لېرې لوکولو کله چې مې د چاودنې زره بوګنونکی غږ واورېد. بیا مې ولېدل چې زما ماشومان پر ځمکه په وینو کې لت پت پراته وو. زما ګاونډیانو ،خپلوانو د چاودنې ځاي ته منډه کړه او ماشومان مو روغتون ته یوړل. چاودنه زما د کور په څو متری کې وشوه. زما ماشومانو مېږه سیند ته بولې وه او بیرته کورته پر لاره وو چې هغوي پر یوه ماین وختل(ملي اصطلاح چې عموما - د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکي توکي لپاره کاروله شي). دغه توکی وچاودېد چې درې واړه یې تېپیان کړل: زما دوه لونې، د شپږو او اتوو کلونو ، او زما زلمی زوی. زما زلمی زوی د شبرغان په روغتون کې په همغه ورځ ومړ.*[107]

د-جوزجان د ولایت د ا - قچې په ولسوالي کې د ۲۰۱۴ کال د اګست په ۱۹ نېټه د فشار په ذریعه د فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي د لارې د دوو ټپي شویو نجونو او یوه وژل شوي هلک پلار.

یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د قرباني په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په بې توپیره ناقانونه توګه په کارولو کې د زیاتوالي له امله په جدي توګه اندیښنه څرګندوي. یوناما په ۲۰۱۳ کال کې د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په کارولو کې کمښت مستند کړی دی. په ۲۰۱۴ کال کې یوناما ۷۷۵ ملکي تلفات (۴۱۷ مړینې او ۳۵۸ ټپي کېدنې) د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د لارې ثبت کړي دي ، چې د ۲۰۱۳ کال په مقایسه ۳۹ سلنه زیاتوالی ښي.[108] د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د لارې د ټولو تلفاتو ۲۶ سلنه تشکیلوي ، او د ټولو تاکتیکونو اوه سلنه جوړوي.

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د فشار په ذریعه دناقانونه فعالیدونکو چاودیدونکو توکو[109] د کارولو پیښو په هغو ځایونو کې چې څرګندیږي هغه د ځانګړو نظامي هدفونو پر لور نه وو ، او د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په دې توګه چاودول چېرته چې یې اغیزې یې محدودې نه وي او د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه سرغړونه وه تصدیقولو ته ادامه ورکړې.[110] یوناما په مارکیټونو ، عامه سړکونو او نورو عامو ساحو کې چېرته چې ملکیان تګ او راتګ کوي د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو چاودنې مستندې کړې دي.[111]

---

[107] د ۲۰۱۴ کال د اګست د میاشتې په ۲۱ نېټه د یوناما مرکه.

[108] په ۲۰۱۳ کال کې یوناما ۵۵۸ ملکي تلفات (۲۴۶ وژنې او ۳۱۲ ژوبلې) چې د قرباني د تماس سره فعالیدونکي ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو څخه را ولاړ شوي مستند کړي دي ، چې زیاتره یې د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي دي.

[109] د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي په اصل کې د قربانی له خوا فعالیدونکي بمونه دي او هغه مهال چوي کله چې یو شخص او یاهم نقلیه وسیله وربانديې تیره شي. په دې توګه دغه ډول د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي بې توپیره کاریدونکي او ناقانونه وسلې دي.

[110] افغانستان د پرسونل ضد ماینونو د زیرمه کولو ، تولیدولو او لیږد د منع او د هغوي د ویجاړولو(" د اټاوا کنوانسیون" او یا هم د ماینونو د منع کولو قانون) لاسلیک/تایید کړی دی. دغه تړون په فابریکه کې جوړ شوي د پرسونل ضد ماینونو اود قرباني د تماس سره فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي لکه د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو کارول منع کوي. په کنوانسیون کې د " ماین" تعریف ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي احتوا کوي ، دا تر هغه ځاي پورې چې داسې ډیزاین شوي وي چې د ځمکې لاندې ، او یا ځمکې ته نږدې او یا هم په بله سطح کې کښېښودل شي ، د یو شخص او یا هم نقلیه وسیلې په نږدې کېدو او یا هم تماس سره وچوي.

[111] د دولت ضد عناصر ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي په تیره هغه چې د فشار په ذریعه فعالیدونکې ماشې سره تجهیز شوي وي کوچنې د پلیو دلارې څخه واخله ترلویو ترانزیتي لارو پورې د پاسه نصبوي چې هغه ملکیان چې پلي وي ، او یا هم پربایسکلونو ، بسونو ، ټکسي ګانو او شخصي موټرو کې سپاره وي وژني او ټپي کوي.

د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي په افغانستان کې په عمومي توګه داسې عیار شوی دي کله چې وربانديې څوک پورته شي او یاهم پرې د یوې نقیله وسیلې د لارې تیر شي چوې او ډیری یې نږدې د ۲۰- ۲۵ کلوګرامو تر منځ چاودیدونکي مواد لري (اکثره هغه کورني جوړ چاودېدونکي توکي دي [۱۱۲])؛ چې دا د یوه د ټانک ضد ماین څخه دوه برابره زیات چاودیدونکي مواد لري خو ماشه یې د پرسونل ضد ماین څخه زیاته حساسه ده. دا په دې مانا ده چې د فشار په ذریعه فعالیدونکی ځاي پر ځای شوی چاودیدونکی توکی د یوه کتله ییز پرسونل ضد ماین په توګه په اغیزمن ډول عمل کوي (چې دا په افغانستان کې یوه ناقانونه وسله ده او د دې په یادونې سره چې افغانستان د پرسونل ضد ماینونو د منع کولو د کنوانسیون غړیتوب لري) او د دې ظرفیت لري چې په شدید ډول پرسونل او نقلیه وسیلو ته ډېر زیات او د ناورین څخه ډک زیان واړوي.

هغه ملکیان چې په دغو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو باندې ېښه ږدي او یاهم پرې په عادی نقلیه وسیلو کې تیرېږي(بې زغرې) د هغو په وړاندې مدافعه نه لري او له امله یې د ژغورنې ډېر کم امکان لري. په ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې خلک د پام وړ شمېر ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو سره مخ شوي دي چې د چاودیدونکو موادو وزن یې نږدې ۴-۲ کلوګرامو ته رسیدلو چې په ځانګړې توګه د دې لپاره ډیزاین شوي دي چې وګړي په پښو ټپي او یا هم و وژني.[۱۱۳]

**د فشار په ذریعه د فعالېدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو بیلګې:**

- د ډسمبر په ۲۱ نېټه د فاریاب ولایت د شرین تګاب په ولسوالي کې یو ماشوم هغه مهال چې لوبې یې کولې د فشار په ذریعه په فعالیدونکي چاودیدونکي توکي وخوت. د دغې چاودنې په پایله کې پنځه تنه ماشومان و وژل شول.
- د اکتوبر په ۲۵ نېټه د سیمه ییز پولیسو یوه نقلیه وسیله چې سیمه ییز پولیس او ملکیان یې لیږدول د کندهار د ولایت د میوند په ولسوالي کې د فشار په ذریعه په فعالیدونکي توکي وربرابره شوه . دغه وسیله وچاودېدله چې اوه ملکي تلفات(درې مړینې او څلور ټپي کېدنې) یې رامنځته کړل. دغې چاودنې همدارنګه د سیمه ییز پولیس یو غړی و واژه او بل یې ټپي کړ.
- د سپټمبر په ۱۵ نېټه د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکی چې د طالبانو له خوا ایښوول شوی و او افغان ملي پولیس یې په نښه کړي و هغه مهال وچاودید کله چې د بلخ د ولایت د شور تېپې په ولسوالي کې یو سړی وربانديې ور برابر شو . طالبانو د دغه برید مسوولیت منلی او ویلي یې دي چې دغه شخص د افغان سیمه ییز پولیسو غړی و.
- د جولای په ۲۰ نېټه یوه شخصي نقلیه وسیله د فشار په ذریعه په فعالیدونکې چاودیدونکې توکي باندې چې د طالبانو له خوا د فاریاب ولایت د قیصار په ولسوالي کې ځاي پر ځای شوی و ور وختله. دغې چاودنې اته ملکي تلفات چې ټول یې د افغان سیمه ییز پولیسو د قوماندان د کورنۍ غړي وو رامنځته کړل (څلور تنه چې په کې دوه ماشومان شامل وو و وژل شول او څلور نور یې ټپیان شول چې په هغو کې دوه یې نجونې دي). طالبانو د پیښې مسوولیت منلی دی.

---

[۱۱۲] په "کورکې جوړ شوي چاودیدونکي" هغه چاودیدونکي توکي دي چې په کورونو کې د موجودو کیمیاوي او نورو موادو څخه جوړ شوي وي.

[۱۱۳] د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په میاشت کې په کابل کې د ایساف په قرار ګاه کې د ایساف د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د خنثي کولو د ټیم سره د یوناما مرکه.

- د اګست د میاشتې په ۱۰ نېټه د یوه ملکي شخص درې څرخه د غزني د ولایت د ګیلان په ولسوالي کې د فشار په ذریعه په فعالیدونکې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي ور برابره شوه  چې په عمومي سړک یې خښ کړی و. د چاودنې په پایله کې هغه درې ملکیان و وژل شول چې په دغه درې څرخه بایسکل سپاره وو.

**د مقناطیسي ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو رامنځته کېدل**

> *ما خپل موټر ماسپښین مهال وخته را خیست ځکه چې زه د همکارانو سره د تدفین مراسمو ته تلونکی وم . کله چې موږ د[ حکومتي ودانی]*[114] *مرکزي دروازې ته و رسیدلو چېرته چې زما موټر ولاړ و ، نو یو تن امنیتي محافظ موږ ته و ویل چې موټر خوشې کړو ځکه چې هغه په کې یو شکمن شی مشاهده کړی دی.  افغان ملي پولیس راغلل او په هغه کې یې یو مقناطیسي ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکی وموند. زه نه پوهیږم چې زه ولې هدف ګرځېدلی یم او د دې وروسته باید څه وکړم. ما هیڅ شی نه دي کړي یواځې په دې روغتون کې د خلکو درملنه کوم خو له دې وروسته زه ډاریږم.*[115]
>
> -- حکومتی چارواکی چې د پکتیا د ولایت د ګردیز په ښار کې د مقناطیسي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي په وسیله د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په۱۸ نېټه هدف ګرځیدلی دی. دغه ځاي پرځای شوی چاودیدونکی توکی په مصوون ډول خنثی شوی او هیڅ تلفات یې نه درلودل.

په ۲۰۱۴ کال کې یوناما ۲۴۱ ملکي تلفات (۲۰ مړینې او ۲۲۱ ټپي کېدنې) چې د مقناطیسي ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو له امله رامنځته شوي دي چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۱۳۶ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي مستند کړي دي.[116] په ډیری دغو پیښنو کې د دولت ضد عناصر ښکیل دي چې مقناطیسي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي د افغان امنیتي ځواکونو په نقلیه وسیلو کې نصبوي چې اکثره وخت د ملکیانو لپاره ناوړه پایلې له ځان سره لري.

**د مقناطیسي ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو څخه را ولاړ شوي ملکي تلفات:**

- د اکتوبر په لومړۍ نېټه یو مقناطیسي ځای پر ځای شوی چاودیدونکي توکی د کندز د ولایت د کندز په ښار کې د بانک تر څنګ وچاودېد چې افغان ملي پولیس یې په نښه کړی وو ، چې دهغه له امله ۱۶ ملکي تلفات (یوه مړینه او ۱۵ ټپي کېدنې یې چې په هغو کې یوه ښځه او دوه ماشومان شامل وو ) رامنځته کړل. طالبانو د دغې پیښې مسوولیت پر غاړه واخیست او دایې اعلان کړه چې پنځه تنه ملي پولیس یې وژلي دي.
- د اکتوبر په ۱۶ نېټه د بغلان د ولایت د پلخمري په ښار کې یو مقناطیسي ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکی په یوې شخصي نقلیه وسیلې پورې نښلول شوی و ، د ولایتي محکمې د ودانۍ پر وړاندې وچاودید چې دوه مدافع وکیلان یې و وژل. طالبانو د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخیست.

---

[114] دقیق ځاي د امنیتي اندیښنو له امله  نه دی یاد شوی.

[115] د ۲۰۱۴ کال داکتوبرپه ۲۶ نېټه د پکتیا د ولایت د ګردیز په ښار کې د یوناما مرکه.

[116] په ۲۰۱۳ کال کې یوناما ۱۰۲ ملکي تلفات(۱۲ وژنې او ۹۰ ټپي کېدنې) د مقناطیسي ځاي پرځاي شویو چاویدونکو توکو له امله مستند کړي دي.

- د اکتوبر په ۱۸ نېټه د کندز د ولایت د کندز په ښار کې د یوه مقناطیسي ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکي له لارې د سولې د ولایتي شورا یو تن غړی هدف ګرځول شوی و چې د یوه جومات په محوطه کې وچاودېد. ۶ تنه ملکیان په کې ژوبل شول چې یو تن یې د ولایتي شورا غړی و. په شخړه کې ښکیل هیڅ اړ خ هم د دغې پیښې مسوولیت پر غاړه وانه خیست.
- د نوومبر په ۱۸ نېټه د بغلان د ولایت د نوي بغلان د ولسوالي د بزکشی په سټېډیوم کې یو مقناطیسي ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکی وچاودېد چې ۲۴ ملکیان یې (د درې هلکانو په شمول) ټپیان کړل. لکه چې جوتېږي اساسي هدف د ANCOP غړي وو چې هغوي د بزکشی د مسابقې ننداره کوله. په شخړه کې ښکیل هیڅ اړخ د پیښې مسوولیت نه دی منلی.

### ځانمرګي او ډله ییز بریدونه [117]

*د غرمې د ډوډۍ وخت و او ما د خپل میړه ویونښتل چې هغه کورته راځي او که نه. موږ لا هم په ټیلیفون خبرې سره کولې چې د چاودنې یو ستر غږ مې واورید او زموږ اړیکه پرې شوه. زه د هغه په اړه په اندیښنه کې شوم او عمومي سړک ته په منډه شوم څو وګورم چې څه پیښه وشوه. ما ډېر ټپیان او مړي ولیدل چې پر سړک پراته وو. خلک ډار شوي وو او د دغې ساحې څخه په تیښته کې وو. خلکو راته و ویل چې یوه تن ځان مرګي بریدګر د کرولا موټر هلته وچولو چې د نړیوالو نظامیانو ټرک لارۍ یې په نښه کړې وې. زه د خپل میړه په لټه کې شوم خو هغه مې و نه شو موندلای. زه څو روغتونونو ته ولاړم چې هغه ولټوم. په یوه روغتون کې مې ډېر مړي او ټپي کسان چې د مرستې لپاره یې چیغې وهلې ولیدل. په پای کې مې خپل میړه د کوما پر حالت کې ولید. زه د دغه روغتون ډېره مشکوره یم چې زما میړه ته وړیا درملنه برابروي. ډاکټرانو راته و ویل چې زه دې پاکستان او یا هند ته یوسم چې ښه درملنه یې وشي او زه دا نه شم کولای ، ځکه چې زه ډېره بې وزلې یم او زما د کورنۍ یواځینی نفقه برابرونکی زما میړه دی او هغه په کوما کې دی. زه څوک یم چې طالبانو او د دولت ځواکونو ته و وایم چې جګړه بس کړي؟ خو زه به په جګ غږ و وایم: مهرباني وکړئ کله چې جنګیږئ زموږ بې وزلې ټپیان ، زموږ په څیر عادي وګړي مه وژنئ. ولې تاسو په هغو سیمو کې نه جنګیږئ چېرته چې ملکیان نه اوسیږي؟ زه قران پاک لوستی شم او په هغه کې راغلي دي چې د جګړې پر مهال د بې ګناه خلکو وژنه د اسلام ضد عمل دی.* [118]

-- د ۲۰۱۴ کال د اګست په ۱۰ نېټه د کابل په ښار کې د نړیوالو ځواکونو د نظامي کتار په وړاندې په موټر کې د ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي په ځان مرګي برید کې د ټپي شوي یوه ملکي کس میرمن. په دغه برید کې څلور ملکي وګړي و ژل شول او ۳۴ نور ټپیان شول.

[117] د ، پیچلي برید ، څخه د یوناما تعریف د هغه قصدي او همغږي شوي برید څخه عبارت دی چې په کې د ځانمرګي برید توکی (لکه په ځان پورې تړل شوې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکې وسیله او په موټر کې ځاي پرځاي شوی چاودیدونکی توکی) او د یوه کس څخه زیات بریدګر او د یو ډول څخه زیات توکي (لکه په بدن پورې تړل شوي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي او هاوانونه) شامل وي. ټول دغه درې واړه عناصر باید د یو برید لپاره موجود وي څو دغه ډول برید پیچلي برید وبلل شي.

[118] د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په ۲۸ نېټه د کابل په ښار کې د یوناما مرکه.

په ۲۰۱۴ کال کې یوناما ۱۰۷ جلا جلا ځانمرګي او پیچلي بریدونه ثبت کړي دي چې د ۱۵۸۲ ملکي تلفاتو (۳۷۱ مړه او ۱۲۱۱ ټپي) لامل شول ، او داد ۲۰۱۳[۱۱۹] کال په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی څرګندوي. د څمکنیو نښتو او د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو وروسته ځانمرګي او پیچلي بریدونه په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي مړینو او ژوبلو دریم ستر لامل و.

طالبانو په ډاګه د ۵۶ ځانمرګو او پیچلو بریدونو مسوولیت منلی دی چې د هغو په پایله کې ۸۱۷ ملکي تلفات (۱۷۲ مړینې او ۶۴۵ ژوبلې) رامنځته شوي دي. د بیلګې په ډول د جولای په ۸ نېټه د طالبانو یو تن ځانمرګي بریدګر د پروان د ولایت د بګرام په ولسوالي کې په بایسکل کې ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکی د ایساف او افغان ملي اردو د ګډې ګزمې په وړاندې وچولو. دغو سرتیرو ماشومانو ته د ښوونځي قرطاسیه ویشله. دغې چادونې ۲۰ ملکي تلفات(۱۲ مړینې چې په کې ۱۰ ماشومان هم شامل وو او اته ټپي کېدنې چې په کې شپږ ماشومان ، یو نارینه او یوه ښځه وو) را منځته کړل. ایساف ته۱۲ تنه په داسې حال کې چې افغان ملي اردو ته درې تنه تلفات وا وښتل. طالبانو د دغه برید مسوولیت منلی او دایې ویلي دي چې د ایساف ۱۵ تنه نظامیان یې وژلي دي.

یوناما د ځانمرګو بریدونو په زیاتو پیښو کې داسې پیښې مستندې کړي دي چې په هغو کې دیوې تیروتنې سره ځانمرګې وسیله په نا سمه توګه فعاله او د وخت وړاندې چاودلې ده . په دغه ډول پیښو کې هیڅ یو اړخ هم مسوولیت نه دی منلی. د بیلګې په ډول د جولای په ۱۵ نېټه یو تن ځانمرګي بریدګر د وخت وړاندې په موټر کې ځاي پر ځاي شوې چاودېدونکې وسیلې ته د پکتیکا د ولایت د ارګون په بازار کې چاودنه ورکړه. دغې چاودنې ۱۳۸ ملکي تلفات (۴۳ مړینې چې په کې شپږ هلکان او ۹۵ ټپي کېدنې چې په هغو کې دوه یې ماشومان وو) را منځته کړل. د دغې چاودنې زور په بشپړ ډول ۲۵ دوکانونه او ۱۸ نقلیه وسیلې له منځه وړي دي. په همدغه ولسوالي کې د جولای په ۹ نېټه طالبانو د هغه ځانمرګي برید مسوولیت پر غاړه واخیست چې په کې افغان سیمه ییز پولیس په نښه شوي وو چې په پایله کې یې درې ملکیان مړه او اته نور ټپیان شول.

په قصدي توګه د ملکیانو په نښه کول او همدارنګه په بې توپیره توګه د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو د ځانمرګو بریدونو تاکتیکونه د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه چې په افغانستان کې په جګړه کې ټول ښکیل اړخونه مکلف کوي څو هغه رعایت کړي ، جدي سرغړونې دي.

**د هغو ځانمرګو او پیچلو بریدونو بیلګې چې ملکي تلفات رامنځته کوي:**

- د ډسمبر په لومړۍ نېټه د بغلان د ولایت د بورکه په ولسوالي کې د جنازې په مراسمو کې یوه ځانمرګې بریدګر د ځان سره موجود چاودیدونکي مواد د هغې ولسوالي په بازار کې وچاودول. دغې چاودنې ۳۱ ملکي تلفات (نهه تنه مړه او ۲۲ تنه ټپیان چې په کې څلور یې هلکان وو) رامنځته کړل.
- د سپتمبر په ۲۹ نېټه یوه تن ځانمرګي برید ګر چې پخپل ځان پورې یې ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکی تړلی و د کابل د هوایي ډګر په ساحه کې وچاودولو چې هغه مستقر شوي افغان امنیتي ځواکونه په نښه کړي چې د ولس مشرۍ د مراسمو لپاره یې امنیت برابرولو. په دغه چاودنه کې ۲۰ ملکي تلفات (پنځه وژنې د یوه هلک په شمول او ۱۵ ټپي کېدنې د دوو هلکانو په شمول) رامنځته کړل. په دغه برید کې د افغان امنیتي ځواکونو غړي هم مړه او ټپي شول. طالبانو دپیښې مسوولیت منلی دی.[۱۲۰]

---

[۱۱۹] په ۲۰۱۳ کال کې یوناما ۱۲۳۶ ملکي تلفات (۲۵۵ مړینې او ۹۸۱ ټپي کېدنې) د پیچلو او ځانمرګو برید ونو له امله ثبت کړي دي.

[۱۲۰] و ګورئ (http://shahamat.com/index.php/news/49798-martyr-attack-flares-up-kabul-international-airport ) او په کې د دې وینا شوې ده چې هغوي " په لسګونو" بهرني سرتیري وژلي دي.

- د اګست په ۱۰ نېټه یوه تن ځانمرګي بریدګر په موټر کې ځاي پر ځای شوی چاودیدونکی توکی چې په کابل کې یې نړیوال نظامي ځواکونه په نښه کړي وو وچولو. دغې چاودنې ۳۹ ملکي تلفات (څلور تنه د دوو ښځو ، یوه هلک او یو نارینه په شمول مړه او ۳۵ تنه نور د ۱۴ ماشومانو په ګډون ژوبل کړل). دغې چادونې د پیښې په ځاي کې د اوسېدنې کورونو ته هم تاوان واړولو. طالبانو د برید مسوولیت منلی او دا یې اعلان کړي چې هغوي اته تنه بهرني نظامیان وژلي او " نور ګڼ شمیر"[۱۲۱] یې ژوبل کړي دي.
- د جولای په ۲۴ نېټه یوه تن ځانمرګي بریدګر په موټر کې ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکی توکی د تخار د ولایت د خواجه غار په ولسوالي کې د ګنې ګوڼې په یوه سیمه کې چې افغان سیمه ییز پولیس یې په نښه کړي وو وچاودولو. دغې چاودنې ۳۴ ملکي تلفات (۱۱ مړینې د یوې ۱۱ کلنې نجلۍ په شمول او ۲۳ ټپي کېدنې چې په هغو کې یوه میرمن او شپږ هلکان شامل وو) رامنځته کړل. هیڅ اړخ د برید مسوولیت نه دی منلی.

**نوومبر ۲۰۱۴ – د والیبال د لوبې پر مهال هغه ځانمرګی برید چې ۱۳۸ تنه ملکي تلفات(۵۳ وژنې او ۸۵ ټپي کېدنې) یې رامنځته کړل**

*د نوومبر په ۲۳ نېټه ، ۴۰۰ تنه وګړي- چې ډېری یې ماشومان وو- د پکتیکا ولایت د یحی خیلو په ولسوالي کې راټول شوي وو څو د ولسوالیو ترمنځ د والیبال د سیالیو د ټورنمنت ننداره وکړي. نږدې د ماښام په ۵ بجو کله چې د یحی خیلو او یوسف خلدي د ولسوالي ټیمونو د والیبال په میدان کې د خپلو مینه والو له خوا هرکلی کېدلو لوبه پاي ته نږدې کېدې وه یوه تن ځانمرګي بریدګر چې د ننداره کوونکي په جامه کې یې ځان پټ کړی و پخپل ځان پورې تړلي ځاي پر ځاي شوی چاودېدونکی توکی په دغه ګڼه ګوڼه کې وچاودول. د افغان سیمه ییز پولیسو غړي چې هغوي هم ددغې سیالۍ ننداره کوله د ګومان له مخې د برید موخه وه.*

یوناما ۱۳۸ ملکي تلفات (۵۳ مړینې چې په هغو کې ۲۱ تنه ماشومان شامل وو او ۸۵ ژوبلې چې په کې ۲۶ ماشومان وو) مستند کړي دي. په دغه برید کې همدارنګه لس تنه سیمه ییز پولیس د دوو محلي قوماندانانو په ګډون و وژل شول.

د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر د ۶ نېټې د هغه ځانمرګي برید څخه را وروسته چې په کابل کې د ابوالفضل د جومات د ننوتو په دروازه کې وشو او په کې ۵۶ تنه ملکیان مړه او ۱۹۵ ټپیان شول د یحی خیلو په برید کې تر نورو منفردو پېښو زیات ملکیان و وژل شول.

[۱۲۱] وکورئ- http:// shahamat-english.com/index.php/news/48074-killed-martyr-attack-hit-us-nato-convoy-2-armed-tanks-eliminated.




هغه طبي راپورونه چې د یوناما له اړخه کتل شوي دي په هغو کې "کوچنۍ مرمۍ" د قربانیانو په بدنونو لېدل شوي دي چې د یوناما د مشاهدې له مخې زیاتره یې بول برینګونه(ساچمې) وو چې د چاد‌ېودنکي توکي سره نښلول شوي وو څو په دې توګه د تاوان کچه لوړه کړي.

عیني شاهدان او ژغورل شوي کسان یوه غمجنه صحنه تمثیلوي چې څنګه د خوښۍ یو مناسبت چې په کې د دوو ولسوالیو اوسیدونکي سره راټول شوي وو پر یوې بوګونکې غمیزې واوښت. یو تن کلیوال و ویل: " مورږ *ټول ډېر خوښ وو او هر یوه د خپلې خوښې د ټیم څخه ستاینه کوله. ما د لوبې ننداره کوله چې ناڅاپه مې د شاته کتارونو څخه یو ډارونکی غږ واورید او لکه د طوفان په څیر یو ې څپې زه لېرې ګوزار کړم. ما یوه تیزه رڼا ولیدله او بیا ډېر سخت پر ځمکه راپرېوتم.* "

یو تن ځوان هلک چې په دغه ګڼه ګوڼه کې و هم یوناما ته و ویل: " *زمورږ کور د لوبې میدان ته نږدې دی ، نو ځکه زه د خپل ورور او د تره زوي سره  په دغه ورځ د والیبال نندارې ته ورغلم... زه په چابکۍ سره ورتلم او لومړني کتار ته ورغلم. هلته په سلګونو ، ځوان ، زاړه او ماشومان وو. مورږ ډېر خوښ وو او د دواړو ټیمونو ستاینه مو کوله... ما د خپلو دوو ټولګیوالو سره د لوبې ننداره کوله او مورږ په واقعي ډول د لوبې څخه خوند اخیست. کله چې چاودنه وشوه نو زه څو متره بلې خواته والوتم... هلته زما چاپیره ډېر مړه کسان پراته وو ، او ځمکه به وینو لړلې وه. زه وډار شوم او اوښکې مې جاري شوې.* "

په جګړه کې ښکیل هیڅ اړخ د برید مسوولیت نه دی منلی. یوناما دغه " بې توپیره برید *غندلی دی* چې په *بشپړ ډول د ملکي وګړو د ژوندانه د نه درناوي [ څرګندویه ] دی* " ، او په دې ټینګار کوي چې په بې توپیره توګه د چاودېدونکو توکو په ملکي وګړو د هستوګنې په سیمو کې کارول د بشر پالنې د نړیوال قانون ښخه جدي سرغړونه ده او کیدای شي چې په جنګي جرمونو کې و شمیرل شي.[۱۲۲] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا هم دغه برید غندلی دی ، او ټینګار یې کړی دی چې مجرمین باید د عدالت منګولو ته وسپارل شي.[۱۲۳] طالبانو دغه برید غندلی دی او ویلي یې دي چې هغوی ددغې پیښې څېړنه کوي.[۱۲٤]




## د قتل جنګي جرم: د ملکیانو هدفي وژنې

هدفي وژنې په ۲۰۱۴ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۱ سلنه تشکیلوي. یوناما ۱۱۱۴ ملکي تلفات (۷۵۳ وژنې او ۳۶۱ ټپي کېدنې) د هدفي وژنو[۱۲۵] په ۶۶۸ بیلا بیلو پیښو کې ثبت کړي دي چې د ۲۰۱۳[۱۲٦] کال په پرتله پنځه سلنه کموالی ښيي .

[۱۲۲] د یوناما خبري پاڼه " یوناما په کلکه هغه ځانمرګی برید غندي چې له امله یې لږ تر لږه ۵۰ ملکیان و وژل شول او ۶۰ نور ټپیان شول ،" د ۲۰۱۴ کال د نوومبر ۲۴ په .http:// unama.unmissions.org/ کې وګورئ.
[۱۲۳] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ، مطبوعاتي خبر پاڼه ، د ۲۰۱۴ کال د نوومبر ۲۴ نیټه ، SC/11664-AFG/431
[۱۲٤] وګورئ http://alemra1.org/index.php.paighmoona/59712, 25 November,2014 (ورته ورروستی رسېدنه د ۲۰۱۵ کال د جنوری ۲۷ نیټه.)
[۱۲۵] د هدفي وژنو په کټګورۍ کې همدارنګه ځینې داسې وژنې راځي چې په کې قرباني د وژنې پرمهال د مجرم په حراست کې وي ، د هغو هدفي وژنو پر خلاف چېرته چې قرباني د مجرم په فزیکي حراست کې وي ، اصطلاحات وګورئ.
[۱۲٦] په ۲۰۱۳ کال کې یوناما ۴۷۴ ملکي تلفات (۳۳۷ مړینې او ۱۳۷ ژوبلې) د هدفي وژنو له امله ثبت کړي دي.

د هدفي وژنو د ۱۱۱۴ تلفاتو له جملې څخه ۹۶ سلنه – ۱۰۶۹ ملکي تلفات (۷۱۶ مړينې او ۳۵۳ ټپي کېدنې) د دولت ضد عناصرو ته منسوب دي. په دغو وژنو کې د قومي مشرانو ، ملکي دولتي چارواکو ، ملايانو او د قضاء د ملکي عدلي چارواکو وژنې شاملې دي.

د هدفي وژنو د ۱۰۶۹ ملکي تلفاتو څخه چې د دولت ضد عناصرو ته منسوب دي طالبانو د هدفي وژنو ۱۰۳ بيلا بيلو پېښو مسووليت منلی دی چې ۲۰۳ ملکي تلفات(۱۳۶ وژنې او ۶۷ ټپي کېدنې) يې رامنځته کړي دي چې دا د پېښو د هغې شمېرې څخه دوه برابره زيات دي چې طالبانو يې په ۲۰۱۳ کال کې ادعاء کړې وه.[۱۲۷] د هدفي وژنو هغه پېښې چې طالبانو يې دعوه کړې ده په هغو کې د ولسواليو چارواکي ، ملايان ، قومي مشران ، د ورځې مزدورکاران ، ښوونکي ، د ټاکنيزو چارو کار کوونکي او قضايي چارواکي شامل دي.

يوناما د ۲۸ پېښو ۴۵ ملکي تلفات (۳۷ وژنې او اته ټپي کېدنې) افغان امنيتي ځواکونو او په دولت پلوه مليشايي ډلو ته منسوب کړي دي.[۱۲۸]

**د " دولت لپاره دجاسوسۍ" په تور د ملکيانو سرونه پرې کول**

د ۱۱۱۴ ملکي تلفاتو څخه چې د هدفي وژنو او نورو وژنو په ترڅ کې رامنځته شوي دي او چېرته چې قرباني د مجرمينو په توقيف کې و ، يوناما ۱۲ پېښې مستندې کړي دي چې په هغو کې د دولت ضد عناصرو د ۱۷ ملکي وګړو څخه سرونه پرې کړي دي.[۱۲۹] د يوې پېښې پرته چې په کې انګيزه نه ده جوته ، د دولت ضد عناصرو ۱۶ ملکي کسان تښتولي او په دې تور چې ګواکې د دولت لپاره يې جاسوسي کوله ورڅخه سرونه پرې کړي ، او يا يې د دې لپاره مجازات کړي چې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو سره يې مرسته کوله.

د سرونو پرې کولو د ۱۲ څخه په نهو کې يې محلي وګړو او چارواکو مسووليت پر طالبانو اړولی دی ، په يوه پېښه کې د پاکستان د طالبانو تحريک او په نورو دوو پېښو کې د دولت ضد نور عناصر مسوول ګڼل شوي دي.

- د ډسمبر په ۱۰ نېټه د ننګرهار ولايت د ده بالا د ولسوالي د شيخه په ساحه کې د يوه ملکي شخص مړی وموندل شو چې سر ترې پرې شوی و. محلي کسانو دا تاييد کړه چې دغه شخص يو ملکي موټر چلونکی و چې طالبانو هغه په جاسوسۍ او د دولت سره په همکارۍ تورن کړی و.
- د ډسمبر په ۵ نېټه د دولت ضد عناصرو يوې ډلې د ننګر هار د ولايت د ده بالا د ولسوالي څخه څلور تنه ملکيان وتښتول . محلي وګړو د دغو څلور تنو مړي په داسې حال کې چې سرونه يې پرې وو د ډسمبر په ۸ نېټه و موندل او ويې ويل چې محلي طالبانو دغه سړي په مخبرۍ او دولت سره په همکارۍ تورن کړي وو.
- د نوومبر په ۲۵ نېټه محلي خلکو د کنړ ولايت د دانګام په والسوالۍ کې د يو تن قومي مشر مړی چې سر ترې پرې شوی و موند. محلي خلکو او چارواکو رپوټ ورکړ چې د پاکستان د تحريک طالبانو يوې ډلې د قومي

---


[۱۲۷] په ۲۰۱۳ کال کې طالبانو د ۵۲ هدفي وژنو مسووليت منلی دی چې د هغو له امله ۱۱۶ ملکي تلفات (۹۳ مړينې او ۲۳ ټپي کېدنې) رامنځته شوي دي.

[۱۲۸] د هوايي عملياتو پر مهال د نړيوالو نظامي ځواکونو له خوا هدفي وژنې چې ، ډېری وخت RPA دي ، په درېيمه برخه کې د دولت پلوه ځواکونه او د ملکيانو ساتنه ، هوايي بريدونه په نامه تر پوښښ لاندې راغلي دي.

[۱۲۹] په ۲۰۱۳ کال کې يوناما ۷ داسې پېښې مستندې کړي دي چې په هغو کې د۱۳ ملکيانو سرونه پرې شوي دي.

مشر د سپرلۍ موټر ودرولو او دهغه څخه یې سر پرې کړ. د نوومبر په ۲۷ نېټه طالبانو یوه اعلامیه خپره کړه او په دغه پیښه کې یې خپله ښکلتیا رد کړه او څرګنده یې کړه چې د دې لپاره د مجرم په لټه کې دي.[١٣٠]

- د اګست په ۲۶ نېټه د دولت ضد عناصرو د فراه ولایت د بالابلوک په ولسوالي کې د یوتن محلي ملا څخه سر پرې کړ. محلي سرچینو دا تایید کړه چې قرباني ملا د امنیتي ځواکونو د مړو د جنازو لمونځونه ورکول په داسې حال کې چې طالبانو د دې ترمخه ورته اخطارونه ورکړي وو چې د دغه ډول فعالیتونو څخه ډډه وکړي.
- د جولای په لومړیټهٔمحلي اوسیدونکو د لوګر د ولایت د محمد ا ـ غې په ولسوالي کې د ۱۵ کلن هلک مړی وموند چې سر ورڅخه پرې شوی و. په داسې حال کې چې هیڅ اړخ ددغې وژنې مسوولیت نه دی منلی. سرچینو طالبان د دې لپاره تورن کړي دي او څرګنده کړې یې ده چې دغه ماشوم د افغان ملي اردو د یوه پخواني افسر زوی و.




د دولت ضد عناصرو له خوا هدفي او عمدي ملکي وژنې او ټپي کېدنې
جنوري-ډسمبر ۲۰۰۹-۲۰۱۴

**د قاضیانو ، څارنوالانو او قضایي موسسو پر ضد بریدونه**

په ۲۰۱۴ کال کې یوناما ۴۰ داسې پیښې مستندې کړې دي چې په هغو کې د دولت ضد عناصرو په قصدي ډول قاضیان ، څارنوالان او قضایي موسسې د پیچلو بریدونو ، هدفي وژنو ، د لاسي بمونو او تبنتونو د لارې هدف ګرځولي دي. د دغو بریدونو له امله یې ۹۰ ملکي تلفات (۳۷ وژنې او ۵۳ ټپي کېدنې) رامنځته کړي دي – زیاتره قضایي چارواکي هدف ګرځول شوي دي- او په دې توګه ګڼه شمیره کې محکمې ویجاړې او تاواني شوي دي.[١٣١]

په ۲۰۱۴ کال کې د هغو بریدونو له امله چې د قضاء په وړاندې شوي دي په ملکي تلفاتو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د څو پیچلو او ځانمرګو بریدونو له امله چې د قضایي موسسو پر ضد ترسره شوي کمښت لیدل کیږي.

---

[١٣٠] http://shaha,t-english.com/index.php/news?start=1500vZ وګورئ

[١٣١] په ۲۰۱۳ کال کې یوناما ۴۱ د دغه ډول بریدونو جلا جلا پیښې ، چې ۲۳۳ ملکي تلفات (۵۹ مړینې او ۱۷۴ ژوبلې) مستند کړي دي.

يوناما د قضايي موسسو پر خلاف په پيچلو بريدونو کې د کمښت هرکلی کوي خو د قاضيانو او څارنوالانو په قصدي توګه د هدف ګرځولو او وژنې له امله په تيره بيا د طالبانو له خوا د اندېښنې يادونه کوي. د ۲۰۱۴ کال د مۍ په ۸ نېټه کله چې طالبانو د " خيبر" تر نوم لاندې د پسرلنيو تعرضی عملياتو د پيل اعلان وکړ دا يې جوته کړه چې *"تول لوړ پوړي دولتي چارواکي ، د کابينې وزيران ، دملي شورا غړي ، امنيتي چارواکي ، د اشغال د ملاتړو د کورنيو او بهرنيو چارو د وزارتونو چارواکي ، څارنوالان او قاضيان چې مجاهدين محاکمه کوي هدف ګرځوي.* "[۱۳۲]

په ۲۰۱۴ کال کې د قاضيانو ، څارنوالانو او قضايي موسسو پر ضد د بريدونو په ۴۰ پيښو کې يوناما ۲۶ جلا جلا داسې پيښې مستندې کړي دي چې په هغو کې طالبانو يا د دولت ضد عناصرو په عمدي ډول قاضيان او څارنوالان په انفرادي توګه په نښه کړي او وژلي (يا يې د هغوي د وژنې قصد کړی) چې ۳۵ ملکي تلفات(۱۹ مړينې او ۱۶ ټپي کېدنې) رامنځته کړي دي. طالبانو د دغه ډول ۱۲ پيښو مسووليت پخپله ويب پاڼه کې منلی دی. د بيلګې په ډول د اکتوبر په ۲۷ نېټه طالبانو د کندز ولايت د کندز په ښار کې د استيناف د څارنوالۍ دفتر تر بريد لاندې را وست. بريدګرو ۱۸ ملکي تلفات (اته مړينې چې په کې شپږ څارنوالان ، يو امنيتي محافظ او يو تن مراجعه کوونکی ، او ۱۰ ټپي کېدنې چې په هغو کې اوه يې څارنوالان ، يوه په کې ښځينه اشپزه او دوه امنيتي محافظين شامل وو) رامنځته کړل. طالبانو د دغې پيښې مسووليت منلی او ويلي يې دي چې هغوي ۱۱ تنه ملکي څارنوالان او ۱۳ تنه د امنيتي ځواکونو غړي وژلي دي.

د ملکيانو او ملکي هدفونو پر خلاف مستقيم بريدونه- چې په هغو کې قضايي چارواکي او محکمې راځي —د بشر پالنې د نړيوال قانون څخه جدي سرغړونه ده چې په جنګي جرمونو کې راتللای شي.[۱۳۳]

**د قاضيانو ، څارنوالانو او قضايي موسسو پر ضد د بريدونو بيلګې:**

- د اګست په ۲۷ نېټه طالبانو پر هغه قاضي چې د فراه د ولايت د استيناف د محکمې د داخلي /بهرنيو جرمونو په ديوان کې يې دنده درلودله ډزې وکړې او ويې واژه. طالبانو د دغې وژنې مسووليت منلی دی ، او د دې يادونه يې کړې چې نوموړی يې د طالبانو غړو ته د سختو سزا ګانو د ورکولو له امله هدف ګرځولی دی.
- د ډسمبر په ۲۱ نېټه طالبانو د لغمان د ولايت د عليشنګ د ولسوالي د څارنوال کور ته څېرمه له لېرې څخه کنترول شوی چاوديدونکی توکی خښ کړ او هغه مهال يې وچولو کله چې څارنوال د کور څخه وتلو او نوموړی يې په همغه ځاي و واژه. طالبانو د بريد مسووليت پخپله ويب پاڼه کې منلی دی.

**د ديني شخصيتونو او عبادت ځايونو پر ضد تهديدونه او بريدونه**

هغه بريدونه چې په کې ملکي ملايان او د عبادت ځايونه په نښه کيږي په ۲۰۱۴ کال کې زيات شوي دي ، يوناما ۶۱ ملکي تلفات (۱۹ مړينې او ۴۲ ژوبلې) مستندې کړي دي ، چې دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۱۱۰ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. يوناما ۲۵ دغه ډول بريدونه چې په کې ۲۰ بريدونه د دولت ضد عناصرو له اړخه ترسره شوي او په هغو کې ۱۷ پيښې د ملايانو د هدفي وژنو دي ، دوه يې په جومات کې د ځاي پر ځای شوي چاوديدونکي توکي اود ملا د تښتونې دي.

---

[۱۳۲] د"خيبر" تر نوم لاندې د کلنيو پسرلنيو عملياتو د پيل په مناسبت د اسلامي امارت د مشرتابه د شورا اعلاميه ، په : hhttp://www.shahamat-english.com/index.php/paighamoona/44468-statement-of-leadership-council-of-islamic-emirate-reagrding-the- commencement-of-the annual-spring-operation-named-'khaibar'.

I. [۱۳۳] د روم د اساسنامې د ۸ مادې (ه) (۱) او ۸(ه) (xII) وګورئ. همدارنګه د سره صليب د کميټې ، د بشر پالنې د نړيوال عرفي قانون ۷ مقرره ، لومړی جلد ، قواعد ، تاليف. جين ماري هينکايريتس او لويس ډوسوالډ-بيک ((CU P/ICRC, Cambridge 2005 { ICRC Study } وګورئ

د ملایانو د قصدي وژنو په ۱۷ پیښو کې د دولت ضد عناصرو د طالبانو په شمول دغه وژنې : د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ، په ډزو سره د اعداملو او د سر د پرې کولو د لارې تر سره کړي دي. طالبانو د دوو وژنو لپاره مسوولیت منلی دی ، که څه هم محلي سرچینو زیاتره دغه وژنې په مستقیم ډول په طالبانو پورې منسوبې کړي دي.

د ۲۰۱۴ کال په اګست کې یوناما درې جلا جلا داسې پیښې د دولت پلوه ملایانو پر ضد ثبتې کړي دي چې په کې هغوي تر برید لاندې راغلي او په همغه ورځ وژل شوي دي (د اګست ۲۷) . په یوه پیښه کې د دولت ضد عناصرو د کندهار د ولایت د ارغنداب په ولسوالي کې یو تن ملا د هغه د جومات تر مخه په ډزو و واژه. همدارنګه د اګست په ۲۷ نېټه د دولت ضد عناصرو د ارزګان دولایت د ترینکوټ د ولسوالي یو تن ملا امام هغه مهال په ډزو و واژه کله چې هغه د افغان ملي پولیسو د مرکز څخه چې په دغه مرکز کې یې امامت درلود د وتلو په حال کې و. په دریمه وژنه کې چې د اګست په ۲۷ نېټه وشوه د طالبانو یوې ګڼ شمیره ډلې یو تن ۴۲ کلن دولت پلوه دیني عالم او ملا اختطاف کړ او د ننګرهار د ولایت د اچین په ولسوالي کې یې و واژه. د دغې وژنې څخه ترمخه محلي طالبانو دغه ملا امام ته اخطار ورکړی و چې د طالبانو د هدفي وژنو او د ملکي تلفاتو د نورو پیښو په اړه خپل تبلیغات پرېږدي. که څه هم طالبانو په محلي کچه د دغې وژنې مسوولیت منلی دی خو په عام او رسمي ډول د طالبانو د مسوولیت اخیستنې په اړه ادعاء نشته.

د بشر پالنې نړیوال قانون چې په جګړه کې ښکیل ټول اړخونه چې په هغو کې د دولت ضد عناصر او طالبان هم شامل دي په رعایت کولو مکلف دي ؛ د دې څخه یې منع کوي چې د ملکیانو او ملکي شتمنیو پر ضد چې په کې عبادت ځایونه هم شامل دي په عمدي توګه بریدونه وکړي ، او د جګړې اړخونو ته ځانګړی مسوولیت ورکوي څو چې دیني پرسونل ته د دې امکان برابر کړي چې هغوي خپلې دندې سرته ورسوي. د ژنیو د کنوانسیون لپاره د دوهم پروتوکول ۹ ماده اعلاموي ،" دطبي او دیني پرسونل باید درناوی او محافظت شي او د هغوي د دندو د سرته رسولو لپاره باید هر ډول ممکنه مرسته برابره شي. "[۱۳۴]

د بشر پالنې نړیوال قانون د دې سربیره د عبادت کوونکو او عبادت ځایونو چې د خلکو فرهنګي اومعنوي میراٍث تشکیلوي پر خلاف کړنې منع کوي.[۱۳۵]

یوناما همدارنګه د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې دا د دولت ځانګړی مسوولیت بولي څو ملایان او جوماتونه د بریدونو څخه وژغوري.[۱۳۶]

---

[۱۳۴] د ژنیو ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ نېټې د کنوانسیونونو د الحاقیه پروتوکول د ۹ مادې پر بنسټ د طبي او مذهبي پرسونل ساتنه او د غیر نړیوالې وسله والې جګړې د قربانیانو په اړوند ( دوهم پروتوکول ) د ۱۹۷۷ کال د جون ۸ نېټه. یوناما همدارنګه د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسلیون(ای سي سي پي ا ـ ر) ۱۸ ماده یادوي : ا هر" څوک دفکر ، وجدان او دین د ا ـ زادۍ حق لري " . د ۴ مادې له مخې ۲ ، " د دې حکم سره سم د ۶ ، ۷ ،۸ مادو (لومړي او دوهم پراګراف) ۱۱ ، ۱۵ ، ۱۶او ۱۸ مادو څخه سرغړونه نه شي کېدلای."

[۱۳۵] همدا ما ـ خذ. همدارنګه وګورئ د نړیوال سره صلیب ، د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، لومړی جلد ،قواعد ، مولف. جین ماري هینکایرتز او لویس ډوسوالډ بیک (سي یو پي/ سي ا ـ ر سي ، کمبریج ، ۲۰۰۵) [ د سره صلیب نړیواله کمیټه ، مطالعه]. همدارنګه دوهم الحاقیه پروتوکول کې ۱۶ ماده وګورئ.

[۱۳۶] د مذهبي پرسونل د درناوی او ساتنې مکلفیت د دوهم الحاقیه پروتوکول په ۹ ماده کې تصریح شوی دی. دا هم یو جنګي جرم دی چې که په قصدي توګه هغه ودانۍ چې د دیني مراسمو لپاره وي (په دې شرط چې هغه نظامي هد فونه نه وي)هدف وګرځوي ، د روم د ا ـ ساسنامې ۸(ه) (۶)ماده وګورئ. د مذهبي پرسونل درناوی او ساتنه هم د بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون د نورم په توګه منل شوي دي. د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، لومړی جلد ، قواعد ، مولف: جین ماري هینکایرتز او لویس ډوسوالډ بیک (سي یو پي/ سي ا ـ ر سي ، کیمبریج ۲۰۰۵)، [ د سره صلیب نړیوال سازمان ، مطالعه] . قاعده۲۷- مذهبي پرسونل.

**د ملايانو او عبادت ځايونو پر خلاف د بريدونو نمونې:**

- د نوومبر په ۲۸ نېټه د ننګرهار د ولايت د خوګيانيو د ولسوالي د کرېږ په بازار کې د جمعې د لمانځه پر مهال يو ځاي پر ځاي شوی چاودېدونکی توکی وچاودېد. دغې چاودنې ۳۴ ملکيان چې په کې د جومات ملا امام هم شامل و ټپيان کړل. د طالبانو يوه وياند خپله ښکيلتيا رد کړه او دغه بريد يې وغانده او په دې اړه يې افغان حکومت تورن کړ.
- د سپټمبر په ۱۳ نېټه د دولت ضد عناصرو د ارزګان د ولايت د شهيد حساس د ولسوالي د حاجي طالب د جومات امام وتښتاوه. بله ورځ افغان ملي پوليسو د امام مړی چې سر ورڅخه پرې و ، پيدا کړ. د هغه د وژنې وړاندې امام د جمعې د لمانځه پر مهال په عام محضر کې د دولت ضد عناصرو فعاليتونه غندلي وو.
- د اګست په ۱۳نېټه طالبانو د غور د ولايت د پساوند د ولسوالي د سرخک د کلي ملا د هغه د کور ترمخه و واژه. د رپوټونو له مخې قرباني د طالبانو پر خلاف و او په دې وروستيو کې يې پخپله بيانيه کې د طالبانو له خوا دعشر(نا قانونه ماليه)راټولول غندلي وو.

**موازي قضايي تشکيلات: اعدامونې ، د اندامونو پرې کول ، وهل او نورې جنايي کړنې**

*دوو طالبانو چې پر موټر سايکل سپاره وو او د ای کی*
*۴۷ کلاشينکوف يې درلود موږ يې هغې پرانيستې ساحې ته يوړلو چېرته چې اعدامونه تر سره کېدل. موږ وليدل چې هلته نږدې ۵۰۰ تنه راټول وو ، خو وروسته دغه ګڼه ګوڼه لږ تر لږه تر ۱۰۰۰ کسانو پورې ورسيدله. ټوله سيمه د طالبانو په ولکه کې وه — موږ لږ تر لږه د هغوي ۱۵۰*
*۲۰۰ پورې کسان وليدل ، چې ټول يې د ای کی*
*پله۴۷کلاشينکوف ، پي کا ګانو ، او ا - ر پي جي ګانو باندې مسلح وو. هلته د افغانستان وسله وال ځواکونه نه وو ؛ هغوي څنګه کولای شول چې خوا وشا ته د دغه شان وسله والو کسانو په شتون کې د اعدامونو مخه ونيسي؟ دغې ګڼې ګوڼې ته دوو ملايانو وينا وکړه او د شرعي قانون د توضيحاتو له مخې يې د قربانيانو کورنيو ته د دې اختيار ورکړ چې کسات واخلي ، او دغه درې مجرمين بايد و وژل شي. درې طالبان په يو خړ لېندکرويزر کې را ورسيدل او درې واړه متهم مجرمين يې د ګڼې ګوڼې په وړاندې لاس او پښې تړلي ودرول. يو تن طالب په لومړي سړی د ای کی*
*۴۷ کلاشينکوف ډزې وکړې او ويې واژه. دوو نورو وړاندې تر دې چې و وژل شي طالبانو او بيا يې د خلکو ګڼې ګوڼې ته مخ واړولو. په داسې حال کې چې درې جسدونه پر ځمکه پراته وو ، طالبانو بيا هم په دغه سړيو ډزې وکړې. اعداموونکو چې دواړه ملايان ورپسې وو وروسته سيمه پريښودله. په داسې حال کې چې ګڼ شمير خلک د جسدونو چاپيره راټول شول څو هغوي وپيژني ، د قربانيانو څخه د يوه پلار د خپل زوی جسد ته ورنږدې شو — ژړل يې — او پرته له دې چې څه و وايي د هغه مړی يې له ځان سره واخيست.*
د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۲۹ نېټه د پکتيا د ولايت د ګرديز په ولسوالي کې د هغو خود سرانه اعدامونو چې د طالبانو له خوا تر سره شول عيني شاهد.[۱۳۷]

---

[۱۳۷] د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په ۲ نېټه د پکتيا د ولايت د ګرديز په ښار کې د عيني شاهد سره د يوناما مرکه.

په ۲۰۱۴ کال کې يوناما ۴۹ پيښې مستندې کړي چې په کې د دولت ضد عناصرو د طالبانو په شمول د شرعي *قانون* څخه د سرغړونو، د ګوماني جرمونو او د جاسوسۍ په تورونو ملکيانو ته سزاګانې ورکړي دي. په دغو پيښو کې هغه پيښې شاملې دي چې په کې د دولت ضد عناصرو ناقانونه اعدامونه، د سر ونو، د بدن د اندامونو پرې کول، وهل، په درو وهل او په ناقانونه ډول په توقيف کې ساتل شامل دي.[۱۳۸] يوناما د دې يادونه کوي چې موازي قضايي تشکيلات غير قانوني دي، مشروعيت او يا هم د افغانستان د قوانينو له مخې بنسټ نه لري. هغه جزاګانې چې ددغو تشکيلاتو له خوا ورکول کيږي د بشري حقونو څخه سرغړونه او د افغانستان د قو انينو له مخې جرمي اعمال دي، او په ځينو حالاتو کې جنګي جرمونه دي.[۱۳۹]

د اعدام سزاګانې[۱٤۰] د اندامونو پرې کول چې د دولت ضد عناصرو له خوا شوي دي د ۹۶ ملکي تلفاتو (۸۱ مړينو او ۱۵ ټپي کېدنو) لامل شوي دي. په دې توګه په ملکي تلفاتو کې دغه شميره د ۲۰۱۳ کال[۱٤۱] په پرتله څلور برابره زياتوالی په ډاګه کوي.

په ډيری پيښو کې چې په ۲۰۱۴ کال کې مستندې شوي دي، د دولت ضد عناصرو هغه ملکيان اعدام کړي دي چې ورباندې د دولت لپاره د جاسوسۍ شک شوی دی، د حکومت سره کار کولو او يا يې هغسې جرمونه چې د دولت ضد عناصرو له خوا هغه جرم تشخيص کيږي تر سره کړي دي. د بيلګې په توګه د اکتوبر د مياشتې په ۲۵ نېټه طالبانو د فراه د ولايت د پرچمن په ولسوالي کې د قبر مير په سيمه کې يو بس ودرولو او يوه سپرلۍ يې ورڅخه وتښتوله چې هغه افغان ملي پوليس و خو پر وظيفه نه و. طالبانو هغه بل محل ته وليږدولو. د ريپوټونو له مخې د اعتراف لپاره د شکنجه کولو وروسته چې نوموړی د پوليسو يو افسر و، طالبانو هغه اعدام کړ. طالبانو پخپله ويب پاڼه کې په همدغه ځاي کې په همدغه نوم د يوه *" اربکی"* د *وژلو* مسووليت منلی دی.[۱٤۲]

موازي قضايي تشکيلات د افغانستان په ډيری سيمو کې مستند شوي دي، خو تر ټولو لوړی په هغو سيمو کې چې د دولت ضد عناصرو له خوا تر کنترول لاندې دي.[۱٤۳] د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې يوناما د هغو ټولنو څخه معلومات تر لاسه کړي دي چې د دولت ضد عناصر په کې په زياته پيمانه د دې امکان لري چې موازي قضايي تشکيلات وچلوي،

---

[۱۳۸] د موازي قضايي سيستم له لارې د سزاګانو ټول ملکي تلفات چې د يوناما له خوا ثبت شوي دي د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځته شوي دي. يوناما د هغو وژنو او ژوبلو د طرزالعملونو څخه يادښت اخيستی دی که څه هم جزا په مستقيم ډول په شخړې پورې اړونده وه، د بيلګې په توګه د افغان ملي اردو د يو سرتيري د پلار اعدامول او يا هم داچې د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکيانو پرخلاف د داسې قصورونو له امله وې چې د شخړې اړوند نه دي، د بيلګې په توګه د زنا لپاره په عام محضر کې په درو وهل. مشترکه ماده په واضحه توګه د محاکمې د منصفانه معيارونو پرته قتل، تيری، د سزاګانو ورکول او اعدامونو سرته رسول پرته له دې چې په کې د عادلانه محاکمې معيارونو ته پام وشي، شکنجه، معيوبول، او د تيريو نور ډولونه منع کوي. دغه ډول کړنې په هر وخت او په هر ځاي کې په هر ډول چې وي منع دي. په افغانستان کې د دربيمې مشترکې مادې د تطبيق په اړه د لا زياتو تفصيلاتو لپاره د دې رپوټ د *قانوني چوکاټ* برخه وګورئ.

[۱۳۹] د " جنګي جرمونو" د تعريف لپاره د دې رپوټ د *قانوني چوکاټ برخې ته مراجعه وکړئ.*

[۱٤۰] يوناما موازي قضايي تشکيلات د هغو په شمول چې په کې په قصدي، عمدي او سنجول شوې توګه يو شخص چې د مجرم په فزيکي حراست او ولکه کې دی (د هدفي وژنو پر خلاف چې په هغو کې قرباني د مجرم په فزيکي حراست کې نه وي)، کله چې وژنه د سزا ورکولو په موخه وي، د بيلګې په ډول د هغه ديني مشر وژل چې د افغان ملي امنيتي ځواک د يو غړي د جنازې لمونځ چې ورته د هغه د نه اداء کولو اخطار ور کړل شوی و، ورکوي. يوناما دغه ډول پيښې لکه چې د بشر پالنې په نړيوال قانون کې يې تعريف شوی چې په افغانستان کې په غير نړيواله شخړه کې د تطبيق وړ دی " قتل" بولي.

[۱٤۱] په ۲۰۱۳ کال کې يوناما ۲۳ ملکي تلفات(۱۹ ملکي وژنې اوڅلور ژوبلې) د موازي قضايي تشکيلاتو د سزا کولو په ۲۳ دغه ډول پيښو کې مستند کړي دي.

[۱٤۲] http:// shahamat-english.com/index.php/news/50700-arbaki-commander-killed-in-parchaman. وګورئ

[۱٤۳] يوناما دغه ډول وژنې په افغانستان کې د مرکزي لوړو سيمو پرته نورې په سيمه ييز ډول ثبتې کړې دي.

په تيره بيا په هغو ولسواليو کې چيرته چې رسمي عدلي اداري محدودې او يا هم نه شته. يوناما ته د ولسواليو په دولتي محکمو کې د فساد د شتون او بې کفايتی ، او همدارنګه د دې شکايتونه را رسيږي چې په کې قضايي چارواکي پاتې راغلي دي څو هغه طرزالعملونه تعقيب کړي کوم چې وکولای شي قضيې او دوسيې په منصفانه ، پرځپل وخت او شفاف ډول وڅيړي. يوناما دا مشاهده کړې ده چې که څه هم ځينې ټولنې پخپله خوښه د طالبانو محکمې غوره کوي ، او يو شمير رپوټونه را رسيدلي چې دا په ډاګه کوي چې د دولت ضد عناصر په تيره بيا طالبان محلي ټولنې دې ته اړې باسي څو د هغوي د موازي قضايي تشکيلاتو تابع و اوسي.

د دغو ميکانيزمونو د واقعی نا قانونيت په پام کې نيولو سره ، يوناما د دغو تشکيلاتو کارول او د هغو د لارې د سزاګانو پلي کول د بشري حقونو په سرغړونو کې شميري. د يوناما تحليل هغه ادعاء شوي طرزالعملي عناصر چې د بشري حقونو د پيژندل شوو معيارونو له مخې د ټولنو له خوا راپور شوي دي نه ارزوي ، د بيلګې په ډول د محاکمې منصفانه معيارونه.

**په شمالي هلمند کې موازي قضايي سيستم**

د هلمند د ولايت د لشکر ګاه په ولسوالي کې د مشورو پر مهال په ۲۰۱۴ کال کې ځواب ويونکو په متداوم ډول يوناما ته معلومات ورکړي دي چې د هلمند د ولايت په شمال کې د ناامنی زياتوالي د رسمي عدلي سيستم په اغيزمن ډول فعاليدو باندې منفي اغيزه کړې ده.

د حکومتي دفترونو پر ضد روانو بريدونو او د قضايي کار کوونکو پر خلاف څرګندو تهديدونو په سنګين ، نوزاد ، واشير ، موسی قلعه او کجکي ولسواليو کې قاضيان او څارنوالان دې ته اړباسلي دي څو د ولايت مرکز لشکر ګاه ته خپل دفترونه وليږدوي او خپل کار ته د "لېرې څخه" ادامه ورکړي. په واقعيت کې دې سره عريضه کوونکي دې ته اړ دي چې لشکر ګاه ته د ليرو پرتو ولسواليو څخه خطرناکه سفر په مخکې ولري ؛ که چېرې وغواړي چې خپلې عريضې وړاندې کړي او يا هم خپلې دوسيې تعقيب کړي.

په داسې حال کې چې په شمالي هلمند کې رسمي قضايي سکتور کمزوری شوی ، اوسيدونکي تر زياته بريده په "*موازي قضايي تشکيلاتو*" چې د طالبانو له لوري پلي کيږي تکيه وکړي څو خپلې شخړې حل کړي. رسمي قضايي تشکيلاتو ته د لاس رسي د ستونزو سربيره د ولسوالي په کچه دمتوازي قضايي تشکيلاتو قبلول په رسمي عدلي سکتور باندې په ژوره توګه د بې باوری له امله چې د زيات فساد لپاره شهرت لري او داسې ګڼل کيږي چې د عدالت په رسولو کې اغيزمنتيا نه لري ، را ولاړيږي.

د يوناما سره په مشورو کې ځواب ويونکو همدارنګه دا انديښنې څرګندې کړې چې تورن مجرمين څوک چې د طالبانو سره ټينګ اړيکي لري د متوازي محکمو په وړاندې معافيت لري. ځواب ويونکو همدارنګه د دې رپوټ ورکړ چې د طالبانو په محکمو کې فساد او معافيت د هغه څخه کم دی چې دوي ورسره په رسمي عدلي سيستم کې مخ شوي دي.

د بيلګې په ډول د واشير په ولسوالي کې د يوناما په مرکو کې دا جوته شوې ده چې هيڅوک هم رسمي عدلي سيستمونو ته قضيې نه راجع کوي ، او داچې طالبان ټول مدني او جرمي موضوعاتو ته د طالبانو له خوا په چلونکي عدلي سيستم کې رسيدنه کوي او هغوي ته لږ مفسده ښکاري.

د سنګين په ولسوالي کې ځواب ويونکو و ويل چې هغه دوسيې چې موازي عدلي تشکيلاتو ته راجع کيږي د دوو او يا دريو مشهورو طالبانو د هيئ له خوا تر غور لاندې راځي چې هغه د همدغه ځاي اوسيدونکي دي ٍ. په طرزالعمل کې دا په پام کې نيول شوي چې يوه احضاريه د " قضايي هيات" له لوري مدافع ته چې شکايت تعقيبوي استول کيږي. که چيرې مدافع دغه د "*جلب قراروونه* " له پامه وغورځوي ، وسله وال شورشيان په زور سره دغه "*جلب*" عملی کوي. د هيات حکمونه زياتره د مدني دوسيو په اړه دي او اکثره وخت هغه

شخړې په کې راځي چې د دولتي کنترول لاندې سيمو کې رامنځته شوي دي.
په جرمي قضيو کې د ځايي طالبانو "محکمه" د دې لپاره صلاحيت لرونکې نه وه چې حکم صادر کړي او د پاکستان په کويټه کې د نورو مشرو شخصيتونو د مداخلې پرته يې هيڅ پريکړه نه ده کړې. په ځينو حالاتو کې د محکمې هيات د يو شخص له خوا تعويض شوی – اکثره يو مذهبی شخصيت- چې هغه د طالبانو له لوري منل شوی او کولای شي چې دشورشيانو له اړخه پخپله وکولای شي حکم صادر کړي.[١٤٤]

**د دولت ضد عناصرو له خوا د ناقانونه اعدامونو ، اندامونو د پرې کولو او سزاګانو د ورکولو په لړ کې معافيت**

په مشخصو ولسواليو کې د دولت ناتواني او د مجرمينو د نيولو د اقداماتو د نشتوالي په صورت کې - د دولت ضد عناصر – چې د جناياتونو لپاره چې په کې اعدامونه ، د اندامونو پرې کول او نورې سزاګانې شاملې دي – چې د عمل د دقت[١٤٥] د اصل له مخې د بشري حقونو څخه د سرغړونو په لړ کې راځي مسوول او حساب ورکونکي دي. د دې سربيره داسې کړنې لکه ناقانونه او پخپل سر اعدامونه ، د بدن د غړو پرې کول او معيوبول دبشر پالنې د نړيوال قانون له مخې جدي سرغړونې بللې کيږي او کېدلای شي چې په جنګي جرمونو کې راشي. د ژنيو د کنوانسيون مشترکه دريېمه ماده په واضح ډول هغه سزاګانې منع کوي چې د دغه شان "*قضايي*" سيستمونو له لارې ترسره شي. په ځانګړي ډول ۳ مشترکه ماده منع کوي (الف) "ژوند او شخص باندې تيرى ، په خاص ډول هر ډول قتل ، معيوبول ، ناوړه سلوک او شکنجه " او (د) " دهغو محکوميتونو او د هغو اجراء کول منع دي چې له دې پخوا ديو ې منظمې او قانوني محکمې له خوا چې ټول قضايي ضمانتونه په کې موجود وي او د متمدنو خلکو له خوا ضروري ګڼل شوي وي نه وي اعلان شوي.

يوناما دا مشاهده کړې ده چې د لاس رسي نشتوالى ، چې ورسره په عدلي ساحو کې د فساد رپوټونه او د رسمي عدلي موسسو درک شوې بې کفايتي د ولسواليو په کچه هم يوځای دي د دې د زياتوالي لامل شوي چې د هېواد په ګڼو سيمو کې د مدني او جنايي قضيو د قضاوت لپاره موازي قضايي تشکيلات پراخه شي.

د يوناما په اند حکومت په لازمي توګه دې ته اړتيا لري چې د قانون د حاکميت رسمي موسسې تقويه کړي ، په تيره بيا چې په عدلي ساحه کې فساد سره مبارزه وشي او عدالت ته لاس رسى وي څو په رسمي عدلي سيستم باندې باورمندي رامنځته شي. د ناقانونه وژنو او د دولت ضد عناصرو له خوا د موازي قضايي تشکيلاتو له لارې د سزاګانو په وړاندې معافيت لا هم د دولت واکمني تر پوښتنې لاندې را ولي ، د قانون حاکميت کمزوری او د ملکيانو ساتنه کموي.

**د هغو وژنو نمونې چې د موازي قضايي ميکانيزمونو د لارې رامنځته شوي دي:**

- د نوومبر پينځمه د جوزجان د ولايت د ا ـ قچې په ولسوالي کې د طالبانو غړو دوه نارينه چې د جوزجان د ولايت د ا ـ قچې په ولسوالي کې يې د تيريدونکو نقليه وسيلو د مسافرينو څخه پيسې لوټلې ودرول شول.

---

[١٤٤] د هلمند په شمال کې د ټولنې د استازو سره د يوناما مرکې ، قومي مشران او نور ملکيان ، د ۲۰۱۴ کال د مې څخه تر ډسمبر پورې ، د کندهار د ولايت د کندهار ښار ، او د هلمند د ولايت د لشکرګاه ښار.

[١٤٥] د احتياط معيارونه تصريح کوي: "که څه هم هر نا قانونه عمل چې بشري حقونه نقض کوي او په لو مړي سر کې په مستقيم ډول يو دولت ته نه منسوبيږي (د بيلګې په توګه ، ځکه چې هغه د يو شخص له خوا شوى عمل دى او يا هم دا چې مسوول شخص نه وي پيژندل شوى) کېدلای شي چې د دولت په نړيوال مسووليت کې راشي ، نه ځکه چې دغه عمل په خپل ذات کې تيروتنه ده بلکې د دې لپاره چې احتياطي معيارونه چې وکولای شي د نقض کولو مخنيوی وکړي او يا هغه ته غبرګون وښيي نه دي نيول شوي." په ۱۹۸۸ کال کې د بشري حقونو د بين الامريکايي محکمې پريکړه د والسقويز-رودريقويز په قضيه کې (د لادرکه کېدنو هغه لړۍ چې د غير دولتي فعالينو له خوا ترسره شوي). همدارنګه د بشري حقونو د کميټې ۳۱ ګڼه عمومي تبصره ۱۸ پراګراف وګورئ.

طالبانو دواړه سرې په دزو و وژل او د هغوي په جیبونو کې یې یو یاداښت کښېښود چې په هغه کې راغلي وو هر هغه څوک چې غلا کوي د همدغه عاقبت سره به مخ کیږي. طالبانو پخپله ویب پاڼه کې د پېښې مسوولیت منلی دی.[١٤٦]

- د سپتمبر په ۲۹ نېټه طالبانو د پکتیا د ولایت د ګردیز په ښار کې درې تنه وروسته له دې چې هغوي یې په عامو جرمونو متهم کړي وو اعدام کړل. یو تن ملا د جومات د لاوډسپیکر دلارې د کېدونکو اعدامونو په اړه خلکو ته اعلان نشر کړ. کله چې ډېر خلک راټول شول ، د طالبانو یو استازي د قضاء حکم واورولو او ویې ویل چې دغه درې تنه د قتل او غلا په جرمونو کې ښکیل ول ، او دشرعیت د حکم له مخې په مرګ محکوم شوي وو. د طالبانو جلاد دغه سړي په ډزو و وژل او حکم یې وکړ چې د هغوي جسدونه باید د خبرداري په توګه په ډاګه پاتې شي.
- د سپتمبر په ۲۶ نېټه طالبانو د پکتیا د ولایت د زرمت په ولسوالي کې نږدې د ۱۰۰۰ کسانو د ګڼې ګوڼې په وړاندې درې تورن مجرمین په ډزو و وژل. طالبانو اعلان کړه چې دغو دریو کسانو یو اوه کلن ماشوم تښتولی او د ماشوم د پلار څخه یې ۵ میلیونه پاکستاني روپۍ د سر تاوان غوښتی و. له هغه ځایه چې د ماشوم پلار د دې توان نه درلود چې دغه تاوان ورکړي نو دغو تورنو تښتوونکو په پای کې دغه ماشوم و واژه او دهغه کورنۍ ته یې د ماشوم جسد ولیږدولو. د اعدامولو وروسته طالبانو دغه درې مړي ځوړند کړل او امر یې وکړ چې د درې ورځو لپاره به نه ایسته کیږي.
- د اګست په ۱۴ نېټه د هلمند د ولایت د کجکي په ولسوالي کې طالبانو پنځه تنه چې د پیسو د تر لاسه کولو لپاره په تښتونو تورن وو اعدام کړل . طالبانو دغه کسان د بریښنا په ستنه را ځوړند کړل چې د خوا وشا اوسیدونکو له خوا ولیدل شي. طالبانو پخپله ویب پاڼه کې د دغې پیښې مسوولیت منلی دی.[١٤٧]
- د اګست په ۱ نېټه طالبانو د غور د ولایت د پسابند په ولسوالي کې دوه ملکیان(پلار او د هغه زوی) چې په شخصي موټر کې یې سفر درلود ودرول ، هغوي یې وتښتول ، بیایې دواړه په ډزو و وژل. پلار یې یو ډېر نومیالی دیني شخصیت و. طالبانو د وژنې د پیښې مسوولیت پخپله ویب پاڼه کې منلی دی ، او ادعاء یې کړې ده چې هغوي یو تن قوماندان او دهغه /ربکی زوي په دغه کمین کې وژلي دي.

**په لویدیځه سیمه کې د ملکیانو هدفي وژنې**

د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا په لویدیځه سیمه کې د ملکي وګړو په هدفي وژنو کې د زیاتوالي جریان مشاهده کړی دی.[١٤٨] په ۲۰۱۴ کال کې یوناما د هدفي وژنو ۸۶ پیښې په دغه سیمه کې[١٤٩] چې په کې ۱۷۴ ملکي تلفات (۱۲۸ مړینې او ۴۶ ژوبلې) رامنځته شوې مستندې کړې دي چې دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۷۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د دغو هدفي وژنو د ۱۷۴ ملکي تلفاتو څخه ۹۶ سلنه یې د دولت ضد عناصرو ته منسوب دي او څلور سلنه یې افغان امنیتي ځواکونو ته منسوب دي.

---

١٤٦ وګورئ د طالبانو ویب پاڼه ، .http://shahamat-english.com/index.php/news/

١٤٧ همدا ما ـ خذ. .http://shahamat-english.com/index.php/index.php.news/48230-5-kidnappers-brought-to-justice-in-kajak

١٤٨ " هدفي وژنې" د دولتونو او یا هم د هغوي د استازو (یا هم په وسله واله شخړه کې د یوې سازمان شوې وسله والې ډلې له خوا) د قانون تر نوم لاندې په عمدي ، د وړاندې څخه سنجول شوي او ارادي توګه د یوه ځانګړي شخص پر خلاف چې د مجرم په ولکه کې نه دی د وژونکي ځواک کارول تعریف شوي دي. خو د هدفي وژنو کتکورۍ کې همدارنګه پخپل سر وژنې لکه داسې وژنې چې په کې قرباني د وژنې پر مهال د مجرم په ولکه کې وي هم راځي. *اصطلاحات* او د دې رپوټ د *تعریفاتو* برخه وګورئ.

١٤٩ د هرات ، بادغیس ، غور او فراه د ولایتونوپه شمول.

په ملکي قربانیانو کې قاضیان ، څارنوالان ، د ملکي ادارو مامورین ، دیني مشران ، د پوهنې د برخې کار کونکي ، د ټاکنیزو چارو کارمندان او کمپاین کوونکي ، د روغتیایي برخې کار کوونکي ، مرستې رسوونکي ، او هغه کسان چې د دولت ملاتړي ګڼل شوي ، د دندې څخه فارغ پولیس او هغه ملکیان چاچې د شورشیانو حکمونه نه دي رعایت کړي شامل دي. په ځینو پیښو کې جوتیږي چې هغوي یوه ځانګړي قوم ته منسوب ملکیان په نښه کړي دي. د بیلګې په توګه د جولای په ۲۵ نېټه د دولت ضد عناصرو د غور د ولایت د چخچران د ولسوالي د بدګاه په سیمه کې دوه بسونه و درول او د هغو ۱۴ مسافرو ته یې چې په کې درې یې میرمنې وې امر وکړ چې د بس څخه راکښته شي چې له دې وروسته یې هغوي ۱۴واړه په ډزو و وژل. قربانیان زیاتره د د هزاره په قوم پورې منسوب کسان وو ، خو په هغوي کې همدارنګه په نورو قومونو پورې مربوط دولتي کارمندان هم شامل وو.
یوناما دا مشاهده کړې ده چې دغه وژنې د هغو اخطارونو دلړۍ په تعقیب ترسره شوي دي چې قربانیانو ته ورکړل شوي وو. د بیلګې په توګه د فراه د ولایت د پشت رود په ولسوالي کې د سپټمبرپه ۲۸ نېټه د دولت ضد عناصرو له خوا د یوه تن وژل شوي ملکري یوناما ته و ویل:
*" د پیښې په ورځ ما دخپل ملګري سره ډیرې اوږدې خبرې درلودې. هغه ماته و ویل چې په خطر کې دی او داچې طالبانو* په وار وار هغه ته امر کړی چې خپله دنده [ په حکومت کې ملکي ماموريت ] پریږدي. هغه و ویل چې دا نن لومړی ورځ نه ده چې طالبانو ګواښلی دی ، بلکې دا لسم ځل دی. هغه د دې څخه ډاریدلو چې کور ته ولاړ شي ، خو بیا هم لاړلو ، او طالبانو د خجر په کلي کې ودرولو. طالبان په سیمه کې په یو شوونځي کې پټ وو او هغه یې و واژه. " [۱۵۰]
د هدفي وژنو د۱۷۴ ملکي تلفاتو څخه طالبانو د ۲۸ پیښو چې د ۵۶ ملکي تلفاتو ( ۴۰ وژنو او ۱۶ ژوبلو) لامل شوي دي مسوولیت منلی دی. د بیلګې په توګه د فبرورۍ په ۱۸ نېټه طالبانو د غور د ولایت د شهرک په کلي کې یو نومیالی قومي مشر و واژه. طالبانو د هغه د وژنې مسوولیت منلی دي. د سپټمبر په ۷ نېټه کله چې د بادغیس د ولایت د مقر په ولسوالي کې یو محلي مشر کور ته د راستنیدا په حال کې و د طالبانو یوې ډلې هغه په ډزو و واژه ، څکه چې هغه پخپل کلي کې د طالبانو د جنازې خښولو ته اجازه نه وه ورکړې.
یوناما همدارنګه د افغان امنیتي ځواکونو له خوا په هدفي وژنو کې زیاتوالی ثبت کړی دی ، په څلورو مستند کړای شویو پیښو کې چې په کې شپږ ملکیان وژل شوي او یو تن ټپي شوی دی ، چې دا په ۲۰۱۳ کال کې دغه ډول یواځینۍ پیښه په نوموړې سیمه کې وه. زیاتره وژنې د هغو بریدونو په تعقیب رامنځته شوي چې پر ملي امنیتي ځواکونو شوي دي. د بیلګې په ډول د ډسمبر په ۱۶ نېټه د فراه د ولایت د بالا بلوک په ولسوالي کې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د برید وروسته چې د ملي اردو دوه سربازان یې ټپیان کړل ، نورو سربازانو د غیر وسله والو کسانو په یوې ډلې ډزې پیل کړې چې دوه یې په کې و وژل او دریم یې سخت ټپي کړ.

**د طالبانو له خوا په ختیځه سیمه کې د ملکیانو په کورونو اور اچوونکي بریدونه**

د اګست د لومړۍ نیټې څخه د ډسمبر د ۳۱ نیټې پورې یوناما ۱۰ داسې پیښې مستندې کړي دي چې په کې طالبان د هغو ملکیانو کورونو ته اور اچوي چا چې په سیاسي لحاظ او یا هم په شفاهي توګه د طالبانو مخالفت کړی دی. ټول

[۱۵۰] د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۳۰ نېټه د فراه په ولایت کې د قرباني د یو تن ملګري سره د یوناما مرکه.

بریدونه د افغانستان د ختیځې سیمې د کنړ ، ننګرهار او نورستان په ولایتونو کې شوي. دطالبانو له خوا اکثره سوځول شوي کورونه د دولت د کارمندانو ، د امنیتي ځواکونو د منسوبینو او یا هم د طالبانو پر ضد د پاڅون کوونکو ډلو وو.

زیانمن شوو ټولنو او ملکیانو دا څرګنده کړه چې د کورونو سوځول د ډارولو کړنې دي چې موخه یې د ترهګرۍ او ویرې خپرول دي چې د هغو کسانو او کورنیو لپاره ډله ییزه سزا ده چې د دولت د پلویانو ګومان پرې شوی دی. د ملکیانو د کورونو سوځول د ارعاب او ډله ییزې سزا ورکولو د وسیلې په توګه په جګړه کې پخوا په دومره پراختیا سره نه دي مستند شوي[۱۵۱] ، لکه چې اوسنۍ پیښې یې په ختیځ افغانستان کې جوتوي چې دا د زیاتې اندیښنې وړ جریان دی.

د جګړې د هر اړخ له لوري د ملکي کورونو ویجاړول ناقانونه عمل دی او په کې په کتله ییز ډول خلکو او ټولنو ته ستونزې را ولاړېږي او اغیزمن کیږي. د اوسېدنې د یو کور او د احاطه شوي فارمګښت د ځمکې له لاسه ور کول په ټوله کورنۍ اغیزه کوي ، اکثره وخت د بشپړو کورنیو او ټولنو بې ځایه کېدنه رامنځته کوي ، بې وزلي زیاتوي او نورې اقتصادي او ټولنیزې پایلې چې په کې د معیشت او اساسي خدماتو ته د لاس رسي له لاسه ورکول شامل دي ، را ولاړوي.

**د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې د کورونو د سوځولو منع کول**

د بشر پالنې نړیوال قانون چې په غیر نړیواله وسله واله جګړه کې د پلي کیدنې وړ دی په عمومي صورت په ملکي هدفونو باندې بریدونه منع کوي[۱۵۲] . طالبان د دغه ډول بریدونو د ناقانونیت په اړه څه تردید نه لري ، او داچې هغوی په منظم ډول پخپلو میاشتنیو جرمي راپورونو کې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکیانو د کورونو د سوځولو په اړه تورونه ځای کوي. د ۲۰۱۳ کال د نوومبر په ۱۶ نېټه طالبانو پخپله ویب پاڼه کې یوه اعلامیه خپره کړه چې په هغې کې یې د کنړ د ولایت د خاص کنړ په ولسوالي کې د ۱۵ کورونو د سوځولو مسوولیت رد کړ ، او ادعاء یې وکړه چې "[ز] موږ مجاهدین په هیڅ ډول د دې اجازه نه لري چې.... عامه ځایونه او کورونه وسوځوي. "[۱۵۳] یوناما د ۲۰۱۳ کال د نوومبر په ۱۰ نېټه دا کره کړې ده چې طالبانو د افغان سیمه ییزو پولیسو د کورنیو اړوند ۱۵ کورونه سوځولي دي.

ډله ییز مجازات همدارنګه د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې (د عرفي قانون پر اساس په غیر نړیوالو وسله والو جګړو کې د پلي کېدنې وړ دی) چې په هغه کې راغلي دي چې هر ډول جرمي تعزیرات او مجازات ، چې په کې " هر ډول ډارونې ، که هغه اداري وي ، یا د پولیسو د اعمالو په نتیجه کې او یا هم په بل ډول وي" ، یواځې د انفرادي مسوولیت

---

[۱۵۱] که څه هم په دودیز عدالتي سیستم کې د موجودو مجازاتو په توګه د کورونو د سوځولو د پیښو ډیر کم رپوټونه رسیدلي دي ، د افغانستان د LANDINFO رپوټ : د وینې دښمنۍ ، عرفي قانون(پښتونولي) او په دودیز ډول د شخړې حل (۲۰۰۷)، په: http://landinfo.n/asset/1940_1.pdf. د لاس رسي وړ دی.

[۱۵۲] سیواکومارام ، ایس. د غیر نړیوالې وسله والې جګړې قانون( ـ کسفورډ د پوهنتون پریس ، ۲۰۱۲) مخ.۳۴۲. یاداښت: که څه هم د بشر پالنې نړیوال قانون " ملکي هدفونه" پخپل اصل کې په جلا ډول نه تعریفوي ، ټول هغه هدفونه چې نظامي هدفونه نه وي هغه د ملکي هدفونو په توګه ګڼل کیږي. نظامي هدفونه " هغه هدفونه دي چې هغه د خپل خصلت ، محل ، موخې او کارونې له مخې د نظامي اقدام په لړ کې اغیزمنه ونډه درلودلای شي ، او چې د هغو څخه برخه ییز او یا هم ټول را ولاړه شوې ویجاړتیا ، نیونه او خنثی کول د هغه مهال په حاکمو شرایطو کې یوه مشخصه نظامي بریا را منځته کوي. "، دغه تعریف په واضحه توګه شخصي کورونه چې په کې ملکي افراد اوکورنۍ هستوګنه لري نفی کوي.

[۱۵۳] د طالبانو اعلامیه" زبیح الله مجاهد د کورونو د سوځولو په اړه د رسنیو غیر منطقي رپوټونه ردوي "، د۲۰۱۳ کال د نوومبر ۱۴ نېټه ، په http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/39654-zabihullah-mujahid-dismisses-irerational-media-reports-over-torching-houses, last access 2 February 2015. د لاس رسي وړ دی.

پر بنسټ د تطبیق وړ دي.[١٥٤] ډله ییز مجازات همدارنګه د بیلابیلو ځانګړو بشري حقونو څخه چې په کې د منصفانه محکمې حق هم شامل دی سرغړونه ده.[١٥٥]

د اوسېدنې د کورونو پر خلاف ډېری مستند شوي بریدونو کې د افغانستان په بیلابیلو برخو کې د طالبانو پر ضد د محلي پاڅون کوونکو ټولنو او دهغوی د ملاتړو غړو کورونه په نښه شوي دي. د ملکیانو له خوا ځینې دغه پاڅونونه د دولت پلوه عناصرو له خوا چې په یوې ځانګړې سیمې کې فعال دي هڅول شوي دي. یو ناما د دې یادونه کوي چې د طالبانو سره د مقابلې لپاره د ملکیانو هڅول او مسلح کول هغوی تر زیاته بریده د خطر سره مخ کوي ، دا ډېره ستونزمنوي چې په واضح ډول د ملکي او جنګیدونکو ترمنځ توپیر وشي او د حکومتي چارواکو لپاره په دې کې د پاتې راتلو لامل کیږي چې د ملکیانو د ساتنې په لړ کې خپله دنده تر سره کړي.

لکه چې د لاندې بیلګو څخه لیدل شوي د طالبانو له خوا د کورونو د سوځولو په پیښو کې د ٢٠١۴ کال په دوهمه نیمایي کې ډېر زیاتوالی راغلی دی:

**د کنړ ولایت**

- د اګست په ١٣ نېټه طالب جنګیالي د کنړ د ولایت د نارۍ په ولسوالیکې د افغان سیمه ییز پولیس کور ته ورننوتل ، په زور یې د هغه کورنۍ د کوره و ویستله او کور ته یې اور واچولو.
- د سپټمبرپه ١٠ نېټه د کنړ د ولایت د مرورې په ولسوالي کې طالبانو د سیمه ییزو پولیسو پوستې د درنو اوسپکو وسلو د لارې تر برید لاندې ونیولې. سیمه ییزو پولیسو د برید ځواب و وایه. د سپټمبر په ١٠ او ١١ نېټو طالبانو د ٢٠-١٠ په شمیر دهغو کورنیو کورونه چې پرې ګومان کېدلو د سیمه ییزو پولیسو ملاتړي دي وسوځول. طالبانو د سیمه ییزو پولیسو پر ضد د برید مسوولیت منلی خو د کورونو د سوځولو مسوولیت یې نه دی منلی.
- د اکتوبرپه ٢٧ نېټه د کنړ د ولایت د مرورې په ولسوالي کې طالبانو د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو پوسته د درنو او سپکو وسلو له لارې تر برید لاندې را وستله . افغان ملي امنیتي ځواکونو د دغه برید ځواب و وایه. وروسته په همدغه ورځ طالبانو د محلي خلکو چې پرې ګومان یې کولو د دولت ملاتړي دي لږ ترلږه ١٠ تش کورونه وسوځول. طالبانو پر افغان ملي امنیتي ځواکونو دبرید مسوولیت منلی خو د کورونو د سوځولو مسوولیت څخه یې انکار کړی.
- د نوومبر په٢٢نېټه طالب جنګیالیو د کنړ په ولایت کې د طالبانو په ولکه کې د چپې درې د ولسوالي د یو تن ملکي دولتي کار مند کورته اور واچولو چې دغه کور د ددوو کلونو راهیسې تش و.
- د ډسمبر په١٣ نېټه طالبانو د کنړ د ولایت د دانګام په ولسوالي کې د طالبانو ضد پاڅون کوونکو د ډلې له خوا په جوړه شوې کنترولي پوسته باندې برید وکړ. د پاڅون کوونکو د ډلې غړو د څو ورځو نښتو په لړ کې د

---

[١٥٤] د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، ١٠٣ قاعده ، په ,http://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/V1_rul_rule103 ورته وروستۍ رسېدنه د ٢٠١٥ کال د فبرورۍ ٢ نېټه.

[١٥٥] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټې همدارنګه پخپله عمومي تبصره کې د مدني او سیاسي حقونو په نړیوال کنوانسیون کې د ۴ مادې (چې د اضطرار د حالت په اړه ده) اعلاموي چې غړي دولتونه "په هیڅ ډول حالاتو کې" نه شي کولای " د بشر پالنې د قانون دنقض او یا هم د نړیوال قانون د نهایي نورمونو څخه د سرغړونې په اړه " په اضطراري حالت استناد وکړي ، " د بیلګې په ډول ...د ډله ییزو سزاګانو د تحمیلولو له لارې."

برید څواب و وایه. طالبان ډیرو کلیو ته ننوتل او د پاځون کوونکو ۱۰ کورونه یې چې بې ځایه شوي وو وسوځول.

**د نورستان ولایت**

- د اګست په لومړۍ نېټه طالبانو د نورستان د ولایت د برګمټال په ولسوالي کې د افغان امنیتي ځواکونو پرخلاف د درنو او سپکو وسلو همغږی شوی برید تر سره کړ چې شپږ ملکي تلفات (څلور وژنې او دوه ټپي کېدنې) رامنځته کړل. طالبانو همدارنګه یوه کتابتون او اته کورونه چې د دولت د ملاتړو او د طالبانو پر ضد د پاځون کوونکو مربوط وو وسوځول.
- د اګست په نهمه د نورستان د ولایت د دوا ب په ولسوالي کې د طالبانو او افغان ملي پولیسو تر منځ په نښتو کې په دریو بیلابیلو کلیو کې شپږ ملکي وګړي و وژل شول. طالبانو د رپوټونو له مخې د ملکیانو کورونه وپلټل او د دولت پلوه کورنیو کورونه یې وسوځول.
- د ډسمبر په ۳۱ نېټه طالبانو د نورستان د ولایت د وایګل په ولسوالي کې د پارلمان د غړي کور ته اور واچولو. دغه پیښه د طالبانو د دې وروستۍ غوښتنې په لړ کې چې په کې د ځای ټولنو څخه غوښتل شوي دي چې یا هم دولتي دندې خوشې کړي ، یا سیمه پرېږدي او یا هم طالبانو ته مالیه ورکړي را منځته شوه.

**د ننګرهار ولایت**

- د سپټمبر په ۲۳ نېټه طالبانو د ننګرهار ولایت د در بابا په ولسوالي کې د افغان سیمه ییزو پولیسو پوستو باندې همغږي شوي بریدونه و کړل. هغوي همدارنګه د دولت د پلویانو او افغان سیمه ییزو پولیسو دغړو لړ تر لړه ۲۰ ملکي کورونه وسوځول.
- د سپټمبر په ۲۴ نېټه طالب جنګیالیو د ننګر هار د ولایت د در بابا په ولسوالي کې د ۱۰ - ۱۵ ملکي کورنیو کورونه وسوځول ، دغه کورنۍ د هغو اخطارونو له امله چې د طالبانو له لوري دسیمې د تخلیه کولو لپاره ورکړل شوي وو د خپلو کورونو څخه وتلې وې.

یوناما د ۲۰۱۵ کال په لومړیو اوو اونیو کې د افغانستان په نورو سیمو کې هم د دولت ضد عناصرو له لوري د ملکي کورونو د سوځولو د پیښو مستند کولو ته ادامه ورکړې. یوناما په شخړه کې ښکیلو ټولو اړخونو ته د دې یادونه کوي چې په قصدي او موخه ییزه توګه د هستوګنې د کورونو ویجاړول ناقانونه عمل دی او د دغه ډول بریدونو څخه ملکیان او ټولنې د ناوړه بشري پایلو سره مخ کیږي.

**د طالبانو له خوا د هغو بریدونو د مسوولیت منل چې په کې ملکیان اغیزمن کیږي**

په ۲۰۱۴ کال کې طالبانو په ډاګه د ۳۸۲ بریدونو مسوولیت[۱۵٦] منلی دی چې د ۱۶۸۲ ملکي تلفاتو (۵۴۲ وژنې او ۱۱۴۰ ټپي کېدنې) لامل شول. د دغو ۳۸۲ بریدونو څخه ۲۳۶ یې د افغان امنیتي ځواکونو ، نړیوالو نظامي ځواکونو

---

[۱۵٦] د مسوولیت د منلو د ادعاء ګانو سر بیره د سپټمبر په ۱۵ نېټه طالبانو د ۱۸۸ کسانو لست خپور کړ چې د هغوي د وژلو مسوولیت یې پر غاړه واخیست. په دغه لست کې د افغان امنیتي ځواکونو غړي ، او ملکیان چې په هغو کې ولسوالان ، څارنوالان ، قاضیان ، د ټاکنیزو چارو کار کوونکي اوقراردادیان شامل دي. د تفصیلي معلوماتو د نشتوالي له امله (یواځې القاب او/ یا هم نومونه ورکړل شوي دي)، یوناما و نه شوای کولای چې د ټولو لست شویو کسانو هویت تصدیق کړي. ۱۸۸ کسان په ۱۸۸۲ ملکي تلفاتو کې چې په ۲۰۱۴ کال کې د یوناما له خوا تصدیق شوي دي نه دي شامل.

او دولت پلوه وسله والو ډلو پر خلاف دي ، په داسې حال کې چې ۱۴۳ بريدونه په عمدي توګه د ملکي هدفونو[۱۵۷] پر خلاف وو چې په هغو کې قومي مشران ، د بشرپالنې د برخې ماين پاکوونکي ، د ملکي دولتي او د عدلي سکتور او ياهم د مرستې د برخې کار کوونکي شامل دي. يوناما په دې ونه توانيدله چې په دريو پيښو کې چې طالبانو يې مسووليت منلی دی هدف معلوم کړي. د دې رپوټ لومړی ضميمه د هغه تفصيل لپاره چې طالبانو يې مسووليت منلی دی د هدف د نوعيت په شمول وګورئ.

**د ملکيانو پرضد د طالبانو قصدي بريدونه او د مسووليت د منلو بيلګې:**

- <u>د هلمند د ولايت د لشکرګاه په ښار کې ځانمرګی بريد-</u> د ډسمبر په ۱۷ نېټه دوو کسانو چې پخپل ځان پورې يې ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي تړلي وو د هلمند د ولايت د لشکر ګاه په ښار کې د کابل بانک وداني ته ننوتل. يو تن چې په ځان پورې يې چاوديدونکی توکی تړلی و ځان والوزلو او ۱۶ ملکي تلفات (درې وژنې او ۱۳ ټپي کېدنې) رامنځته کړې. درې افغان ملي پوليس و وژل شول او څلور نور ټپيان شول. طالبانو د بريد مسووليت منلی دی.[۱۵۸]
- <u>د کابل په ښار کې د فرانسې د فرهنګي انستيتوت په وړاندې ځانمرګی بريد-</u> د ډسمبر په ۱۱ نېټه يو تن بريد ګر په کابل کې د فرانسې فرهنګي انستيتوت ته ننوت او هلته يې د ځان وژنې واسکټ د "*د زړه درزا: د چاودنې وروسته خاموشي*" د تياتري تمثيل چې د افغانستان د خلکو پر ژوند باندې د ځانمرګو بريدونو اغيزې بيانوي پرمهال وچاودولو. ددغه بريد له امله ۱۲ ملکي تلفات(دوه وژنې او ۱۰ ټپي کېدنې) رامنځته شول. د طالبانو يو تن وياند مسووليت ومنلو او ويې ويل چې هغوي دغه د تياتر تمثيل د دې لپاره هدف وګرځولو چې په کې هڅه شوې وه څو "*اسلامي ارزښتونو ته سپکاوی او زموږ د جهادي عملياتو پر ضد تبليغات وکړي.*" طالبانو بيان وکړ چې دغه بريد د رسنيو خپرونو او د مدني ټولنې موسسو ته يو خبرداری دی ، چې که هغوي دغه ډول محفلونه جوړ کړي نو تر هدف لاندې به راشي.[۱۵۹]
- <u>د کابل په ښار کې د پرمختيايي چارو پر غير دولتي موسسې باندې بريد-</u> د ۲۰۱۴ کال د نوومبر په ۲۹ نېټه درې وسله والو طالبانو د کابل په ښار کې د يو انجو "*د علم او پرمختيا لپاره همکاري*" په انګړ دوه لاسي بمونه ګوزار کړل ، د موسسې انګړ ته ننوتل او په قصدي توګه يې په غير وسله والو ملکيانو باندې چې د ودانۍ د انګړ په بيلابيلو برخو کې پټ شوي وو په قصدی ډول ډزې پيل کړې. په دغه بريد کې ۱۱ ملکي تلفات (پنځه وژنې او شپږ ټپي کېدنې) رامنځته شول. دغه موسسې د څو ثانوي ښوونځيو د تمويل او د انګليسي ، رياضي او کمپيوټر د کورسونو د دايرولو د لارې د پوهنې ملاتړ کولو. طالبانو د بريد د پيښې مسووليت منلی.[۱۶۰]

---

[۱۵۷] د "ملکيانو" تر نوم لاندې يوناما هغو ملکيانو او ملکي هدفونو ته مراجعه کوي چې هغه جنګيالي او يا قانونمنده هدفونه نه دي ګڼل شوي ، د افغان ملي پوليسو ، د ملي امنيت د رياست د غړو پرته (کله چې هغوي په جنګي نښتو کې په مستقيم ډول ګډون کوي نو د جنګيالي په درېځ کې دي).

[۱۵۸] په ۲۰۱۴ کال کې د ډسمبرپه ۱۷ نېټه د طالبانود عملياتو رپوټ په ,http://justpast.it/ihmt د رسېدنې وړدي ، وروستي لاس رسی د ۲۰۱۵ کال د فبروري ۴ نېټه.

[۱۵۹] په ۲۰۱۴ کال کې د ډسمبر په ۱۱ نېټه د طالبانو د وياند د ټويټر په پته د طالبانو خپره شوې اعلاميه په http://twitter.com/zabihullahmujahid.

[۱۶۰] د ۲۰۱۴ کال د نوومبر په ۳۰ نېټه د طالبانو رپوټ په :-http://shahamat-english.com/index.php/news/51294-all-news-29-11 ,14 ورته وروستی رسېدنه د ۲۰۱۵ کال د فبروري په۴ نېټه.

- د کابل په ښار کې د بریتانیې د سفارت پر نقلیه وسیله به موټر کې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي برید- د نوومبر په ۲۷ نېټه په موټر کې د ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي د لارې د بریتانیې د سفارت دوه نقلیه وسیلې چې ملکي پرسونل یې د کابل په ښار کې لیږدولو تر برید لاندې ونیولې شوې ، چې د هغه په پایله کې ۴۱ تنه ملکي تلفات (پنځه وژنې او ۳۸ ټپي کېدنې چې په کې ۱۱ ماشومان او یوه میرمن شامل وو) را منځته شول.د طالبانو ویاند په ټولنیزو رسنیو کې د برید مسوولیت منلی دی.[۱۶۱]
- د کندز د ولایت د ایستیناف په څارنوالي برید- د اکتوبر په ۲۷ نېټه طالبانو د کندز د ولایت د کندز په ښار کې د ولایت د استیناف د څارنوالي په دفتر برید وکړ چې په پایله کې یې ۱۸ ملکي تلفات (اته وژنې او لس ژوبلې) رامنځته شول. طالبانو د برید مسوولیت منلی دی.[۱۶۲]
- د فراه د ولایت د قلعه کاه په ولسوالي کې د ۱۲ تنو د ورځې د کار د مزدورانو وژنه- د ۲۰۱۴ کال د اګست په ۳۰ نېټه د فراه د ولایت د قلعه کاه په ولسوالي کې طالبانو په یوه کمین کې د ورځې د کار د مزدورانو یوه ډله چې په سرحدي سیمه کې د کار لپاره روانه وه په کمین کې را وستله چې ددغه برید په پایله کې ۱۷ ملکي تلفات (۱۲ وژنې او پنځه ټپي کېدنې) رامنځته شول. طالبانو د پېښې مسوولیت منلی او ویلي یې دي چې د دوي جنګیالیو *اربکیان* وژلي دي.[۱۶۳]

یوناما په دې تاکید کوي چې د بشر پالنې نړیوال قانون د ملکیانو (مګر په داسې مهال کې چې هغوي په مستقیم ډول په نښتو کې ونډه ولري) او ملکي هدفونو (مګر په داسې مهال چې هغه د نظامي موخو لپاره وي) پر خلاف ټول بریدونه منع کوي. دغه ډول کړنې په جنګي جرمونو کې راځي. یوناما یوځل بیا د دې یادونه کوي چې په شخړه کې ښکیل ټول اړخونه ، د طالبانو په شمول د بشر پالنې د نړیوال قانون په رعایت کولو مکلف دي.

**د امنیتي ځواکونو د هدف ګرځولو لپاره بې توپیره او غیر متناسبه بریدونه**

په ۲۰۱۳ کال کې طالبانو د ۲۳۶ هغو بریدونو مسوولیت منلی دی چې په کې امنیتي ځواکونه هدف ګرځول شوي دي او په پایله کې یې ملکي تلفات رامنځته شوي دي. دغه بریدونه په عامه ځایونو کې شوي چې په کې بې توپیره تاکتیکونه او وسلې په کې کاروي چې نظامي هدفونه ، ملکیان او ملکي هدفونه پرته له توپیره[۱٦٤] تر ګوز ارونو لاندې راولي ، او یا هم په دې هیله پر لاره اچول شوي چې دغه برید کولای شي په تصادفي توګه د ملکي وګړو د ژوند د تلف کېدو لامل شي چې د وړاند وینې وړ د مشخص او مستقیم نظامي امتیازڅخه زیات وي.

**د بریدونو په پایله کې د غیر متناسب زیان اړولو پېښې چې موخه یې د وسله والو ځواکونو هدف ګرځول وو:**

- د ډسمبر په ۲۸ ، د لغمان ولایت د الینګار په ولسوالي کې د یوې هټۍ مخې ته یو ځای پر ځای شوی چاودیدونکی توکی وچاودید. یادې هټۍ د افغان سیمه ییزو پولیسو یوې پوستې ته نږدې موقعیت درلود او

[۱٦۱] د ۲۰۱۴ کال د نوومبر په ۲۷ نېټه د طالبانو د ویاند د ټویټر په حساب کې خپره شوې اعلامیه په http://twitter.com/zabihullahmujahid/status/538017888599175169,: ورته وروستۍ رسېدنه د ۲۰۱۵ کال د فبروري ۴ نېټه.
[۱٦۲] د طالبانو رپوټ ، " د کندز په عملیاتو کې د ۲۴ کسانو وژنه" د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر ۲۷ نېټه، په :-http://shahamat-english.com/index.php/news/50705-24-killed-in-kunduz-operation, ورته وروستۍ رسېدنه د ۲۰۱۵ کال د فبروري ۴ نېټه.
[۱٦۳] د ۲۰۱۴ کال د اګست د میاشتې په ۳۱ نېټه د طالبانو رپوټ په دې پته د لاس رسي وړ دی: فراه-پشتکوه-کې۱۱--اربکیان-قتل۴--زخمیان-شول-http://shahamat.info/index.php/news/55308
[۱٦٤] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د دې رپوټ د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو ، ځانمرګو اوپیچلو بریدونو برخې وګورئ.

مالک يې هم يو قومي مشر څوک چې د ولسوالي د کچې د افغان ټولنيز لاسرسي د پروګرام (ASOP) غړی و. چاودنې پنځو ملکي کسانو ته تلفات واړول(د هتی د مالک په ګډون دوه وژل شوي او د يوه ۱۳ کلن هلک په شمول دری ټپيان شوي).
طالبانو په خپله ويب پاڼه د دې پيښې مسوليت منلی.[١٦٥]

- د ډسمبر په ۱۳ ، يوه ۱۷ کلن ځانمرګي بريد کونکي په کابل کې د افغان ملي اردو د يوه بس موټر په وړاندې د ځانمرګي بريد خپل واسکټ وچاوه او په نتيجه کې يې د افغان ملي اردو ۱۴ جنګياليو ته مرګ ژوبله واړوله. چاودنې همدارنګه د يوې ښځې او دوو ماشومانو په شمول ۱۴ ملکي کسان په جدي توګه ټپيان کړل. طالبانو د ټويټر په ټولنيزه شبکه د دې بريد مسوليت منلی.[١٦٦]
- د نومبر په ۱ ، په موټر کې د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو يوه بريد کونکی د لوګر ولايت د ازرې په ولسوالي کې د افغان ملي اردو او افغان سيمه ييزو پوليسو په يوه ګډه پوسته بريد وکړ. چاودنه د ۲۹ ملکي تلفاتو لامل شوی(د يوې اميندوارې ښځې او يوه ماشوم په ګډون پنځه وژل شوي او د څلورو ښځو او دريو ماشومانو په شمول ، ۲۴ کسان ټپيان شوي دي). چاودنې د پنځو ملکي کسانو کورونه او يو جومات زيانمن کړي. بريد همدارنګه ۲۱ جنګياليو ته مرګ ژوبله اړولې (د افغان ملي اردو او افغان سيمه ييزو پوليسو غړي). د طالبانو د مسوليت منلو ادعا څرګندوي چې په بريد کې د افغان ملي اردو ، افغان ملي پوليسو او افغان سيمه ييزو پوليسو ۲۸ غړي وژل شوي او د افغان ملي امنيتي ځواکونو نور ۱۹ غړي ټپيان شوي دي. په بيان کې ويل شوي چې د دوو ماشومانو په ګډون پنځه ملکيان برسيرن ټپيان شوي دي.[١٦٧]

ښکاري چې که څه هم دغو بريدونو په مستقيم ډول امنيتي ځواکونه په نښه کړي ، د ملکي کسانو د ګڼې ګوڼې نږدې سيمو ته د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو کارول ، د ساحوي وسلو سيستمونه او/ يا غيرې مستقيمې ډزې(هاوانونه ،لاسي بمونه او راکټونه) ممکن بې توپيره او غير متناسبو بريدونو ته لار هواره کړي ، او په همدې ډول ، د نړيوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونې را منځ ته کړي او ممکن جنګي جرمونه وګڼل شي.[١٦٨] يوناما په خپله غوښتنه ټينګار کوي او د طالبانو څخه غوښتنه کوي چې د ملکي کسانو د ګڼې ګوڼې په سيمو کې د بې توپيره تاکتيکونو د کارولو بريدونه و دروي.

[١٦٥] د طالبانو راپور ، د ماين چاودنې په لغمان کې دوه تنه ګوډاګيان ټپيان کړل ، د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر ۳۰ ، پر دغې ويب پاڼې د لاس رسي وړ ده: http://www.shahamat-english.com/index.php/news/51781-mine-blast-leaves-2-puppets-wounded-in-laghman, last accessed 4 February 2015.

[١٦٦] د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۱۳ د طالبانو د ويانډ له خوا په ټويټر ټولنيزه شبکه نشر شوی بيان: https://twitter.com/zabihmujahid .https://twitter.com/zabihmujahid/status/543794502423437312, last accessed 4 February 2015.

[١٦٧] د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۱ ، د طالبانو د وياند له خوا په ټويټر ټولنيزه شبکه نشر شوی بيان:https://twitter.com/zabihmujahid .

[١٦٨] بې توپيره بريدونه هغه بريدونه دي د کومو موخه چې ځانګړي پوځي اهداف نه وي ، د جګړې يوه وسيله کاروي چې کومې خاصې پوځي موخې ته متوجه نه وي ، يو ميتود او يا د جګړې داسې وسيله کاروي چې ممکنې اغيزې يې محدودې نه وي ، لکه څنګه چې د بشر پالنې نړيوال قانون اصرار کوي او په پای کې ، په هره داسې قضيه کې ، د داسې ماهيت درلودونکې چې په پوځی موخو ،ملکي کسانو او ملکي موخو د توپيره پرته بريد کوي. ۱۲ قاعده وګورئ ، د سره صليب نړيواله کميټه ،د بشر پالنې نړيوال عرفي قانون.

**د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمونکو تدبیرونو په اړه د طالبانو بیانونه**

په ۲۰۱۴ کال کې ، [۱۶۹] طالبانو د امنیت ،ځايي او نړیوالو سیاسي پرمختګونو ، ملکي کسانو د ساتنې او نورو موضوع ګانو په اړه په خپلو عامه ویب سایټونو کې ۸۲ بیانونه نشر کړي دي. د دغو بیانونو له جملې څخه یو څو یې د خپلو ادعا شویو ژمنو بیا تصدیق کړی څو د وسله والې شخړې د اغیزو څخه ملکي کسان وساتي او ادعا یې کړې چې د دوي جنګیالي به د ملکي تلفاتو د مخنیوي په خاطر د تدبیرونو نیولو ته دوام ورکړي.

د ۲۰۱۴ کال په سپټمبر کې ، طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي په خاطر د خپلې ځانګړې کمیټې په هکله نوی بیان خپور کړ. دا بیان د ۲۰۱۳ کال د جون د میاشتې د یوه بیان په تعقیب خپور شوی چې موخه یې د طالبانو د پوځي کمیسیون د یوې برخې په حیث د کمیټې جوړول و. د ۲۰۱۴ کال په جون کې ، طالبانو د کمیټې د کار په اړه یوناما ته لا زیات معلومات برابر کړی. [۱۷۰]

د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر د میاشتې بیان افغانان هڅولې څو د کمیټې سره د ملکي تلفاتو د پیښو په اړه هر ډول معلومات بې له دې چې مرتکب شخص ته پام وشي ، شریک کړي او یادونه یې کړې چې طالبان به " پراخه ثیرنه(پراخې څیړنې)" ترسره کړي ، د شریعت د قانون سره سم به عدالت تامین کړي ،"د دوه اړخیزې پخلاینې" لپاره به لار برابره کړی او د "خسارې د جبیره کولو لپاره به مناسب شرط (شرایط) را منځ ته کړي او د قربانې اړخ سره به د خواشینۍ مراتب شریک کړي". د طالبانو په بیان کې د کمیټې لپاره د دوي له خوا د تورنو کسانو په اړه تفصیلې معلومات ورکړل شي. [۱۷۱]

په ورته ورځ ، طالبانو د کمیټې د یوه ادعا شوی غړی سره مرکه خپره کړی ، چا چې د ادعا شوی میکانیزم په اړه تفصیلې معلومات وړاندې کړی د کومو له مخې به د هغو طالبانو څخه پوښتنه کیږي چا چې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د طالبانو د لایحې څخه سرغړونې کړی. د ادعا سره سم دغه میکانیزم د شرعي محکمې په اړه ارجاع ته ځای ورکړی ، محکمه کولای شي د محاکمې لاندې یو شخص معاف او شدید مجازات کړي. [۱۷۲]

د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر د میاشتي د بیان په تعقیب ، یوناما د ملکي تلفاتو د یو شمیر پیښو د کومو چې طالبان یې د څیړلو ادعا کوي ، یادونه کړې. د دې ډول معلوماتو د ترلاسه کولو او مکررو غوښتنو سربیره ،یوناما ته د ملکي تلفاتو په اړه کوم چې د طالبانو د غړو لخوا را منځ ته شوی د داخلي حساب ورکونې په هکله کومې بیلګې او معلومات نه دی وړاندې شوی. د بیلګې په توګه ، د نومبر په ۲۳ ، طالبانو د پکتیکا ولایت د یحیی خیلو په ولسوالي کې د والیبال په یوه سیالي کې د ځای پرځای شوی چاودیدونکی توکی په برید کې چې په پایله کې یې ۱۳۸ ملکي تلفات را منځ ته شو (۸۵ وژنې او ۵۳ ټپي کېدنې) خپله ښکېلتیا نه ده منلی. طالبانو تر دې دمه د څیړنې پایلې په عامه ډول نه دي خپرې کړي.

---

[۱۶۹] یوناما د طالبانو د یوه بیان چې د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۴خپور شو یادونه کوي ، دې بیان ټولو طالبانو جنګیالیو ته لارښونه کړې چې د هر ډول ملکي تلفاتو د مخنیوي په خاطر له حده زیاته پاملرنه وکړي ، د هغه مخنیوي په شمول چې ملکي کسان هدف و نه ګرزوي او په هغو سیمو کې "عملیات یا بمباری ترسره نه کړي چېرې چې د داسې عملونو په نتیجه کې ممکن ملکي کسانو ته زیان واوړي".

[۱۷۰] په پوځي شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ کال نیم کال راپور ته مراجعه وکړئ.مخ ۳۰

[۱۷۱] د طالبانو بیان ، " د ملکي تلفاتو د مخنیوي ریاست ، د پوځي چارو کمیسیون"، د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر ۱۰ ، په لاندې ویب پاڼه د لاسرسی وړ دی: http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/48925-department-of-prevention-of-civilian-casualties-commission-of-military-affairs, last accessed 2 February 2015.

[۱۷۲] د مولوی سرحدي سره مرکه، د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر ۱۰، په لاندې ویب پاڼه د لاسرسی وړ ده: http://shahamat.info/index.php/interviwe/56031-د-ملکي-تلفاتو - دمخنیوي - ادارې -له -نماینده -سره -مرکه , last accessed 2 February 2015.

یوناما یو سند تر لاسه کړی چې په هغه کې طالبانو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې د دریو پیښو چې په نتیجه کې یې ملکي تلفات را منځ ته شوي د خپلو څېړنو په هکله راپور ورکړی.[۱۷۳] یوناما د تعقیب شویو معلوماتو غوښتنه کړی خو د دغو څېړنو په هکله یې نور معلومات نه دي تر لاسه کړي.

### د "ملکي شخص" او بشر پالنې د نړیوال قانون په اړه د طالبانو تعریف

په ۲۰۱۴ کال کې ، طالبانو د 'ملکي شخص' څخه د هغوي د تعریف په حواله بیانونه نه دي خپاره کړي. د طالبانو یو بیان چې د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۴ خپور شو 'د ملکي شخص' په اړه د یوه بیا کتل شوي تعریف راپور ورکړی ، په دی تعریف کې "هغه څوک چې د طالبانو په وړاندې په فعالیتونو کې ښکېل نه وي ملکي شخص دی: "هغه کسان څوک چې د دښمن د ځواکونو سره اوږه په اوږه ولاړ نه وی او د جهاد په وړاندې عملونه نه ترسره کوي باید ملکیان وشمیرل شي." د ۲۰۱۳ کال بیانونو د 'ملکي شخص' تعریف وړاندې کړی چې په هغو کې ښځې ، ماشومان ،د زیات عمر درلودونکي کسان او هغه کسان چې د ملکي کسانو تر کتګوري لاندې " عادي ژوند تیروي "شامل دي باید د بریدونو څخه وساتل شي.[۱۷٤]

یوناما د 'ملکي شخص' د هغه جامع تعریف یادونه کوي کوم ته چې د ۲۰۱۵ کال د جنوري د ۴ نیټې د طالبانو په بیان کې رجوع شوی ، خو په ډاګه کوي چې تعریف د بشر پالنې د نړیوال قانون سره په ټکر کې دی ، د بشر پالنې نړیوال قانون ملکي کسان د تشخیص د اصل په موخه هغه کسان شمیري چې د وسله والو ډلو غړي نه وی مګر که دوي په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه اخلي.[۱۷۵]

### د ولت پلوه ځواکونو له خوا د را منځ ته شویو ادعا شویو ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو میاشتني بیانونه

په ۲۰۱۴ کال کې ، طالبانو په عمومي ډول د دولت پلوه ځواکونو لخوا د ادعا شویو 'جنګي جرمونو' په اړه ټولټال ۱۲ میاشتني بیانونه خپاره کړي ، طالبانو په دې بیانونو کې ادعا کړې چې دولت پلوه ځواکونو په ۲۹۲ پیښو کې کم تر کمه د ۱۱۰۶ ملکي تلفاتو لامل شوي(۶۹۱ وژنې او ۴۱۵ ټپي کېدنې).[۱۷٦] یوناما د ۲۹۲ پیښو د جملې څخه ، د ۱۹۸ پیښو او یا ۶۸ سلنې کوم چې د طالبانو له خوا د هغوي په میاشتنیو بیانونو کې راغلي ، تصدیق کړي(د طالبانو د بیانونو څخه وړاندې د ۱۹۸ د جملې څخه د ۶۱ سلنې تصدیق شوی او د پاتې ۳۹ سلنې تصدیق د نشریدو څخه وروسته شوی).

---

[۱۷۳] د یوناما لخوا تر لاسه شوي معلومات ،۲۰۱۴ کال اکتوبر.

[۱۷٤] د طالبانو بیان ، "یوناما ته د هغه تعصبي چلند په اړه پرانیستی لیک"،۲۰۱۳ کال ،فبروري ۲۵ ، په لاندې ویبپاڼه د لاسرسی وړ دی: http://www.shahamat-english.com/index.php/paighamoona/29225-an-open-letter-to-the-unama-about-the-biased-behavior-of-this-organization, last accessed 15 January 2015.. په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنی په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ کال نیم کلن راپور ته مراجعه وکړئ. د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۴ ، طالبانو د ملکي کسانو د ساتنې په اړه یو بیان خپور کړی ، په دې راپور کې ادعا شوې چې د 'ملکي کسانو' په تعریف کې هر هغه څوک چې د طالبانو په وړاندې په فعالیتونو کې ښکېل نه وي شامل دي. "هغه کسان چې د دښمن د ځواکونو سره اوږه په اوږه نه وي ولاړ او د جهاد په وړاندې فعالیتونه نه ترسره کوي باید د ملکیانو په حیث وشمیرل شي". " د طالبانو بیان ، په روان جهاد کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي په خاطر د احتیاطي تدابیرو په هکله د اسلامی امارت د مشرتابه ځانګړې لارښوونې "، ۲۰۱۵ کال د جنوري ۴ ، په لاندې ویب پاڼه د لاسرسی وړ دی: http://www.shahamat-english.com/index.php/paighamoona/51926-special-instructions-of-the-islamic-emirate%E2%80%99s-leadership-regarding-precautionary-means-to-prevent-civilian-casualties-in-the-ongoing-jihad, last accessed 15 January 2015.

[۱۷۵] ۵ قاعده. د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون. په لاندې ویب پاڼه د لاسرسی وړ دی:-https://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v1_cha_chapter1_rule5, last accessed 15 January 2015.

[۱۷٦] See http://shahamat-english.com/.

د ۱۱۰۶ ادعا شویو تلفاتو د جملې څخه کوم چې د طالبانو په میاشتنیو بیانونو کې راغلي ، طالبانو ۵۰۴ تلفات (۲۳۲ وژنې او ۲۷۲ ټپي کېدنې) افغان ملي امنیتي ځواکونو ، ۳۴۱ تلفات(۲۵۱ وژنې او ۹۰ ټپي کېدنې) نړیوالو نظامي ځواکونو ، ۱۱۷ تلفات[۱۷۷] دولت پلوه وسله والو ډلو (اربکېانو) او ۱۰۰ تلفات (۹۱ وژنې او ۹ ټپي کېدنې) ګډو افغان او نړیوالو نظامي عملیاتو او پاتې ۴۴ تلفات نورو نهادونو ته منسوب کړي دي.

یوناما د ملکي تلفاتو ۲۹۲ ادعا شوې پیښې تعقیب کړي ځو دا معلومه کړي چې یوناما پیښې ثبتې کړي او د هغو ادعاوو چې پخوا یې نه وې ثبتې کړې ، تصدیق وکړي. د ۲۹۲ ادعا شویو پیښو له جملې څخه ، یوناما پخوا ۱۲۱ پیښې ثبتې کړي او ۱۷۱ پیښې یې په فعالانه ډول تعقیب کړي. په داسې حال کې چې د ۹۴ پیښو تصدیق نه دی شوی ، د دغو ۱۷۱ ادعا شویو پیښو له جملې څخه یوناما د ۷۷ پیښو تصدیق کړی. د دغو ۷۷ تصدیق شویو پیښو له جملې څخه ۵۱ پیښو د شخړې سره تړاو درلود چې په نتیجه کې یې ملکي تلفات را منځ ته شوي ، په ۲۱ پیښو کې ملکي تلفات نه دي را منځ ته شوي ، دریو پیښو د وسله والې شخړې سره تړاو نه درلود او په دوو قضیو کې یوناما و نه توانیدله جوته کړي چې تلفاتو د شخړې سره تړاو درلود او که نه.

د یوناما لخوا د شخړې سره د تړلو ۵۱ پیښو د تصدیق په نتیجه کې ټولټال ۱۱۵ ملکي تلفات مستند شوي (۷۴ وژنې او ۴۱ ټپي کېدنې)، په ۳۹ پیښو کې چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ټولټال ۸۸ ملکي تلفات را منځ ته شوي(۶۰ وژنې او ۲۸ ټپي کېدنې). د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو د تبادلې په اوو پیښو کې نور ۱۸ ملکي تلفات را منځ ته شوي(اوه وژنې او ۱۱ ټپي کېدنې). د دغو پیښو د جملې څخه د دوو پیښو مسوول دولت ضد عناصر وو چې په نتیجه کې یې دوه ملکي تلفات را منځ ته شوي(دوه وژنې) ، سره له دې چې په دریو پیښو کې اوه ملکي تلفات را منځ ته شوي (پنځه وژنې او دوه ټپي کېدنې) یوناما و نه شوای کولای د پیښو مرتکبین معلوم کړي.

یوناما تصدیق کوي هغه معلومات چې د طالبانو لخوا په عمومي ډول خپاره شوي هغو د یوناما د ملکي تلفاتو د مستند کولو د چارو سره کومې چې پخوا د یوناما د ساحوي ټیمونو لخوا نه وې تشخیص شوې ،مرسته کړې. یوناما د شخړې د ټولو ښکېلو خواوو لخوا د معلوماتو د برابرولو هرکلی کوي او د ټولو هغو پیښو چې د مکي تلفاتو باعث کېږی د شفافو او بې پری څېړنو غوښتنه کوي.

د ټولټال ۲۹۲ ادعاګانو د جملې څخه ، په ۸۸ ادعاګانو کې د کارول شوی تاکتیکونو یادونه نه ده شوې ،۶۱ ادعاګانې هوایي عملیاتو ، ۴۱ ادعاګانې د تلاشي عملیاتو ،۴۱ د هاوانونو کارولو او ډزو ته او ۳۲ ادعاګانې د ډزو پیښو ته او پاتې ۲۹ ادعاګانې نورو تاکتیکونو ته راجع شوې.

د طالبانو د میاشتنیو بیانونو د تجزیې لپاره دوهمه ضمیمه وګورئ.

**د ملکي تلفاتو په اړه د یوناما د عامه راپور ورکولو په وړاندې د طالبانو غبرګونونه**

د جولای په ۳۱ ، طالبانو په یوه خپور شوی بیان کې د *ملکي کسانو د ساتنې په اړه* د یوناما د ۲۰۱۴ کال *شپږ میاشتنی راپور* رد او هغه یې " بې اساسه پروپاګنډه " وبلله او ادعا یې کړې چې دا راپور " په کابل کې د امریکا د سفارت په

[۱۷۷] د طالبانو بیان هم نه ده په ډاګه کړې چې ایا په " تلفاتو "کې وژل شوي او ټپیان شامل وو.

لاربښونو او سپارښتنو" چمتو شوی څو د طالبانو شهرت ته زیان ورسوی.[۱۷۸] په بیان کې راغلي چې یوناما طالبانو ته کافي وخت نه دی ورکړی څو د راپور د خپریدو څخه وړاندې راپور تحلیل کړی. بیان د یوناما له اړخه د ملکي کسانو په حیث د حکومتي چارواکو په نظر کې نیول رد کړي دي:

*"که چیرې یوناما د کابل اداري چارواکو، پولیسو، سرتیرو، استخباراتي کارکونکو او د حساسو او زیان لرونکو ادارو کارکونکو ته د ملکیانو په نظر وګوري نو بیا د هغوي خپل تحلیل نا سم دی".*[۱۷۹]

په بیان کې، طالبانو د ملکي تلفاتو د غټ اکثریت پړه پر دولت پلوه ځواکونو اچولې او د خپلو هڅو چې موخه یې د ملکي کسانو د تلفاتو د شمیر کمول دي ستاینه کړې:

*"د ملکي کسانو د ژوند ژغورلو په موخه د اسلامي امارت لخوا نیول شوي احتیاطي تدبیرونه په داسې بې ساري او نا متوازنه جګړه کې نن هم په نړیواله کچه او همدارنګه پخوا هم بې ساري او بې نظیره و و".*[۱۸۰]

د ۲۰۱۴ کال په جریان کې، طالبانو د زیاترو ملکي تلفاتو کوم چې د هغوي د عملیاتو په نتیجه کې را منځ ته شوي مسوولیت یا درستوالی نه دی منلی. طالبانو د یوناما د د ریځ د ناسمه اثباتولو کار ته دوام ورکړی، هغه چې ګویا د ملکي تلفاتو اکثریت شمیر د دولت ضد عناصرو لخوا د ترسره شویو بریدونو او عملیاتو په نتیجه کې را منځ ته شوی، په کومو کې چې طالبان او همدارنګه نورې یاغې ډلې شاملې دي. که څه هم چې طالبانو داسې معلومات نه دي وړاندې کړي د کومو په بنسټ چې دوي د خپلو بیانونو د ثابتولو لپاره ترې ګټه واخلي، د طالبانو موقف دا دی چې زیاتره ملکي تلفات باید دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شي.

یوناما تاییدوي چې په فعالانه او بې پرې توګه د شخړې د ټولو ښکېلو ډلو لخوا د دښمنیو د چلند نظارت کوي او د موندنو د بې پرې، دقیق او عادلانه تحلیل څخه د ډاډ حاصلولو په موخه تر ممکنه حده خپل لاسرسی لوړ کچې ته رسوي. یوناما همدارنګه په فعالانه ډول د طالبانو د 'جنګي جرمونو' میاشتني راپورونه او نورې معلوماتي سرچینې تعقیبوي او په مناسب ډول پیښې مستند کوي. د یوناما د ماموریت لخوا د ۷۲ سلنې ملکي تلفاتو منسوبونه دولت ضد عناصرو ته د یوناما لخوا د ملکي تلفاتو د ۴۲۹۹ پیښو د مستند کېدو پر بنسټ ولاړه ده او د هرې پیښې لپاره یې درې بیلابیلې نمونې کارولې دي.

د ډسمبر په ۲۱، د ملکي تلفاتو په برخه کې د وروستیو جریاناتو په اړه، طالبانو د هغو بیانونو په اړه غبرګون ښودلی کوم چې د یوناما لخوا د ډسمبر د میاشتې په ۱۹ نیټه په مطبوعاتي کنفرانس کې وړاندې شوی.[۱۸۱] طالبانو د پروپاګندې په توګه بیانونه رد کړل او د زیاترو ملکي تلفاتو لپاره یې په افغان ملي امنیتي ځواکونه او نړیوالو پوځي ځواکونه تورن کړي. د طالبانو بیان همدارنګه ادعا کړې هغه"فرمانونه او پیغامونه چې د اسلامي امارت لخوا خپلو مجاهدینو ته او

---

[۱۷۸] د طالبانو بیان "د ملکي تلفاتو په اړه د یوناما د وروستي راپور په هکله د اسلامي امارت دفاعیه"، په لاندې ویب پاڼه د لاسرسی وړ دی: http://www.shahamat-english.com/index.php/paighamoona/34995-rejoinder-of-the-islamic-emirate-about-the-recent-report-of-unama-regarding-the-civilian-casualties, accessed 27 January 2015.

[۱۷۹] همدا ماخذ

[۱۸۰] همدا ماخذ

[۱۸۱] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړی استازي او د یوناما د مشر ښاغلی نیکلوس هیسم او د یوناما د بشر ـ ی حقونو د څانګې د مشرې جیورجیت ګګنون له خوا مطبوعاتي کنفرانس، په لاندې ویبپاڼه د لاسرسی وړ دی: http://webtv.un.org/www.unwomen.org/en/executive-board/watch/nicholas-haysom-unama-and-georgette-gagnon-unama-on-afghanistan-%E2%80%93-press-conference/3952888266001, last accessed 2 February 2015.

همدارنګه هغه حکمونه چې د عالیقدر مشر امیرالمومنین" له خوا صادر شوي ثابتوی چې طالبان د ملکي کسانو ساتنې ته" د خپلو مذهبي او اساسي ژمنو" په حیث ژمن دي.[۱۸۲] طالبانو تعهد کړی چې د ملکي تلفاتو د کمیدو خپل تدبیرونه به "لا نور" پیاوړي کړي ، خو د ځانګړو تدبیرونو اعلان یې نه دی کړی.[۱۸۳]

په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د طالبانو په پیغامونو کې بدلون مشاهده کړی او د طالبانو د شرح شویو ژمنو یادونه کوي چې موخه یې د ملکي کسانو د ساتنې یقیني کول دي. یوناما تصریح کوي هغه شرح شوې ژمنې چې هدف یې د زیان د کچې د کمولو په اړه د تدبیرونو نیول دي ، نه دي توانیدلي چې په اصل کې د ملکي کسانو لپاره ښه ساتنه برابره کړي ، ځکه چې په ۲۰۱۴ کال کې د طالبانو لخوا د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو کچه مخ په لوړیدو وه.

[۱۸۲] د طالبانو بیان ، د ملګرو ملتونو له خوا د ملکي تلفاتو د راپور په اړه د اسلامي امارت غبرګون ، د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر ۲۱ ، په لاندې ویب پاڼه د لاسرسی وړ دی:-at:http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/51495-reaction-of-islamic-emirate-regarding civilian-casualty-report-by-un, last accessed 2 February.


[۱۸۳] همدا ماخذ

## ۴. دولت پلوه ځواکونه او د ملکي کسانو ساتنه

د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې ، دولت پلوه ځواکونو د هغو تدبیرونو پلي کولو ته چې موخه یې د ملکي کسانو د تلفاتو د کچې کمول دي دوام ورکړی. د دې تدبیرونو سربیره ، د ۲۰۱۳ کال په پرتله ،یوناما د دولت پلوه ځواکونو- په تیره بیا د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی ثبت کړی. یوناما د دولت پلوه ځواکونو لخوا ټولټال ۱۴۷۸ ملکي تلفات (۶۲۲ وژنې او ۸۵۶ ټپي کېدنې) ثبت کړي ، دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۵۱ سلنه زیاتوالی ښيي.[۱۸٤]

یوناما ۱۲۲۵ ملکي تلفات(۴۶۸ وژنې او ۷۵۷ ټپي کېدنې) افغان امنیتي ځواکونو ، ۱۰۲ ملکي تلفات(۵۳ وژنې او ۴۹ ټپي کېدنې) دولت پلوه ملیشاوو او ۱۵۱ ملکي تلفات (۱۰۱ وژنې او ۵۰ ټپي کېدنې) یوازې نړیوالو پوځي ځواکونو ته منسوب کړي.[۱۸۵]

د ملکي تلفاتو زیاتره برخه د افغان امنیتي ځواکونو لخوا د ځمکنیو نښتو پر مهال را منځ ته شوي.




[۱۸٤] په ۲۰۱۳ کال کې ، یوناما ۹۸۲ ملکي تلفات مستند کړي(۳۵۴ وژنې او ۶۲۸ ټپي کېدنې).

[۱۸۵] هغه ۱۵۱ ملکي تلفات چې یواځې نړیوالو پوځي ځواکونو ته منسوب شوي ټول ملکي تلفات نه احتوا کوي کوم چې د افغان امنیتي ځواکونو سره په ګډو عملیاتو کې را منځ ته شوي او ټول هغه ملکي تلفات نه شاملوي چې د هوایي عملیاتو په نتیجه کې را منځ ته شوي(۱۶۲ ملکي تلفات). د بیلګې په توګه ، د افغانانو تر رهبري لاندې په یو شمیر سترو ځمکنیو عملیاتو کې نړیوالو ځواکونو هوایي ملاتړ برابر کړی. په داسې عملیاتو کې د ملکي تلفاتو مسوولیت دواړو ځمکنیو شخړو او هوایي عملیاتو ته راجع کیږي. په داسې عملیاتو کې د ملکي تلفاتو مسوولیت افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو ځواکونوته منسوبیږي . د هوایي- ځمکنیو عملیاتو په اړه د کنړ ولایت د نرنګ په ولسوالي کې د سپتمبر په ۹ د هوایي عملیاتو برخه وګورئ .

### افغان سیمه ییز پولیس

*د افغان سیمه ییزو پولیسو یو قوموندان راغی او ما ته یې وویل چې د میاشتي ۲۵۰۰ افغانۍ ورکړم خو ما د دې کار د کولو څخه ډډه وکړه. نوموړي بیا ما ته د دوو پسونو د ورکولو امر وکړ، ما بیا هم د دې کار د کولو څخه ډډه وکړه. هغه بیا زه او زما پلار مجبور کړو چې د نوموړي پوستې ته ورشو چېرې چې هغه اوه یا اته متره ژوره څاه درلوده. د افغان سیمه ییزو پولیسو قوموندان زه او زما پلار مجبوره کړو څو څاه ته ور کښته شو. زموږ په سر یې خاورې او اوبه را خوشې کړې څو په دې سره موږ و ویروي او د پیسو ورکولو ته غاړه کېږدو. کله چې موږ د څاه په دننه کې وو نو افغان سیمه ییزو پولیسو په څاه پیره کوله. موږ غرمه او توله شپه په څاه کې وساتل شو. کله چې د ټولنې مشرانو ژمنه وکړه چې د افغان پولیسو قوموندان ته به یو پسه ورکړي، موږ دا بله ورځ د څاه څخه را و ایستل شو، موږ په څاه کې توله شپه په ولاړو تیره کړه ځکه چې څاه تنګه وه او د کښیناستلو لپاره ځای په کې نه و. زه فکر نه شم کولای چې په ۲۱ پیړۍ کې دې خلکو ته دا ډول سزا ورکول شي.*[۱۸۶]

-د کندز ولایت د دشت ارچي په ولسوالي کې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د بشري حقونو د سرغړونو قرباني، د ۲۰۱۴ کال د جنوري ۱.

په ۲۰۱۴ کال کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام توسعې دوام درلود. د ۲۰۱۵ کال د جنوري تر ۱۸ نیټې پورې، د افغان سیمه ییزو پولیسو ټولټال شمیر ۲۷۹۵۰ تنو ته رسیده او په ۲۹ ولایتونو کې ۱۵۷ ولسوالي تر پوښښ لاندې نیسي. د ټولټال ۳۰۰۰۰ رسمي افغان سیمه ییزو پولیسو د ځواک څخه پاتې ۳۵۵۰ تنه یا خو په روزنو بوخت دي یا د روزنو لپاره په چمتوالي بوخت دي او یا تر استخدام لاندې دي. د افغان سیمه ییزو پولیسو پروګرام په بامیانو ،خوست ،نیمروز، پنجشیر او سمنګانو ولایتونو کې موجود نه دی.[۱۸۷]

په ۲۰۱۴ کال کې، یوناما د ۱۰۵ پیښو څخه چې په هغو کې افغان سیمه ییز پولیس ښکېل و، ۱۲۱ ملکي تلفات ثبت کړي(۵۲ وژنې او ۶۹ ټپي کېدنې). د ملکي وژنو او ټپي کېدنو ټولټال شمیر د هغې کچې سره سم و کوم چې په ۲۰۱۳ کال کې ثبت شوی، خو سره له دې بیا هم د ملکي کسانو په میرینو کې په ۲۰۱۴ کال کې ۴۹ سلنه زیاتوالی ثبت شوی. د ۱۵وژنو (۷ ماشومانو او ۸ نجونو)او ۱۲ ټپیانو په درلودلو سره (۱۱ هلکان او ۱ نجلۍ) ، د دغو تلفاتو ۲۲ سلنه ماشومان وو. ښځې د ملکي تلفاتو نهه سلنه جوړوي (شپږ وژنې او پنځه ټپي کېدنې)، کوم چې افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوي. د ملکي تلفاتو ټولټال شمیر چې د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا را منځ ته شوی د ټولو ملکي تلفاتو یوه سلنه جوړوي چې په ۲۰۱۴ کال کې مستند شوي.

د نورو دولت پلوه ځواکونو لپاره د مشاهده شویو جریاناتو سره په سمون کې، هغه ملکي تلفات چې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ځمکنیو نښتو پر مهال را منځ ته شوي ۲۸ سلنه لوړ شوي، د هغو پیښو په پایله کې کومې چې ملکي تلفات را منځ ته کوي د هغو په شمیر کې د ۲۰۱۳ کال راهیسې درې برابره زیاتوالی راغلی. د بشري حقونو په زیاترو سرغړونو کې کومې چې افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوبې شوي په هغو کې ګواښونه ،ځورونې او ډارونې شاملې دي.[۱۸۸] دغه پیښې په

[۱۸۶] د یوناما مرکه ،کندز ښار، کندز ولایت ،۲۰۱۴ کال د فبروري ۲۴.

[۱۸۷] د ۲۰۱۴ کال د جولای په ۶ د یوناما غونډه، د افغان سیمه ییزو پولیسو د SOAG ، NSOCC-A او په کابل کې د ایساف د مرکزي دفترسره د ایمیل تبادله، ۲۰۱۴ کال د جون ۲۸.

[۱۸۸] ګواښونه، ډارونې او ځورونې هغه کتګوري ده چې د یوناما له خوا د مرګ او زیان د ګواښونو، ډارونو او ځورونو د پیښو د کومو په نتیجه کې چې د بشري حقونو سرغړونې رامنځ ته کېږي د مستند کولو لپاره کارول کېږي، په بل عبارت، د خوځښت ناقانونه محدودیتونه یا د بیان د ازادي

۲۰۱۴ کال کې نږدې دری برابره شوې ، د دې په نتیجه کې ۳۹ ملکي تلفات را منځ ته شوي (پنځه وژنې او ۳۴ ټپي کېدنې)، دا د ټولو ملکي تلفاتو ۳۲ سلنه ښي کوم چې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا ترسره شوي. دغه ډول زیاتره تلفات د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ملکي کسانو د ځورولو ، غچ اخیستلو یا جزا ورکولو په شکل کې ترسره شوي دي. د بیلګې په توګه ، د جولای په ۱۱ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه غړي یو هتی، وال د یخ د ټوټې پر سر د لانجې وروسته په ډزو و ویشت او وېې واژه. د جولای په ۷ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه قومندان او د هغه څلورو ملګرو د بدخشان ولایت د جرم په ولسوالي کې د واده د مراسمو پر مهال په څلورو تنو ملکي کسانو یرغل وکړ(او ټپیان یې کړل). د وهلو علت د راپور سره سم افغان سیمه ییزو پولیسو ته د ډوډۍ په تیارولو کې د کورنۍ پاتې راتلل ښودل شوي.

یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ګواښلو او امر کولو له لارې د هغوي د اصلي ټولنو څخه د کورنیو د بې ځایه کولو متعددې بیلګې مستندې کړي. د بیلګې په توګه ، د اکتوبر په ۱۲ ، افغان سیمه ییزو پولیسو د فراه ولایت د خاک سفید د ولسوالي څخه ۲۰۰-۱۵۰ کورنۍ په اجباري ډول د خپلو کورونو څخه بې ځایه کړې. افغان سیمه ییزو پولیسو ځایي خلکو ته اخطار ورکړی ځو طالبانو ته له کلي څخه د بریدونو اجازه ور نه کړي. طالبانو هم ځایي خلکو ته ګواښنه کړې چې د افغان سیمه یزو پولیسو سره همکاري و نه کړي. په سیمه کې د طالبانو د جنګیالو له خوا د موقعیتونو د جوړولو وروسته ، افغان سیمه ییزو پولیسو ۲۰۰-۱۵۰ کورنیو ته د سیمې د پرېښودو امر کړی ، چې په دې سره د ټول کلي د بې ځایه کېدنې لامل شو چې زیاتره یې د فراه ښار ته و کوچېدل.

په ۲۰۱۴ کال کې افغان سیمه ییزو پولیسو ته د ملکي کسانو منسوب شوې مرګ ژوبله زیاته شوې. د دې ارقامو په دننه کې ، د افغان سیمه ییزو پولیسو په واسطه د هدفي او عمدي وژنو په شمیر کې ۷۲ سلنه ټیټوالی راغلی- که څه هم دا وژنې او ټپي کېدنې لا هم د ټولو ملکي تلفاتو چې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا را منځ ته شوي ۱۳ سلنه جوړوي. یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د عمدي وژنو په ۱۲ پیښو کې ۱۶ ملکي تلفات مستند کړي(۱۴ وژنې او دوه ټپي کېدنې)

د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې ، یو شمیر زیاتو ټولنو افغان سیمه ییز پولیس د ثبات ،تقویه شوي امنیت او ځایي استخدام لپاره وستایل - په خاص ډول په هغو سیمو کې چېرې چې افغان سیمه ییز پولیس د سیمې څخه استخدام او ځای پر ځای شوي دي. په نورو سیمو کې یوناما د بشري حقونو د سرغړونو مستند کولو ته دوام ورکړی کوم چې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا په معافیت سره ترسره شوی او احتساب ته نه دي رابلل شوي. د شمال ختیځ په سیمه کې ،په خاص ډول د کندز په ولایت کې ، وضعیت د زیاتې اندیښنې وړ پاتې شوی. یوناما په مکرر ډول په ولایتونو کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د استخدام ، انظباط او حساب ورکونې په چارو کې ستونزې ثبتې کړې. د بیلګې په توګه ، د هیواد په شمال ختیځه سیمه کې د نیمایی څخه زیات(۵۲ سلنه) ثبت شوي ملکي تلفات د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا را منځ ته شوي(۱۶وژنې او ۴۷ ټپي کېدنې). د ملکي تلفاتو په برخه کې د اته برابره زیاتوالي په درلودلو سره چې د ګواښونو ،ځورونو او ډارونو په پیښو کې را منځ ته شوي ، په سیمه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا را منځ ته شوي ملکي تلفات په ۲۰۱۴ کال کې ۳۴ سلنه لوړ شوي.[۱۸۹]

مخنیوي ،هغه عملونه کوم چې ښایي خو په حتمي توګه د مرګ یا ټپي کېدو لامل نه ګرځي. دا کټګوري همدارنګه د فزیکې خشونت د پیښو د مستند کولو د پیښو لپاره کاروله کېږي ، کله چې دغه ګواښ ، ډارونه یا د ملکي کسانو ځورونه وي. په بل عبارت ، جزا ،غچ اخیستنه یا د عمدي وژنو نور ډولونه ، یرغل یا جزا وې چې د ملکي کسانو په وړاندې د شخړې د ښکېل طرف له خوا ترسره شي.

[۱۸۹] په ۲۰۱۳ کال کې ، یوناما د هیواد په شمال ختیځه سیمه کې د ځورونې/تهدیدونو په پیښو کې چې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا ترسره شوي د څلورو ملکي کسانو تلفات ثبت کړي(دوه وژنې او دوه ټپي کېدنې)، یوناما د هیواد په شمال ختیځه سیمه کې د ځورونو/تهدیدونو په پیښو کې چې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا ترسره شوي د ۳۲ ملکي کسانو تلفات ثبت کړي(دوه وژنې او ۳۰ ټپي کېدنې).

**د افغان سیمه ییزو پولیسو نظارت او حساب ورکونه**

د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې ، یوناما د کورنیو چارو په وزارت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست سره خپلو سلا مشورو او ملاتړ ته دوام ورکړی څو په دې توګه د افغان سیمه ییزو پولیسو د نظارت او حساب ورکونې د چارو سره مرسته وکړي. د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام لپاره یاد ریاست د نظارت اصلي میکانیزم دی. یوناما په منظم ډول د افغان سیمه ییزو پولیسو پر خلاف د ادعاوو کتبي راپور د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست سره شریک کړی او د ولایت په کچه یې د کورنیو چارو د وزارت د چارواکو او افغان سیمه یزو پولیسو د ریاست لخوا د ترسره شویو تعقیبي اقداماتو نظارت کړی.

په ۲۰۱۴ کال کې ، د افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست د افغان سیمه ییزو پولیسو د نظارت او څېړنو څانګې په افغان سیمه ییزو پولیسو پورې د تړلو بشري حقونو د سرغړونو ، قتل ، شوکو او ناوړه سلوک ، اجباري توقیف ، نا قانونه تلاشي عملیاتو ، د مالیاتو د شوکونې او اجباري شړلو ۶۸ راپورونه څېړلي دي. د افغان سیمه ییزو پولیسو په ریاست کې چارواکو راپور ورکړی چې څېړنو ۶۴ نیونو او څلورو محکومیتونو ته لار هواره کړې- دا د افغان سیمه ییزو پولیسو د محکومیتونو تر ټولو لوړ ثبت شوی شمیر دی. یوناما همدارنګه د کورنیو چارو د وزارت د مستند کولو او راپور ورکولو د نوي پروګرام له لارې د قانونی تعقیب او محکومیتونو په اړه چې د افغان سیمه ییزو پولیسو د څېړنو په نتیجه کې را منځ ته کېږي د کورنیو چارو د وزارت د دوسیې د څرک معلومولو په برخه کې د نوی پرمختګ یادونه کړې.

**دوه ګامه مخ په وړاندې: د شمال ختیځه په سیمه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د سرغړونو حساب ورکونه**
یوناما مشاهده کړې چې په ځینو سیمو کې ځایي چارواکو د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو په وړاندې چې په جرمونو او د بشري حقونو په سرغړونو تورن وو د قانوني تعقیب په موخه اقدامات ترسره کوي. په ډسمبر کې ،د کندز ولایت څخه د افغان سیمه ییزو پولیسو څلور غړي د بیلابیلو جرمونو د ارتکاب په خاطر په جزا محکوم شوي. بیا هم د کندز په ولایت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو یو قومندان د اجباري کار ،تهدید ، یرغل ، شوکونه او د صلاحیت څخه د ناوړه ګټې اخیستنې په تور د نوموړي په غیاب کې په جزا محکوم شو. نوموړی د جولاي په ۲۰ نیټه ونیول شو او د کندز په ولایتي زندان کې د دغو جرمونو د ارتکاب په خاطر څلور کلن بند تیروي.
د بغلان په ولایت کې ، د ډسمبر په ۹ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو یو غړی د 'وسلې د ناوړه کاروني' په خاطر چې په نتیجه کې یې یو ملکي شخص و وژل شو په اوه کلن بند محکوم کړ. د سپتمبر په ۳ ، د بغلان ولایتي محکمې د افغان سیمه ییزو پولیسو بل غړی د لوټ ماری په خاطر په درې کلن بند محکوم کړ. د بغلان ولایتي محاکمو د افغان سیمه ییزو پولیسو دریم غړی د دوو افغان سیمه ییزو پولیسو ،[۱۹۰] د بې پروا وژنې په خاطر کله چې د نوموړی وسله د ادعا سره سم په تصادفی ډول فیر شوه محکوم کړ. محکمې نوموړی په څلورو کلونو بند محکوم کړ. درې واړه کسان د بغلان په ولایتي بندي خانه کې د خپل بند مودې تیروي.
دغه محکومیتونه ، د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو چې په جرمونو تورن دي په نیولو او تعقیب کولو کې له زیاتوالی او د افغان سیمه ییزو پولیسو په پروګرام کې د اصلاحاتو سره یو ځای یو ښه ګام دی. یوناما په هغو ساحو کې چې دغه ستونزې په دوامدار ډول موجودې وي د افغان سیمه ییزو پولیسو د استخدام ، قوماندې او کنترول په غرض د حساب ورکونې هڅې تشویقوي.

[۱۹۰] د افغان سیمه ییزو پولیسو غړي د هغوی د موقف له امله د دوامداره جنګیالیو په حیث ملکي کسان نه شمیرل کېږي. دغه تلفات د یوناما په ارقامو کې نه دي ځای شوي ، د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو عدلي تعقیب په ځای عمل دی چې د بشري حقونو سرغړونو ،ناوړه چلند او د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا جنایی عملونو ته د ځواب ویلو په موخه د حکومت عملونه په ډاګه کوي.

د دغو مثبتو اقداماتو سربېره ، د افغان سيمه ييزو پوليسو د نظارت څانګې د ولايت په کچه دايمي شتون نه درلود او د ولايتي پوليسو د رييسانو په همکارۍ او ښه نيت باندې يې تکيه کړې ځو خپل کارونه ترسره کړي.[۱۹۱] د افغان سيمه ييزو پوليسو د نظارت د واحد په حواله ، د افغان سيمه ييزو پوليسو رياست کولای شي د پوليسو ولايتي دفترونو ته د ځيرنو د پيل لارښوونه وکړي ، خو د افغان سيمه ييزو پوليسو د نظارت واحد د څېړنو د پرمختګ يا په ولايتي کچه د عدلي تعقيب د نظارت کولو اختيارات نه لري.[۱۹۲] څنګه چې د ولايتي پوليسو مشران سياسي مقرر شوي کسان دي ، هغوي اکثرا د قدرت د داخلي او سيمه ييزو دلالانو سره اړيکې لري ، هغوي ممکن د هغو تدبيرونو مخه ونيسي چې موخه يې د افغان سيمه ييزو پوليسو د احتساب لاندې را وستل وي. همدارنګه د شمال ختيځه په سيمه کې د شخړې د غځيدو سره-چېرې چې د افغان سيمه ييزو پوليسو پروګرام ستونزمن دی-افغان سيمه ييزو پوليسو ته د امنيتي چارواکو لخوا د کنترول د يوې ګټورې وسيلې په توګه کتل کېږي ، امنيتي چارواکې نه غواړي افغان سيمه ييز پوليس د ياغيانو په وړاندې د جګړې په لومړۍ کرښه کې خپل ملاتړي د احتساب په نوم قرباني کړي.

د موجوده دولت پلوه وسله والو ډلو د 'تنظيمولو' لپاره د افغان سيمه ييزو پوليسو کارول يوه بله اندېښنه ده. د کورنيو چارو وزارت کارکونکو يوناما ته ويلي چې د افغان سيمه ييزو پوليسو پاتې پوستونه به د همدې وسله والو ډلو د کسانو په استخداملو سره ډک شي.[۱۹۳] يوناما په دې هکله اندېښنه لري چې دغه وسله والې ډلې به د تنظيم شويو جنګي واحدونو په حيث د افغان سيمه ييزو پوليسو په دننه کې په پراخ ډول يو ځای شي او په دې سره به وکولای شي د پلټنو او روزنو په اړه د افغان سيمه ييزو پوليسو موجوده اصول او تحفظات نقض کړی.

**د کندهار ولايت د ژيړۍ په ولسوالي کې د افغان سيمه ييزو پوليسو لخوا د ناقانونه مالياتو ټولول.[۱۹٤]**

په ۲۰۱۴ کال کې ، يوناما د کندهار ولايت د ژيړۍ د ولسوالي د ملکي اوسېدونکو څخه د افغان سيمه ييزو پوليسو لخوا د 'ماليات' د ټولو يو شمير ادعاوې مستندې کړي دي. د مالياتو د راغونډولو دغې پراخې لړۍ د ژيړۍ په ولسوالي کې د زياتو ملکي کسانو ژوند متاثره کړی.

د ټولنې د غړو په حواله ، د افغان سيمه ييزو پوليسو غړو د زور له لارې نقدې پيسې يا د خوراکې توکو په بڼه کې 'نا قانونه ماليات' ټول کړي. اوسيدونکو يوناما ته خبر ورکړی چې افغان سيمه ييزو پوليسو په عادي ډول د ميوو او ترياکو د حاصلاتو وروسته سمدستي نقدي پيسې ټولې کړې. افغان سيمه ييزو پوليسو د کورنيو يا ټولنو څخه ناڅاپه تاديات غوښتي دي. ځواب ويونکو راپور ورکړی چې د افغان سيمه ييزو پوليسو غړو دغه تاديات د هغوي د کمو تنخواو او د تنخواګانو په ورکولو کې د ځنډ له امله غوښتي.

يوناما مشاهده کړې ، سره له دې چې د ژيړۍ د ولسوالي اوسيدونکو د اجباري شوکو په اړه اندېښنه څرګنده کړې ، هغوي همدارنګه ويلي چې دوي دغه ماليات د امنيت د ښه والي په بيه کې ورکوي. ځواب ويونکو همدارنګه ويلي چې د افغان سيمه ييزو پوليسو د غړو د کورنيو او ټولنې اړيکو د ځايي خلکو سره د پوليسو او ټولنو تر منځ د متقابل عمل په برخه کې د باور د را منځ ته کولو په اړه مهم نقش لوبولی دی. ځايي ځواب ويونکو ټينګار کړی چې په ځايي ټولنو کې د افغان سيمه ييزو پوليسو د غړو ژورو ريښو د ځايي امنيت په برابرولو کې ډېر موثريت درلود.

---

[۱۹۱] په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۳ کال کلنې راپور ته په دې پته مراجعه وکړئ: http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=13941&language=en-US.

[۱۹۲] د افغان سيمه ييزو پوليسو د رياست سره د يوناما ناسته ، د ۲۰۱۴ کال د می مياشتې نه تر نومبر مياشتې پورې ، د کورنيو چارو وزارت او د افغان سيمه ييزو پوليسو د رياست سره د يوناما ناسته ،۲۰۱۴ کال د اګسټ ۴ ، کابل.

[۱۹۳] د افغان سيمه ييزو پوليسو د رياست سره د يوناما ناسته ،۲۰۱۴ کال د اګسټ ۴ ، کابل.

[۱۹٤] د کندهار ولايت د ژيړۍ د ولسوالي د قومي مشرانو او د ټولنې د غړو سره د يوناما ناسته ،د ۲۰۱۴ کال ډسمبر او د ۲۰۱۵ کال جنوري ، کندهار ښار.

**د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو بیلګې:**

- د سپتمبر په ۲۴ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو دوو غړو د لغمان ولایت د قرغیو په ولسوالي کې دوه ملکي کسان(پلار او زوی) په ډزو وویشتل او مړه کړل. د راپور سره سم ، د قتل انګیزه غچ بلل شوی ځکه چې د قرباني شخص په کورنۍ تور و چې د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړی خپلوان یې وژلی.
- د جولاي په ۶ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا یو توغول شوی راکټ د کندز ولایت د علی اباد په ولسوالي کې د استوګنې په یوه سیمه اصابت وکړ چې په نتیجه کې یې نهه تنه ملکي تلفات واوښتل(پنځه ماشومان و وژل شول ، د تپولو عمرونه د ۱۰ کلونو څخه ټیټ و- په دوو کورونو کې د دوو ښځو او دوو ماشومانو په ګډون څلور کسان ټپیان شوي). کورونه هم وران شوي. د یوناما موندنو[۱۹۵] په ډاګه کړې چې افغان سیمه ییزو پولیسو هغه وخت د ملکي کسانو په کورونو راکټونه وتوغول چې کله د طالبانو غړي په دغو کورونو کې د پناه په لټه کې وو ، دولت ویلی چې طالبانو ملکي تلفات را منځ ته کړي. په یو اړوند بیان کې ، پخوانی ولسمشر کرزی د روژې په مبارکه میاشت کې د ماشومانو د وژلو په خاطر طالبان ګډارن' وبلل.[۱۹۶]
- د جولاي په ۷ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو د بدخشان ولایت د جرم په وسوالي کې د واده په محفل کې په څلورو تنو ملکیانو یرغل وکړ. د یرغل په پایله کې جدی ټپي کېدنې را منځ ته شوي ، د راپور سره سم د یرغل انګیزه د خوراکي توکو په برابرولو کې د کورنۍ پاتې راتلل ښودل شوي چې د افغان سیمه ییزو پولیسو د یوه قوموندان لخوا ورته امر شوی څو د واده ډوډۍ د هغه کسانو ته ورکړي.

**دولت پلوه وسله والې ډلې [۱۹۷]**

*هر څه چې موږ لرو هغه د وسله والو ملیشاوو ملکیت دی. زموږ زامن ،لوټي ، ځمکه او حتی زموږ ساه د هغوي ده ځکه چې د وسله والو ملیشاوو د قومندانانو د خوښې پرته موږ خپلې لونې نه شو ودولای. کله چې په خپلو ځمکو فصلونه کرو او یا خپلې ځمکې خرڅوو نو موږ باید هغوي ته خپله برخه ورکړو. موږ د ناقانونه وسله والو ډلو په مهرباني ژوند کوو او د دوي په خوښه ساه اخلو.*[۱۹۸]

-د دولت پلوه پوځي ډلو تر ولکې لاندې د کلی څخه د ټولنې یو مشر ، کندز ښار ته څېرمه ، کندز ولایت.

---

[۱۹۵] د ټولنې د مشرانو ،افغان ملی پولیسو د چارواکو ، قربانیانو او ځایي خبریالانو سره د یوناما ناستې ، د جولای ۱۰-۶ ، ۲۰۱۴ کال ، کندهار.

[۱۹۶] د ولسمشرۍ بیانیه ، د جولای ۹ ، ۲۰۱۴ کال ، په لاندې پته د لاسرسی وړ ده:

.http://www.afghanistannewscenter.com/news/2007/july/jul102014.html

[۱۹۷] د "دولت پلوه وسله والو ډلو" اصطلاح یوه منظم وسله وال غیر دولتي فعال ته چې په شخړه کې ښکېل وي او د دولتي ځواکونو ،یاغیانو او جنایی ډلو څخه توپیر ولري ،راجع کېږي. افغان سیمه ییز پولیس د کورنیو چارو د وزارت تر قوماندې او کنترول لاندې دي او دولت پلوه وسله والې ډلې نه احتواء کوي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قوانینو لاندې هیڅ ډول حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې دا پوتانسیل لري څو د یوه ځواک په حیث وسلې وکاروي او سیاسي ، ایدیالوژیکي یا اقتصادي موخې ترلاسه کړي ، د هیواد(ونو) په رسمي نظامي تشکیلاتو. د دولتونو تر منځ تړونونو یا د بین المللي سازمانونو غړي نه دي ؛ او د هغه دولت تر کنترول لاندې نه دي په کوم کې چې دوي فعال دي . په ځینو قضیو کې وسله والې ډلې د کوربه دولت او یا نورو دولتونو څخه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ملاتړ تر لاسه کوي. دغه تعریف لاندنۍ ډلې احتواء کوي خو په هغو پورې محدود نه دی: ملي پاڅونونه ، مخالفې یاغي ډلې ، ځایي ملیشاء ( په قومي ، قبیلوي او یا بل بنسټ) یاغیان ، ترهګر ، چریکان او د دفاع ملکي او شبه نظامي ډلې ( کله چې دغه ډلې په ښکاره د دولت تر کنترول لاندې نه وي).

[۱۹۸] د ټولنی د مشرانو سره د یوناما مرکې ،کندز ښار ، کندز ولایت ،د ډسمبر ۲ ، ۲۰۱۴ کال.

په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د ملکي کسانو په وړاندې د ترسره شویو سرغړونو په برخه کې د پام وړ زیاتوالی مشاهده کړی ، افغان چارواکي هم د دغو وسله والو ډلو د احتساب او د متاثره شویو ملکي کسانو د ساتنې په برخه کې په پراخه پیمانه پاتې راغلي.

په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د ۸۵ بیلابیلو پېښو څخه په کومو کې چې دولت پلوه وسله والې ډلې شاملې دي د ملکي کسانو ۱۰۲ تلفات مستند کړي دي (۵۳ وژنې او ۴۹ ټپي کېدنې). په ارقامو کې ۱۳ ښځې (نهه وژنې او څلور ټپي کېدنی) او ۲۰ ماشومان( نهه وژنې او ۱۱ ټپي کېدنې) شامل دي. د ۲۰۱۳ کال په پرتله د ملکي کسانو د وژنو په شمیر کې د ۱۹۴ سلنی زیاتوالی په درلودلو سره ، په ۲۰۱۴ کال کې دولت پلوه وسله والو ډلو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو ټولټال شمیر ۸۵ سلنه زیاتوالی ښيي.[199]

یوناما همدارنګه د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا په جوړو شویو نا قانونه پوستو کې د اخازې په شمول د تښتونې دوه پیښې او د ګواښونو ، ډارونو او ځورونو ۳۲ پیښې مستندې کړې دي.

د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو اکثریت د نورو وسله والو ډلو لخوا یا دولت ضد عناصرو سره د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې را منځ ته شوي ، د ۲۰۱۳ کال په پرتله د داسې پیښو په نتیجه کې چې کوم ملکي تلفات را منځ ته شوي ، یوناما ۱۲ واره زیات ثبت کړي دي.[200] په دغو پیښو کې د ډزو د تبادلې ۱۳ پیښې ، (اته ملکي کسان وژل شوي او ۱۴ ټپیان دي)، د ډزو په اوو غیر مستقیمو پیښو کې هاوانونه ،راکټونه او لاسي بمونه شامل دي(۱۲ وژنې او ۱۳ ټپي کېدنې)، او په ۱۰ پیښو کې چېرې چې د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د سپکو وسلو ډزې تبادله شوي چې په نتیجه کې یې ۲۰ ملکي تلفات را منځ ته شوي(۱۲ وژنې او اته ټپي کېدنيې) شاملې دي.

د ځمکنیو نښتو په اکثرو پیښو کې چې کوم ملکي تلفات را منځ ته شوي په هغو کې د سیالو دولت پلوه وسله والو ډلو تر منځ نښتې شاملې دي ، په ۲۳ پیښو کې ۵۰ ملکي تلفات را منځ ته شوي(۲۲ وژنې او ۲۸ ټپي کېدنې). یوناما اوه قضیې مستندې کړې چېرې چې د دولت پلوه وسله والو ډلو او دولت ضد عناصرو تر منځ د نښتو په پایله کې ملکي تلفات را منځ ته شوي ، د اوو پیښو په نتیجه کې ۱۷ ملکي تلفات را منځ ته شوي(د ملکي کسانو ۱۰ وژنې او اوه ټپي کېدنې.)

دولت پلوه وسله والو ډلو هم د نا قانونه تلاشي ګانو د عملیاتو پر مهال ملکي تلفات را منځ ته کړي ، د څلورو پیښو له لارې اتو ملکي کسانو ته تلفات اوښتي(پنځه وژنې او درې ټپي کېدنې)، او د هدفي وژنو له لارې ، اوه پیښې په کومو کې چې ۱۰ ملکي کسانو ته تلفات اوښتي(نهه وژنې او یوه ټپي کیدنه).

د ملکي تلفاتو په برخه کې د دغو وسله والو ډلو لخوا مستند شوی زیاتوالی د ۲۰۱۴ کال په ترځ کې د هغوي د مخ پر زیاتیدونکو فعالیتونو سره ، په خاص ډول د هیواد په شمال او شمال ختیځو سیمو کې مطابقت لري. په دغو سیمو کې ،طالبانو د کندز ،بغلان او فاریاب په ولایتونو کې د پراخې کچې یرغلیز عملیات پیل کړل چېرې چې دولت په دغو سیمو کې د دولت تر ولکې لاندې د سیمو د خوندیتوب په موخه د وسله والو ډلو په بسیج کولو سره ځواب و وایه.

[199] د دغه پام وړ زیاتوالی سربیره ، د دولت د وسله والو ډلو له خوا د مرګ ژوبلو ارقام په ۲۰۱۴ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو د یوې سلنې څخه کمه ثبته شوې اندازه وړاندې کوي. دولت پلوه وسله والو ډلو د هیواد په شمال ختیځه او شمالي سیمو کې د زیاترو قضیو مسوول پاتې شوي(په ترتیب سره ۶۲ او ۲۵ سلنه)، دواړو سیمو د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې د پیښو او د ملکي کسانو د تلفاتو په برخه کې زیاتوالی ثبت کړی.

[200] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د سیالو دولت پلوه وسله والو ډلو تر منځ د نښتو ۲۳ پیښې ثبتې کړي چې په نتیجه کې یې ۵۰ ملکي تلفات را منځ ته شوي(۲۲ وژنې او ۲۸ ټپي کېدنې) .

د دې سربېره ،د دولت پلوه سیالو وسله والو ډلو تر منځ په جګړو کې را منځ ته شوي ملکي تلفات ممکن د قدرت پر سر د سیمه ییزی مبارزې د زیاتیدو ،نفوذ او په یو شمیر سیمو کې د دولت د څرګند کمزوری کنترول له امله د دغو ډلو تر منځ د سیمې د کنترول له لارې توضیح شي.

**د دولت پلوه وسله والو ډلو تر کنترول لاندې سیمې**

یوناما مشاهده کړې چې د دولت پلوه وسله والو ډلو مخ پر زیاتیدونکی نفوذ ، په خاص ډول د هیواد په شمال او شمال ختیځو سیمو کې د دې لپاره کاریدلی چې د حکومت واک د هغوي د نفوذ په سیمه کې د حکومت د رسمي امنیتي ځواکونو د ځای په نیولو سره تر پوښتنې لاندې راولی.[۲۰۱] د بیلګې په توګه ، په داسې سیمو لکه د بغلان د ولایت په نهرین ولسوالي ، د فاریاب ولایت په پشتونکوټ ولسوالي ، د کندز ولایت د خان اباد په ولسوالي کې لیدل شوی چې د محدود ظرفیت په درلودلو سره د دولت امنیتي ځواکونه په دې نه دي توانیدلي چې د دولت پلوه وسله والو ځواکونو صلاحیت وننګوي.

د فاریاب د ولایت د پشتون کوټ په ولسوالي کې ، د بیلګې په توګه ، ځایي چارواکو یوناما ته خبر ورکړی چې دوي په دې نه دي توانیدلي چې د دولت پلوه وسله والو ډلو غړي کوم چې د ادعا سره سم په دوو ملکي کلیوالو د یوه برید لپاره مسوول ګڼل شوي عدالت ته را کښ کړي.[۲۰۲] ځایي کلیوالو د وسله والو ډلو لخوا د بشري حقونو د پراخو سرغړونو ،ناقانونه مالیاتو ،جبري کار ، د خوځښت محدودیتونه ،وژنې ،خصوصي قید ، وهل ، د معارف په سیستم کې مداخله ،د واده په تیاریانو/پریکړو کې مداخله ، د واده د مخنیوي ، اجازې ورکولو او یا هم د واده د تحمیل کولو د ادعاوو په شمول .

د راپور سره سم وسله والې ډلې په سلګونو جنګیالي درلودل او په ولسوالي کې یې ۲۶ کلي چې د ۸۰۰۰ څخه زیاتې کورنۍ په کې میشتې وې تر کنترول لاندې وې.[۲۰۳] ځای چارواکو ویلي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ستر عملیات یواځې کولای شي هغوي د سیمې څخه وباسي.

یوناما مشاهده کړې چې د کندز ولایت د خان اباد د ولسوالي وضعیت د جدي اندیښنې وړ و. د یوناما د اټکل له مخې ۹۰۰ - ۱۲۰۰ وسله وال کسان چا چې د یو شمیر بیلابیلو دولت پلوه وسله والو ډلو سره خواخوږي لرله د سیمې د کنترول په موخه د یو بل سره په سیالي بوخت وو. د دولت پلوه وسله والو ډلو شمیر په ولسوالي کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو تر شتون زیات و.[۲۰٤] د وسله والو ډلو او ځایي چارواکو تر منځ د همکاري کچې توپیر درلود ، یو شمیر خیالي دولت پلوه وسله والو ډلو د دې پر ځای چې د دولت د واک څخه ملاتړ وکړي دوي د دولت د واک او صلاحیت کمزوری کړی. د بیلګې په توګه ، د اګسټ په ۴ ، د دولت پلوه وسله والې ډلې غړو په ولسوالي کې یو ښوونکی د دې لپاره چې په څرګند ډول یې د ناقانونه مالیاتو د راټولولو په وړاندې مخالفت کاوه ،وواژه. د اکتوبر په ۲۲ ، وسله والو کسانو په خان اباد کې د معارف د ریاست یو کارکونکی د هغه د کورنۍ په شتون کې د دې لپاره ځکه چې نوموړي د دولت پلوه یوې وسله والې ډلې د قومندان خپلوان شاګرد ته د زیاتو نمرو د ورکولو څخه انکار کړی وه په ډزو وویشت او و واژه.

[۲۰۱] د ولسوالي د سیاسي ، اداري او امنیتي چارواکو ، ځایي مشرانو ، مدني ټولنې او د ځایي رسنیو د سرچینو سره د یوناما مرکې ، د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر نه تر نومبر پورې ، د مزار شریف ښار ، د بلخ ولایت ، میمنه ولسوالي د فاریاب ولایت او کندز ښار د کندز ولایت کې د یوناما دفترونه.

[۲۰۲] د فاریاب د ولایت د امنیتي چاراوکو سره د یوناما مرکې ، د ۲۰۱۴ کال د اګست ۶ ، فاریاب ولایت.

[۲۰۳] د کلي له مشرانو ، امنیتي چارواکو او مدني ټولنې سره د یوناما مرکې ، د ۲۰۱۴ کال د نومبر ۱۰ ، د یوناما دفتر ، کندز.

[۲۰٤] د ۲۰۱۴ کال د جولای ، اکتوبر ،نومبر او ډسمبر په میاشتو کې د کندز ولایت د خان اباد په ولسوالي کې په متاثره شوي کلي کې د مدني ټولنې ، امنیتي چاراوکو او د کلی د مشرانو سره د یوناما مرکې.

د سرچینو مطابق ، یو شمیر دولت پلوه وسله والو ډلو د افغان امنیتي ځواکونو څخه د طالبانو په وړاندې د جګړې کولو په موخه وسلې تر لاسه کړي. د بیلګې په توګه ، په سپټمبر کې ، د کندز ولایت د ښار په وړاندې د طالبانو د یرغل پر مهال ، د ملي امنیت ریاست د راپور سره سم د ښار څخه د دفاع په موخه دولت پلوه وسله والو ډلو ته وسلې برابرې کړي.[۲۰۵] ځایي مشرانو یوناما ته ویلي چې هغوي باور لري چې دغه حالت دولت پلوه وسله والو ډلو ته داډ ورکړی څو دغه کار ته دوام ورکړي او په ځایي خلکو نا قانونه مالیات وضع کړي.

یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو لپاره د معافیت د لرلو په اړه ، کوم چې دوي ته د هجوم ،تهدید او ناقانونه'توقیف' په شمول د جنایي عملونو د ارتکاب اجازه ورکوي او د ټولنو او ملکي کسانو لپاره د ډار ، ګواښ او نه ساتنې یو چاپیریال را منځ ته کوي یادونه کوي. د بیلګې په توګه ، د نومبر په ۳ ، یوې وسله والې ډلې د کندز ولایت د کندز په ښار کې ۲۵ تنه ملکیان وتښتول او پنځه تنه یې کلک وهلي ، هغوي یې دولت ضد عناصرو ته د خوراکې توکو د برابرولو په تور او د ټوپکو په کارولو تورن کړي.

**د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د بشري حقونو د سرغړونو لپاره د حساب ورکونې نه شتون**

د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې ، یوناما د افغان چارواکو لخوا د ولایت او ولسوالي په کچو کې د لازم زیار او کوښښ نشتوالی مشاهده کړی څو د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د جرمونو او بشري حقونو سرغړونې تحقیق او تعقیب کړي. یوناما د جرمونو او بشري حقونو د سرغړونو د ادعاوو لپاره د دولت پلوه وسله والو ډلو د یوه غړي او یوه قومندان عدلي تعقیب یا محکومیت یوه پیښه هم نه ده مستنده کړې. یوناما د حکومت له خوا داسې هڅه نه ده مشاهده کړې چې د حکومت تشریح شوې پالیسي پلې کړي او دغه وسله والې ډلې له منځه یوسي او بې وسلې یې کړي.[۲۰۶]

د بشري حقونو د نړیوال قانون لاندې ، دولت مسوولیت لري چې د ژوند د حق ساتنه وکړي او هر ډول غیر قانوني وژنې ، د هغو وژنو په شمول چې د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا ترسره شوې وي ،تحقیق کړي.[۲۰۷] یوناما په ډاګه کوي چې د بشري حقونو د سرغړونو او جرمونو لپاره د داسې وسله والو ډلو معافیت دومداره نا امني راولي او د ملکي کسانو خوندیتوب په خطر کې اچوي او د قانون حاکمیت کمزوری کوي ، د حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې را ولي او په دې توګه د یاغیتوب لپاره ملاتړ برابروي.

**سرقت/یرغمل شوی عدالت: د طالبانو لخوا د دولت پلوه وسله والو ډلو د قومندانانو هدف نیول ځوک چې د ادعاء له مخې د بشري حقونو د سرغړونو مسول وو**

په ۲۰۱۴ کال کې ، طالبانو د دولت پلوه وسله والو ډلو د غړو یو شمیر ناقانونه اعدامونه ترسره کړي. د هغوي په عامه بیانونو کې ، طالبانو د دغو ډلو لخوا د ترسره شویو سرغړونو لپاره د ګوماني معافیت په وړاندې د یوه غبرګون په حیث دغه وژنې تبرئیه کړې. دغه وژنې ښایې د دې لپاره هم شوې وي چې د هغو ټولنو کومې چې د

[۲۰۵] د ۲۰۱۴ کال د اګست او ډسمبر د میاشتو تر منځ د کندز ولایت د خان اباد په ولسوالي کې د ټولنې د مشرانو ،دولتي چارواکو ، قربانیانو او عیني شاهدانو سره د یوناما مرکې.

[۲۰۶] افغان ولسمشر د کندز د ولایتی چارواکو سره د ویډیو کنفرانس له لارې په حکومتي پالیسی بیا ټینګار کړی او ویلي یې دي چې "ناقانونه وسله والې ډلې په هیڅ وجه د زغم وړ نه دي " که چېرې هغوي قانون په ځان پلی نه کړي ، د قانوني چلند سره مخ شي—په دې اړه د ولسمشر د دفتر مطبوعاتي بیان په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://president.gov.af/en/news/40136, last accessed 11 January 2015.

[۲۰۷] دغه دنده له قواعدو سره په نه سمون کې له بالقوه مسوولیت سره یوځای له هغه الزام څخه سرچینه اخلي چې د ژوند او نورو حقونو ساتنه کوي . د دولت له خوا څیړنې باید تر ممکنه حده پورې چټکې ،بشپړې ،بې پرې او خپلواکې وي څو د اغیزمنو څیړنو شرایط پوره کړي او د عامه کتنې لپاره پرانیستې وي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره دوهمې برخې ته مراجعه وکړئ ،احتساب او د قربانیانو حقونه ، په وسله واله جګړه کې د بشري حقونو نړیواله حقوقي ساتنه ، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ، ژنیو ، ۲۰۱۱.

دغو وسله والو ډلو لخوا متاثره شوي وي او د هغوي په وړاندې يې په معافيت سره سرغړونې ترسره کړې وي ملاتړ تر لاسه کړي. د کندز په ولايت کې ، د بيلګې په توګه ،طالبانو په څرګند ډول د دولت پلوه وسله والو ډلو د دوو غړو د جلا وژنو چې د ادعا سره سم د بشري حقونو د سرغړونو مسول وو ، مسووليت منلی.
د اګست په ۱۱ ، طالبانو د دولت پلوه وسله والې ډلې يو قومندان چې د ۲۰۱۲ کال په سپټمبر کې د کانام کلان په کلي کې د ۱۲ ملکيانو په وژنه کې ښکېل و ، و واژه. [۲۰۸] د ډسمبر د مياشتې په وروستيو کې ، طالبانو د دولت پلوه وسله والې ډلې د يوه قومندان د وژلو مسولويت منلی خوک چې د دوي د ادعا له مخې د ۲۰۱۳ کال په سپټمبر مياشت کې په دشت ارچې کې د پښتنو د کليو په چور او چپاول کې ښکېل و.
طالبانو همدارنګه د افغان سيمه ييزو پوليسو د دوو قومندانانو د وژلو ادعا هم کړی چې په ورته ډول د بشري حقونو په سرغړونو تورن وو.

**د غزني په ولايت کې د ځايي وسله والو ډلو 'پاځون کونکو' له خوا د بشري حقونو څخه سرغړونې**

د ۲۰۱۴ کال په نومبر او ډسمبر مياشتو کې ، يوناما د 'ملي پاځون غورځنګ' [۲۰۹] لخوا کومه چې د ټولنو پر بنسټ يوه دولت پلوه وسله واله ډله ده او د ۲۰۱۲ کال راهيسې د غزني په ولايت کې فعاليت کوي ، د ملکي کسانو د ځورونې او ناوړه چلند پيښې مستندې کړې دي. [۲۱۰] دا غورځنګ د غزني ولايت د ګيلان ،مقر او اندړو په ولسواليو کې وسله وال غړي لري او ادعا کوي چې د طالبانو د تشدد او د هغوي په ژوند کې د طالبانو د مداخلې په وړاندې د ملکي کسانو ساتنه کوي.

د ۲۰۱۴ کال په ډسمبر کې ، د بيلګې په توګه ، د ګيلان د ولسوالي [۲۱۱] د اغو جان د کلی اوسيدونکو د ملي پاځون غورځنګ لخوا د پيسو ، خوراکي توکو ، د سون لرګيو او کاليو د سيستماتيکو شوکو په شمول د سرغړونو د متعددو بيلګو راپور ورکړی. [۲۱۲] د ګيلان يوه اوسيدونکي د وسله والې ډلې د عملونو د اجباري او ناقانونه ماهيت په اړه يوناما ته و ويل:"هر وخت چې دوي د چا په ځان يو ښه پټکی يا جاکټ او يا يوه ښه جوړه بوټونه و ويني ، نو هغوي يې د ځان

---

[۲۰۸] په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۲ کال کلنی راپور ، د ۴۹ څخه تر ۵۱ مخ پورې مراجعه وکړئ. طالبانو په خپله ويب پاڼه کې د وژنې مسووليت منلی:-http://shahamat-english.com/index.php/news/48145-tuesday%E2%80%99s-news .updates, accessed 11 January 2015

[۲۰۹] د طالبانو په وړاندې پاڅون د ټولنې پر بنسټ د دفاع يو نوښت دی کوم چې د ۲۰۱۲ کال د اپريل په مياشت کې د غزنی ولايت د اندړو په ولسوالي کې پيل شو. په غزني ولايت کې د اندړو د ولسوالي څخه نورو ولسواليو ته په خاص ډول د ګيلان او مقر په ولسواليو کې د دې ډلې له غزيدو وروسته ، د'اندړو د پخوانی پاڅون' نوم 'د ملی پاځون غورځنګ ته واړول شو'.د اسلامی ګوند د ځايي مشرانو او د اندړو د ولسواليو اوسيدونکو د هغوي په ژوند کې د طلبانو لخوا د مداخلتونو ، د ښوونځيو ، کلينيکونو او بازارونو د تړلو له امله 'پاځون' پيل کړی.د ۲۰۱۲ کال په اکتوبر کې ، د افغان سيمه ييزو پوليسو يو تشکېل په اندړو کې ځای پر ځای شو او يو شمير زيات پاځون وال د افغان سيمه ييزو پوليسو سره يو ځای شول. نورو د پاځون د اصلی غړو په حيث خپلو فعاليتونو ته دوام ورکړ. د سرچينو په حواله ، د پاځون ډلې په منظمه توګه د افغان امنيتی ځواکونو ملاتړ کړی ، او د نړيوالو پوځي ځانګړو ځواکونو او افغان ملی امنيتی ځواکونو په عملياتو کې يې له دې امله چې د ځايي وګړو او د هغوي د قابليت او د دولت ضد عناصرو د پيژندلو په هکله ښه درک لري ، برخه اخيستې . د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۴ کال شپږ مياشتنی راپور ۵۵ مخ ته مراجعه وکړئ ، د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۲ کال کلنی راپور ۴۹-۴۸ مخونه ، د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۳ کال شپږ مياشتنی راپور ۲۸ مخ لاندې پتې ته مراجعه وکړئ:
.http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=13941&language=en-US

[۲۱۰] په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۴ کال شپږ مياشتنی راپور ۴۷-۴۸ مخونو ته مراجعه وکړئ.

[۲۱۱] د ملی پاځون غورځنګ په کلي کې د تلاشي يوه پوسته چې د ملي پاځون د غورځنګ د نږدې ۱۲کسانو له خوا يې ساتنه کېده ، جوړه کړه.

[۲۱۲] د ۲۰۱۴ کال د نومبر څخه د ۲۰۱۵ کال تر جنوري مياشتی پورې د ګيلان د ولسوالي ، ګرديز د اوسيدونکو سره د يوناما مرکې.

لپاره ترې اخلي".[۲۱۳] اوسیدونکو همدارنګه د ملي پاځون د غورځنګ د غړو په هکله هغوی ته د امنیت د برابرولو په بدل کې د ملکي وګړو څخه د غوښتنو د غلا کولو د پیښو په اړه راپورونه ورکړي. د ملکي کسانو د ځورونې بله بیلګه کومه چې د یوناما له خوا مستنده شوې دا وه چې د ځایي خلکو څخه پوښتنه کیدله چې دوې ولې ږیرې پرې ایښې دي او د ږیرې د پریښودو دې کار ته د پاځونوالو له خوا د طالبانو د ملاتړ په سترګه کتل کیدل.[۲۱۴]

د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر د میاشتې په پای کې، ځایي قومي مشرانو د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولتي چارواکو د مداخلو په تعقیب، وکولای شوای چې د ملي پاځون د غورځنګ یو ځایي قومندان له دندې ګوښه کړي.[۲۱۵] یوناما مشاهده کړې چې د قومندان په لېږي کولو سره د ملکي کسانو د ساتنې په برخه کې ښه والي را منځ ته نه شو. د ۲۰۱۵ کال په جنوري کې، یوناما د ملي پاځون د غورځنګ د غړو لخوا په سیمه کې د ځایي وګړو په وړاندې د بشري حقونو سرغړونې مستندې کړې، د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۱۴ ،د اندړو په ولسوالي کې د یوه ۱۹ کلن ملکي شخص د ناقانونه اعدام په شمول او د ډله ییزې جزا ورکولو یوه پیښه او ادعا شوې جرمونه چې په هغو کې د ۴۰ څخه زیات ملکي کسان شامل وو د اوسپنیزو زنجیرونو په واسطه شدید وهل شوي هم شامل دی. یوناما همدارنګه نورې سرغړونې په نورو ولسوالیو کې هم ثبتې کړي.[۲۱۶]

د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې ډله ییزه جزا ورکونه منع ده،[۲۱۷] دا همدارنګه تصریح کوي چې هر ډول جنایي تعزیرات او جزا ګانې،"د هر ډول ځورونو په شمول که هغه اداري وي، د پولیسو له خوا یا بل ډول"وي، یواځې کېدای شي د انفرادي مسوولیت پر اساس عملي شي.[۲۱۸] ډله ییزې جزا ګانې همدارنګه د عادلانه محکمې د حق په شمول د یو شمیر ځانګړو بشري حقونو څخه سرغړونې تشکېلوي.[۲۱۹]

د ملي پاځون د غورځنګ له اړخه د بشري حقونو تکراري سرغړونې او د ملکي کسانو په وړاندې ادعا شوي جرمونه تر دې نیټې پورې له مجازاتو څخه پاتې شوي، په دې هکله د افغانستان د دولت له خوا هیڅ ډول څیړنې او اصلاحي هڅې نه دي شوي.[۲۲۰] *د نړیوالو بشري حقونو د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د اصلاح او جبران په هکله د ملګرو*

---

[۲۱۳] د ۲۰۱۵ کا ل د فبروري ۱، د ځایي اوسیدونکو سره د یوناما مرکه، ګردیز.

[۲۱۴] د ملي پاځون غورځنګ په ۲۰۱۲ کال کې په غزنی ولایت کې په فعالیت پیل وکړ. په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ کال شپږ میاشتی راپور ۴۷ مخ او ۱۵۷ لمن لیک ته مراجعه وکړئ.

[۲۱۵] د ځایي اوسیدونکو سره د یوناما مرکه ،۲۲ ډسمبر، ۲۰۱۴ کال.

[۲۱۶] دغه پیښې د یوناما د ۲۰۱۴ کال په ارقامو کې نه دي شاملې او په دې راپور کې راجع شوي چې د بشري حقونو د سرغړونو مخ پر زیاتیدونکې وار وار پیښیدنه چې د دغو ځایي وسله والو ډلو لخوا په معافیت سره ترسره شوې، په ډاګه کړي- چټکه اړتیا لیدل کیږي څو دولت داسې اقدامونه و کړي څو مرتکبېين تعقیب او تحقیقات ترې وکړي  او ملکي وګړو ته تحفظ برابر کړي.

[۲۱۷] په یوه غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د عرفي قانون پر اساس چې په ټولو خواوو د پلي کېدو وړ دی.

[۲۱۸] د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون، ۱۰۳ قاعده په لاندې پته د لاسرسي وړ ده:-https://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v1_rul_rule103, last accessed 2 February 2015.

[۲۱۹] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټې همدارنګه پخپله عمومي تبصره کې د مدني او سیاسي حقونو په نړیوال کنوانسیون کې د ۴ مادې (چې د اضطرار د حالت په اړه ده)  اعلاموي چې غړي دولتونه " په هیڅ ډول حالاتو کې" نه شي کولای  " د بشر پالنې د  قانون د نقض او یا هم  د نړیوال قانون د نهایي نورمونو څخه د سرغړونې په اړه" په اضطراري حالت استناد وکړي،  " د بیلګې په ډول ...د ډله ییزو سزاګانو  د تحمیلولو له لارې."

[۲۲۰] د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۴ کال د جون په ۱، د ملي پاځون د غورځنګ مشر د اندړو په ولسوالي کې د افغان او نړیوالو ځواکونو د ګډو پوځي عملیاتو په ترځ کې درې ملکي کسان په ډزو و ویشتل او مړه یې کړل.که څه هم چې د دې پیښې مرتکبېين ځایي چارواکو ته ښه معلوم وو، حکومتي چارواکو د وژنو په هکله تحقیقات پیل نه کړل او نه کوم شخص مسوول وګڼل شو. د غزنی ولایت څخه د ملي امنیت ریاست کارکونکو د وژنو او نورو ناقانونه عملونو په اړه د حساب ورکونې د نه شتون په حواله د یوناما اندیښنې د اندړو د پاځون والو د غړو سره شریکې کړې. د نورو تفصیلاتو لپاره د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ کال شپږ میاشتني راپور ته مراجعه وکړئ.

*ملتونو د اساسی اصولو او لارښوونو په مطابق:* ' ...اړتیا ده چې دولتي څېړنې په موثره ، زغرده ، سراسري او بې پرې توګه ترسره شي ، او چېرې چې مناسبه وي د کورنیو او نړیوالو قوانینو په مطابقت کې د هغه کسانو په وړاندې چې د ادعا سره سم مسوول وي اقدامات ترسره کړي'.[۲۲۱]

یوناما دولت ته خپل وړاندیزونه بیا بیا تکراروي څو ټولې ناقانونه وسله والې ډلې سمدستي منحل او بې وسلې کړي او غړي یې د بشري حقونو د سرغړونو په خاطر مسوول و ګڼي. یوناما د حکومت حقوقي ژمنې او عملي دستورونه په ډاګه کوي څو ډاډ حاصل کړي چې د عامه امنیت او یاغیتوب ضد چارې یواځې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا ترسره شي. په وسله والو ډلو باندې تکیه او هغوی ته مراجعه کول د ملکي کسانو ساتنه په خطر کې اچوي ، د قانون حاکمیت او د بشري حقونو ساتنه کمزورې کوي ، نا امنې تشدیدوي او د حساب ورکونې مخه نیسي.

**د دولت پلوه ځواکونه له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې مبارزه او د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو خنثی کول**

په ۲۰۱۴ کال کې ، د افغانستان حکومت د ایساف او نړلوالو شریکبانو په ملاتړ د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې د خپلو قابلیتونو ښه کولو ته دوام ورکړی. د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د حکومتي ملي ستراتیژۍ د پلي کولو سره په سمون کې ، د ۲۰۱۴ کال د جون تر ۳۰ ، دفاع وزارت د افغان ملي پولیسو د چاودیدونکو توکو د خنثی کولو ۱۸۱ بشپړ فعال او تجهیز شوي ټیمونه په کار اچولي. افغان ملي پولیسو ۸۴ ، افغان سرحدي پولیسو څلور او د ملي امنیت ریاست د چاودیدونکو توکو د خنثی کولو درې ټیمونه په کار اچولي.

یوناما یادونه کوي چې په ۲۰۱۴ کال کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې په هڅو کې لاسته راوړنو د افغانستان او نړیوالو شریکبانو جامع ژمنې منعکسې کړي څو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې ملي ظرفیت را منځ ته کړي ، چې وکولای شي د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو څخه د را ولاړو شویو مخ پر زیاتیدونکو ګواښونو ته په مناسبه توګه ځواب و وایې. یوناما په ډاګه کوي چې د افغان امنیتي ځواکونو د چاودیدونکو توکو د خنثی کولو / د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې موجوده قابلیتونه باید وساتل او تشدید شي څو د ملکي کسانو او امنیتي ځواکونو په وړاندې د هغو مخ پر زیاتیدونکو ګواښونو سره په موثره توګه مبارزه وشي چې د ځاي پرځاي شوی چاودیدونکو توکو دبدلیدونکې تکنالوژۍ په واسطه را منځ ته کېږي.

څنګه چې په دې راپور کې په ډاګه شوې ، په ۲۰۱۴ کال کې ، د ځمکنیو نښتو وروسته ، د نورو هر ډول تاکتیکونو په پرتله ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو زیات ملکي کسان وژلي: د ۲۹۷۸ ملکي تلفاتو په درلودلو سره ،د ټولو ملکي تلفاتو ۲۸ سلنه د ځای پرځای شویو چاودیدونکو توکو له امله را منځ ته شوي. د ۲۰۰۹ کال راهیسې ، د هر ډول نورو تاکتیکونو په پرتله ، ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو زیات ملکي کسان وژلي. د حکومت ،نړیړالو شریکبانو او په خاص ډول د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې په موخه د دوامداره او اوږدمهاله ملاتړ پرته ممکن دغه وژونکې جریان دوام ومومي.

---

[۲۲۱] له نړیوالو بشري حقونو څخه او د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه د سختو سرغړونو له امله د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران دحق په اړه اساسي اصول او لارښوونې ، چې د عمومي اسامبلې له خوا د ۱۴۷/ ۶۰ پریکړه لیک په ذریعه تصویب او اعلام شوی ، دسمبر ۱۶ ، ۲۰۰۵ کال ، په دې لاندې پته موجود دی: http://www.ohchr.org/EN/ProfessionalInterest/Pages/RemedyAndReparation.aspx, accessed 4 February 2015.

د ځانمرګو او پیچلو بریدونو سره یو ځای(په کومو کې چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول شامل دي)، په ۲۰۱۴ کال کې ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د ټولو ملکي تلفاتو نږدی نیمایې برخه را منځ ته کړې(۴۳ سلنه). د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ظرفیت پیاوړی کول څو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د ګواښونو په وړاندې د ملکي کسانو او د خپلو ځانونه ساتنه وکړي- او دا د افغانستان او د ناتو د غوښ ملاتړ د ماموریت یو مهم لومړیتوب دی.

د ۲۰۱۴کال په جریان کې، یوناما د افغان امنیتي ځواکونو او ایساف د کارکونکو سره مرکې ترسره کړ ي په کومو کې چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې په برخه کې ترلاسه شوې ا ، پرمختګونه په ډاګه کړي. ځواب ویونکو په پرلپسی توګه ادعاء کړې چې افغان ملي امنیتي ځواکونه اړ دي څو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې په اړه خپل ظرفیت لا لوړ کړ ي څو وکولای شي په ملکي کسانو باندې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د مخ پر زیاتیدونکې غمیزې اغیزې کچه را ټیټه کړي.

افغان ملي امنیتي ځواکونو او ایساف لاندې سیمی چیرې چې افغان امنیتي ځواکونه د نړیوالو شریکبانو[۲۲۲]دوامداره ملاتړ ته اړتیا لري، مشخصې کړي.

**همغږي او مشرتابه**

د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د ګواښونو په وړاندې د غبرګون په موخه دولت د همغږي د هڅو یو مرکزي سیستم نه لري. په اوس حال کې د افغان ملي اردو، افغان ملي پولیسو او ملي امنیت د ریاست تر منځ د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې بیلابیلې هڅې تقسیم شوې دي. د همغږي د دغو هڅو نه شتون د دولت ظرفیت متاثره کړی څو په اساسي توګه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو اغیز بررسې کړي، د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې اوسنی ظرفیت تحلیل کړي، خپل انکشاف ته وده ورکړي، لازمه بودیجه پلان او خوندي کړي او د هیواد په کچه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې ټولې هڅې همغږې کړي. د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې لپاره باید د دولت په لوړو کچو کې د همغږي او مشرتابه یو مرکزي میکانیزم جوړ څو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې یو ستراتیژیک رهبرې شوی او ښه همغږي شوی غبرګون را منځ ته کړي.

**پرسونل**

افغان ملي امنیتي ځواکونو او ایساف د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې / د چاودیدونکو توکو د خنثی کولو د ټیمونو د ساتلو او خوندي کولو په برخه کې موجوده ننګونې تصدیق کړې دي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د زیاتو تلفاتو د متحمل کېدلو مسلې، په خاص ډول د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د ټیمونو لخوا دا ستونزمنه کړې چې لازمې بشري سرچینې حفظ کړي څو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارز ې په وړاندې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت یقیني کړي. یو شمیر زیاتو چارواکو هم د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د ټیمونو په دننه کې د ټیټ مورال د مسلو په اړه راپور ورکړی، کله نا کله دا مورال د خطر لپاره د تادیاتو په ادا کولو کې د ځنډ له امله نور هم بدتر شوی.

---

[۲۲۲] د ۲۰۱۴ کال د اګست نه تر دسمبر پورې، په ایساف ،د کورنیو چارو او دفاع په وزارتونو کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د خنثی کولو د کارپوهانو او سلاکارانو سره د یوناما ناستې، د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر نه تر اکتوبر پورې.په هلمند ،هرات، کندهار او کنړ ولایتونو کې د افغان ملي پولیسو، افغان ملي اردو او OCCP سره ناستې.

## روزنه

په مزار شریف کې د یوه ښوونځي او په کابل کې د یوه بل ښوونځي په درلودلو سره ، د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې د روزنو موجود ظرفیت اوس هم د بهرنیانو په لارښوونو متکی دی. په ۲۰۱۵ کال کې باید ټولې هڅې د افغان روزونکو په روزنو متمرکزې شي څو د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې ظرفیت لوړ او وساتل شي. د دې په خاطر چې داډ حاصل شي څو په روزنیزو کورسونو کې د پر مخ وړل شوی ظرفیت څخه په مناسب ډول کار واخیستل شي ، د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې کارپوهان باید په اصل کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې په دندو وګمارل شي.

## تجهیزات

که څه هم چې ایساف یوناما ته اطلاع ورکړې چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې په وړاندې ټول اړین تجهیزات ، لکه د چاودیدونکو توکو د خنثی کولو روبوټونو ، JAMMERS (مختل کوونکې وسیلې)، زغره والې نقلیه وسیلې او د ماینونو د خنثی کونکو د رولرونو په شمول افغان ملي امنیتي ځواکونو ته سپارلې ،[۲۲۳] افغان ملي امنیتي ځواکونو یوناما ته اطلاع ورکړې چې د تجهیزاتو دوامداره نه شتون هغه مهم فاکتور و چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزی په وړاندې د لا غښتلي ظرفیت مخنیوی کوي.[۲۲٤] د یوناما له خوا د ترلاسه شویو معلوماتو په حواله ، افغان امنیتي ځواکونه لا هم د تجهیزاتو د مدیریت مناسب سیستم نه لري ،او دا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د تجهیزاتو د کمې کاروني او د کنترول شویو وسیلو زیات کمښت ته لار هواره وي ، مناسب مراقبت هم شتون نه لري ،اصلی ستونزه د پرزه جاتو د نه شتون ، د ورکشاب نا مناسب قابلیت او د استفاده کونکي د مخه نیونکی مراقبت په اړه کم پوهاوی دی.

د افغان ملي امنیتي ځواکونو او د ایساف استازو په مکرر ډول یوناما ته ویلي چې د نړیوالو همکارانو له خوا د مدیریت د داسې یوه سیستم ایجادولو ته ضرورت شته څو د وسایلو مناسب استعمال او احتساب یقیني کړي او دغه سیستم باید افغان ملي امنیتي ځواکونو ته وسپارل شي.

## استحصال

د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارونه[۲۲۵] نږدې د نه شتون سره برابره ده. که څه هم چې لابراتوارونه جوړ شوي ،[۲۲٦] د افغان ملي امنیتي ځواکونو په منځ کې عملیاتي فعالیتونو او د قوماندې او

---

[۲۲۳] د ایساف په حواله ، نړیوالو شریکبانو کافي تجهیزات برابر کړي څو افغان ملي امنیتي ځواکونو په مناسب ډول سمبال کړي.د ایساف/ غوڅ ملاتړ ماموریت په دې اند دي  چې د ستونزو لامل د تجهیزاتو کموالی دی چې افغان ملي امنیتي ځواکونه یې له دې څخه منع کړي دي څو تجهیزات له ګودامونو څخه هغو جزوتامونو ته ولیږدوي چې ورته اړتیا لري.  د غوڅ ملاتړ ماموریت ، ایمیل یوناما ته ، د ۲۰۱۵ کال د فبروری په ۱۱ نېټه رسیدلی.

[۲۲٤] همدا ماخذ

[۲۲۵] د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول د معلوماتو د خپرولو ، معلومولو ، را ټولولو او پروسس کولو او د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د پیښې د محل نه د را ټولو شویو موادو پروسه ده څو د قانوني تعقیب وړ معلومات تر لاسه کړي  چې  په دی توګه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزی طرزالعملونه او میتودونه پیاوړی کړي ، د یاغیانو سرچېنی کمې کړي او د عدلی تعقیب ملاتړ وکړي. په دې کې د تخنیکي ،عدلي او بایو میټریک پلټنې او تحلیل لپاره د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د اجزاوو ساتل ،پیژندل او بیا احیاء کول شامل دي او د صلاحیت لرونکو ځانګړو اسانتیاوو له لارې برابریږي. د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزی موثره او پایښت لرونکې تدبیرونه دي.

[۲۲٦] د کورنیو چارو د وزارت یو لابراتوار په هرات او بل په کابل کې فعال دی ، د ملي امنیت ریاست یو لابراتوار په کابل کې لري.

ترانسپورت مسلو د کاروني چارې متاثره کړي دي. افغان امنيتي ځواکونو په دوامداره توګه يوناما ته اطلاع ورکړې چې د مرکزي همغږي او د کارمندانو کمښت د افغان ملي امنيتي ځواکونو وړتيات محدوده کړې څو د ګټې اخيستنې هغه فعاليتونه چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو ظرفيت متاثره کوي چې موخه يې د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو د ګواښونو خنثی کول دي ، تنظيم کړي.

يوناما خپل وړانديز تصريح کوي چې نړيوال شريکباني دې د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو په وړاندې د مبارزې لازم ظرفيت او تخنيکې مرستې افغان امنيتي ځواکونو ته وليږدوي او د راتلونکو کلونو په ترڅ کې د هغوی د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو سره د مبارزې په وړاندې د پايداره او په تدريجې توګه د تکامل لپاره کافي ملاتړ برابر کړي.

## هوايي عمليات [۲۲۷]

*د غرمې نږدې ۱۲ بجې وی کله چې ما ښاغلی [...] [۲۲۸] او د هغه ميرمن وليدل ، د هغوی دوه کوچنی لونې او د هغه پلار د کلا وونه د سيمې په لور په حرکت کې و. ناڅاپه ، يوه لويه چاودنه وشوه. موږ ښاغلی او د هغه لونې ، په ډير بد حالت کې وليدلې ، د هغه د پلار ،ښځې او د دوهمې لور جسدونه مو وليدل [...]. په داسې حال کې چې د کلي اوسيدونکي د پيښې په سيمه کې راغونډ شوې وو ، بيا يوه جيټ الوتکه راغله او کليوال يې بمبارد کړل. له نيکمرغه ، زه نږدې ۳۰۰ متره لېرې وم او ما ته څه پيښ نه شول [...] کليوالو د مړو او ټپيانو په منځ کې د خپلو کورنيو غړې لټول. موږ د سيمې په شاخوا کې د انسانانو ، لاسونه پښې او غوښې تيت او پرک وليدلې. زما لپاره دا ډيره سخته وه چې د خپل زوی د وجود اندامونه پيدا کړم. په دوهم هوايي بريد کې کم تر کمه ۱۳ کسان و وژل شول او ۱۶ ټپيان شول. کله چې زه د هغې پيښې په اړه فکر کوم نو زه اوس هم په رواني لحاظ متاثره کېږم. د دوامداره ډار له امله چې بيا به هوايي بريد وشي خلک د شپې خوب نه شي کولای. موږ تصميم لرو چې ډير ژر د والي سره ووينو او د هغه څخه غوښتنه وکړو چې موږ له دغه ځای څخه بل ځای ته واستوی. موږ د خونديتوب احساس نه کوو ، موږ نه غواړو دلته ژوند وکړو.* [۲۲۹]

- عيني شاهد د چا زوی چې د کنړ ولايت د نرنګ ولسوالي د باډيل په دره کې د سپټمبر په ۹ د نړيوالو ځواکونو په هوايي بريد کې وژل شوی. په دې بريد کې ديارلس کسان وژل شوي او کم تر کمه ۱۷ ټپيان شوي.


[۲۲۷] په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۴ کال راپور له هوايي عملياتو څخه د را منځ ته شويو ملکي تلفاتو شمير ځکه نه تجزيه کوي چې په هوايي عملياتو کې د کارول شويو هوايي بريدونو د نوعيت د پيژندنې په اړه چې د ملکي تلفاتو لامل کيږي په وړتيا کې ښه والي راغلی دی. د يوناما ډيټابيس د چورلکو ، جنګي الوتکو او بی پيلوټه الوتکو يا نورو نامعلومو وسيلو په واسطه هوايي بريدونه تفکيک او ثبتوي . په ۲۰۱۴ کال کې ، يوناما خپل قابليت لوړ کړی څو په عملياتو کې د کارول شوي هوايي پلاټفورم ښه تشخيص کړي کوم چې د ډيرو دلايلو له وجې د ملکي کسانو د تلفاتو باعث کيږي ،د ايساف/ غوڅ ملاتړ د ماموريت سره د معلوماتو او همغږي د چارو د پياوړي کولو په شمول. په ۲۰۱۳ کال کی ، يوناما د۱۸۶ ملکی تلفاتو له جملی څخه ۱۳۵ ملکی تلفات کوم چې د هوايې بريدونو په نتيجه کې را منځ ته شوی تصديق کړی ، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کال کې يوناما د هوايي بريدونو په نتيجه کی د ۱۶۲ ملکی تلفاتو د جملی څخه د ۱۴۷ ملکی تلفاتو کوم چی د هوايی بريدونو په نتيجه کی را منځ ته شوی تصديق کړي . يوناما د ۲۰۱۴ کال لپاره د هوايی بريدونو ارقام ځکه نه دي خپاره کړي چې د بيلابيلو ارقامو د ټولګو مقايسه ممکن دقيقه نه وی.

[۲۲۸] د امنيتی لاملونو په خاطر نوم حذف شوی.

[۲۲۹] د يوناما مرکه ،جلال اباد ښار ، ننګرهار ولايت ، د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر ۱۰.

په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د نړیوالو نظامي ځواکونو د هوایي بریدونو په نتیجه کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په برخه کې پرلپسې کمښت مشاهده کړی. یوناما ۱۶۲ ملکي تلفات ثبت کړي(۱۰۴ وژني او ۵۸ ټپي کېدني)، دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله د ورته عملیاتو څخه د ملکي تلفاتو په برخه کې ۱۳ سلنه کموالی ښيي.[۲۳۰] د ملکي کسانو په برخه کې دغه کموالی ښایي د ایساف له خوا د هوایي بریدونو په شمیر کې کموالي ته ،او د نړیوالو ځواکونو له خوا د جاري ژمنو ترسره کولو ته چې موخه یې د هوایي بریدونو پر مهال د ملکي کسانو د تلفاتو را کمول دي ، منسوب وي.

یوناما د هوایي بریدونو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د دوامداره کمښت ستاینه کوي. سره له دې ، د هوایي بریدونو په نتیجه کې ځینې ملکي تلفات را منځ ته شوي ،دا په "یرغلیزو "[۲۳۱] هوایي عملیاتو کې د هدف نیولو د معیارونو د دوامدارې بیا کتنې اړتیا په ډاګه کوي. د بېلګې په توګه ،د اکتوبر په ۱۲ ، نړیوالو پوځي ځواکونو د پکتیا ولایت د ګردیز په یوه لېرې پرته سیمه کې یو یرغلیز هوایي برید ترسره کړ. دوو پرلپسې هوایي بریدونو اوه ملکي کسان و وژل(پنځه ماشومان او دوه سړي) او یو ملکي شخص یې ټپي کړ. قربانیانو په غرونو کې د سون لرګي را ټولول.



د هوایي بریدونو په واسطه د ملکي کسانو مرګ ژوبله جنوري – دسمبر ۲۰۰۹ - ۲۰۱۴

یوناما همدارنګه د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو پوځي ځواکونو تر ګډې رهبرۍ لاندې د ځمکنیو نښتو پر مهال د هوایي بریدونو په پایله کې ملکي تلفات مستند کړي. د بېلګې په توګه ، د سپټمبر په ۹ ، افغان سیمه ییز پولیس ، د ملي امنیت ریاست کارکونکي او نړیوال پوځي ځواکونه د کنړ ولایت د نرنګ په ولسوالي کې د تلاشي د ګډو عملیاتو پر مهال د طالبانو تر برید لاندې راغلل. دواړو خواوو د هاوان ګولۍ تبادله کړې. د هاوان یوه ګولۍ چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا فیر شوې وه په یوه ملکي کور اصابت وکړ او په نتیجه کې یې دریو ملکیان ټپیان شول(یوه ښځه او دوه نجوني). وروسته په عین ورځ ، د نړیوالو پوځي ځواکونو یوې الوتکې په ورته سیمه کې یو هوایي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې د یوه شخص ، یوې ښځې ، دوو نجونو او یوه ملکي کس په شمول څلور کسان و وژل شول. په پای کې ، کلیوال د پیښې په سیمه کې د مړو د جسدونو د ټولولو او د ټپیانو د لیږدېدلو لپاره راغونډ شوي وو چې سیمه بل هوایي برید په نښه کړه چې د پنځو ماشومانو او څلورو نارینه وو په شمول یې نهه ملکي کسان و وژل او نور ۱۳ ملکي کسان یې ټپیان کړل.

[۲۳۰] په ۲۰۱۳ کال کې ،یوناما د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو په نتیجه کې ۱۸۶ ملکي تلفات مستند کړي(۱۲۲ وژني او ۶۴ ټپي کېدنې).
[۲۳۱] یرغلیز هوایي عملیات له وړاندې پلان شوي هوایي عملیات دي چې د دفاعي هوایي عملیاتو څخه توپیر لري.

د ۲۰۱۵ کال لپاره د نړیوالو ځواکونو څخه د افغان پوځي عملیاتو لپاره د پلان شوي—دوامداره که څه هم را کم شوی هوایي ملاتړ سره ، یوناما د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې د ټولو خواوو په ژمنو بیا تاکید کوي څو د ملکي وګړو ، ملکي کسانو ، ملکي موخو ساتنې ته داوامداره پاملرنه وکړي او همدارنګه د ملکي کسانو د ژوند ، د ملکي کسانو د ټپي کېدو او د ملکي موخو د تصادفي ضایعاتو د کمولو او منخنیوي لپاره عملي احتیاطي تدبیرونه ونیسي.[۲۳۲]

یوناما مشاهده کړې چې د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د نظارت پر مخ تللي تکنولوژي ،تجهیزات او د استخباراتو پراخې کاریدلې شبکې ، د پالیسي د چوکاټ او عملیاتي لارښود سره یوځای چې موخه یې د زیانونو د کچې کمول و د دي لپاره بسنه کوي څو د پاملرنې هغه اندازه او بنه برابره کړي ، څو د هدف نیولو د هغو تیروتنو مخنیوی وکړي که څه هم له منځه یې نه شي وړلای ، چې ممکن ملکي تلفات را منځ ته کړي.

د هوایي بریدونو په اړوندو پیښو کې نورې بیلګې په لاندې ډول شاملې دي:

- د اګست په ۲۲ ، د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا د بې پیلوټه الوتکې په یوه برید کې د لوګر ولایت په پل علم کې د یوه ماشوم په ګډون څلور ملکي کسان و وژل شول. د طالبانو د یوې ډلې وار د مخه شتون برید ته زمینه برابره کړه ، په داسې حال کې چې تلفات هغو بزګرانو ته واوښتل چې په خپلو کروندو کې په کار بوخت وو.
- د سپټمبر په ۱۷ ، د نړیوالو پوځي ځواکونو یوې الوتکې د پکتیا ولایت د احمد خیلو په ولسوالي کې یو هوایي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې درې ملکي تلفات را منځ ته شول (یوه وژنه او دوه ټپي کېدنې). قربانیانو د جنغوزیو غوټۍ را ټولولې.

**د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ملکي تلفاتو د باوري کولو د بیا کتنې بورډ**

په ۲۰۱۴ کال کې ، د نړیوالو پوځي ځواکونو د ظرفیت د پیاوړي کولو په یوه هڅه کې ، چې موخه یې د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو په اړه د ادعاوو د څېړنو او راپورونو ترسره کول و ، ISAF /د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ملکي تلفاتو د باوري کولو د بیا کتنې بورډ(CCARB) را منځ ته کړ. د ملکي تلفاتو د باوري کولو د بیا کتنې بورډ د پوځي او ملکي موضوعاتو په اړه د کارپوهانو څخه ترکیب شوی او یاد بورډ داسې طرح شوی چې د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو د ممکنه پیښیدو د هر ډول ادعاوو یا راپور د رسیدو وروسته د دوو ساعتونو په دننه کې غونډه وکړي. بورډ همدارنګه پلان لري چې هره اونۍ د ملکي تلفاتو په اړه د ادعاوو او راپورونو بیا کتنه وکړي او همدارنګه د یوناما د چارواکو سره په منظمه توګه معلومات شریک کړي.

د ملکي تلفاتو د باوری کولو د بیا کتنې د بورډ یوه دنده د ملکي تلفاتو د ارزونې د ګډ ټیم(CCAT) لپاره د وړاندیزونو برابرول او د ملکي تلفاتو د ارزونې د ګډ ټیم په غونډو کې ګډون دی او د ملکي تلفاتو د ارزونې د ګډ ټیم تنظیم دی ، دا هغه ګډ ټیمونه دي چې په ترکیب کې یې د نړیوالو پوځي ځواکونو او د افغانستان د حکومت استازي شامل دي. د ملکي تلفاتو د ارزونې د ګډ ټیم دنده د ملکي تلفاتو د ادعاوو او راپورونو څیړنه ده کوم چې ممکن د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا را منځ ته شوي وي. د ایساف د غوڅ ملاتړ ماموریت موافقه کړې چې یوناما ته د ملکي تلفاتو د ارزونې د ګډ ټیم د تحقیقاتو د مشاهده کولو اجازه ورکړي.[۲۳۳]

---

[۲۳۲] لومړی قاعده- د ملکي کسانو او جنګیالیو تر منځ توپیر او ۲۵ قاعده- په برید کې احتیاطونه.د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، لومړی ټوک ،قواعد.جین ماری هنکایرتس او لویس دوسواک-بیک ، د سره صلیب نړیواله کمیټه ، کمبریج ، ۲۰۰۵.

[۲۳۳] د یوناما او د غوڅ ملاتړ د ماموریت ناسته ، د ۲۰۱۵ کال د فبروری ۹ ،ایساف/ د غوڅ ملاتړ د ماموریت مرکزي دفترونه ، کابل ښار.

## ۵. حقوقی چوکاټ

د دغه راپور لپاره کارول شوی حقوقی چوکاټ د بشري حقونو نړیوال قانون ، دبشر پالنې نړیوال قانون ، جنایی قانون او د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لازم الاجراءپرېکړه لیکونه احتواء کوي. [۲۳٤] په ټولو کې په افغانستان کې د وسله والې شخړې پر مهال د ملکي کسانو د ساتنې په اړوند ژمنې شاملې دي چې په لاندې برخه کې تشریح شوي دي.

### د وسله والې شخړې د ښکیلو خواوو حقوقي مسوولیتونه

د یوناما د دریځ له مخې په افغانستان کې وسله واله شخړه د افغانستان د حکومت او د حکومت د پوځي ځواکونو (افغان ملی امنیتي ځواکونه) چې ملاتړ یې د نړیوالو ځواکونو لخوا کیږي ( پدېې راپور او افغانستان کې "د دولت پلوه ځواکونو" په نوم یادیږي) او غیر دولتي وسله والو ډلو تر منځ ده چې (په دې راپور او افغانستان کې "د دولت ضد عناصرو" په نوم یادیږي).

د وسله والې شخړې ټولې ښکیلې خواوې- افغان وسله وال ځواکونه ، نړیوال پوځي ځواکونه او غیر دولتی وسله والې ډلې- د نړیوال قانون لاندې د ملکي کسانو د ساتنې په موخه روښانه مکلفیتونه لري.

د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو د تعریف په اړه اصطلاح ګانو ته مراجعه وکړئ.

### (۱) د بشر پالنې دنړیوال قانون لاندې مکلفیتونه

افغانستان د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو او د ۱۹۷۷ دوهم اضافی پروتوکول کوم چې په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو ساتنې ته ځواب وایی [۲۳۵] او د ملکي کسانو په وړاندې د بریدونو مخنیوي کوي او هغو موضوعاتو چې د ملکي وګړو د ژغورنې لپاره حتمي وي ،غړی دی.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو ګډه ۳ ماده د دولتی او غیر دولتی فعالینو په شمول د شخړې د ښکیلو خواوو لپاره حداقل معیارونه را منځ ته کړي ، چې په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې مراعات شي. ګډه ۳ ماده په ښکاره توګه

[۲۳٤] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۱۴۵(۲۰۱۴)پرېکړه لیک په افغانستان کې په وسله واله نښته کې د ټولو ډلو لپاره ژمنې څرګندی کړی څو د نړیوال قانون په شمول د نړیوال بشر دوستانه قانون او د بشری حقونو د قانون سره د ملکي ساتنې څخه ډ ډاډ حاصلولو په خاطر د ټولو مناسبو تدبیرونو د ترسره کولو لپاره اجابت وکړی.

[۲۳۵] افغانستان د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۰ ، د ۱۹۷۷ کال دوهم الحاقیه پروتوکول لاسلیک کړی. دا پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر په ۲۴ نافذ شو.

په هر وخت او هر ځای کې قتل [۲۳۶]، خشونت ،غیر قانونی اعدامونه ،شکنجه ، د اندامونو پرېکول او د خشونت نور ډولونه [۲۳۷] منع کوي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسینونو او یو شمیر نورو قوانینو محتویات د هغو سره ورته دي چې د هغوي په اضافی پرتوکولونو کې موندل شوي ، په زیاته پیمانه د عنعنوي نړیوال قانون برخه جوړوي.[۲۳۸] د ټولو اړوندو اصولو د جملې څخه چې د افغانستان د غیر نړیوالې وسله والې شخړې د ټولو ښکیلو خواوو په سلوک د پلي کیدو وړ دي ، په لاندې ډول دي:

- توپیر : ملکي وګړي او همدارنګه انفرادی ملکي کسان نه باید د برید هدف وي.[۲۳۹]
- تناسب: "یو برید چې ښایی په تصادفی ډول د ملکي کسانو د ژوند ،د ملکي کسانو د ټپي کیدو ،د ملکي کسانو د شیانو د زیان او یا اړوندو شیانو د زیان لامل شي ، کیدای شي د ریښتیني او مستقیم پوځي پرمختګ لپاره وړاندوینه وشي چې د اندازی څخه زیات وي.[۲۴۰]
- په برېدونو کې احتیاط: "ملکي کسان باید د پوځي عملیاتو څخه د را ولاړو شویو خطرونو په وړاندې د ټولیزې ساتنې څخه برخمن وي.[۲۴۱] د ملکي عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې ،باید د ملکي وګړو ،ملکیانو او ملکي شیانو" تر منځ د توپیر په موخه پرله پسې پاملرنه وشي"او باید ټول اړین احتیاطی تدبیرونه چې موخه یې په هر ډول پیښه کې د ملکي کسانو د ژوند ، د ملکي کسانو د ټپي کیدو او د ملکي کسانو د شیانو د تصادفی زیان څخه مخنیوي او کمول وي ، ونیول شي.[۲۴۲]

---

[۲۳۶] د قتل د جنګي جرم په هکله ، لکه څنګه چې د نړیوالی جنایی محکمی د روم د موضوعه قانون لخوا تعریف شوي ، یوناما د ملکي کسانو د عمدی وژنو اصطلاح چې هدفی وژنی په کې شاملی دی کاروي ، د دې لپاره چې یو ادعا شوي عمل چې ښایی د قتل جنګي جرم ته لار هواره کړی تشریح کړی ، د دې په خاطر چې د وسله والی شخړې د زمینی څخه د باندې د یوه شخصی فعال لخوا د داسی عملونو توپیر د قتل د جنګي جرم څخه وشي. داسی اصطلاح ګانی لکه ،هدفی وژنی ،غیر قانونی وژنی او په خپل سر وژنی کله نا کله په افغانستان کې د غیر نړیوالی وسله والی شخړی په زمینه کې د ملکي کسانو د عمدی وژنو د څرګندولو لپاره کارول کیږی. هدفی وژنی تر ملکي کسانو پورې محدودی نه دی او کیدای شی یو جنګیالی د هدفی وژنی موخه وګرځول شی.

[۲۳۷] د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ می د ژنیو د کنوانسیونونو دریمه عمومي ماده د غیر نړیوال ماهیت د شخړو پر مهال د تطبیق وړ دی. د پوځی شخړی په صورت کې چې نړیوال خصوصیات و نه لری او د کنوانسیونونو د لوړپوړو ډلو په قلمرو کې واقع کیږی ، د شخړی هر طرف باید د لاندی مقرراتو په پولې کولو مکلف وي(۱) هغه کسان ، د وسله والو ځواکونو په شمول چې وسلی یې په ځمکه ایښی او یا هغه کسان چې ناروغ ،ټپی او توقیف شوي وي ، د هر ډول نورو شرایطو په پام کې نیولو پرته لکه نژاد ،رنګ ، مذهب ، عقیدی ، جنسیت ،زیږون یا شتمنی چې په شخړو کې فعاله ونډه نه اخلی د هغوي سره په ټولو حالتونو کې انسانی چلند وشي. په دی معنی ، ټول عملونه منع دی او د پورته یادو شویو کسانو په حواله هر وخت او هر ځای ممنوع دی: (الف) د ژوند او شخص په وړاندې خشونت ، په ځانګړی توګه د ټولو ډولونو قتل لکه د اندامونو پرېکول ، بی رحمه سلوک او شکنجه ،(ب) یرغمل ، (ج) په شخصی وقار باندې تیری ،په ځانګړی توګه تحقیرونکی او ناوړه سلوک ،(د)، د حکمونو صادرول او د منظمی تشکیل شوي محکمی لخوا د مخکنی قضاوت د حکم پرته د اعدامونو ترسره کول ، د ټولو قضایی ضمانتونو د عهدی نه وتل کوم چې د متمدینو خلکو لخوا د لازم الاجرا په حیث پیژندل شوي.

[۲۳۸] د سره صلیب نړیواله کمیټه ، عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون ، لومړی ټوک ، جین میری هنکرتس او لوویس ډس والډ بیک( CU P/ICRC, کامبریج ، ۲۰۰۵)( د ICRC څیړنه)

[۲۳۹] اضافی دوهم پرتوکول ، ۱۳(۲) ماده.

[۲۴۰] د سره صلیب نړیوالی کمیټی ته مراجعه وکړی ، عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون ، جین میری هنکرتس او لوویس ډس والډ بیک( CU P/ICRC, کامبریج ، ۲۰۰۵)

[۲۴۱] اضافی دوهم پرتوکول ، ۱۳(۱) ماده.

[۲۴۲] د عنعنوي نړیوال بشری حقونو د قانون په هکله د ای سی ار سی د څیړنی د ۲۱-۱۵ قوانین.

- په افغانستان کې نړیوالو پوځي ځواکونو ته د سرتیرو ورکونکي ټول هیوادونه د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو لاسلیک کونکي دي. په داسې حال کې چې د سرتیرو ورکونکي ټول هیوادونه د ۱۹۷۷ کال د اضافي دوهم پرتوکول لاسلیک کونکي نه دی ، دا هیوادونه د بشر پالنې د نړیوال عنعنوي قانون د اړوندو مقرراتو په اساس چې د غیر نړیوالې وسله والې شخړې باندې د پلي کیدو وړ دي په رعایت کولو لا هم مکلف دي.

**(۲) د بشري حقونو د نړیوال قانون لاندی مکلفیتونه**

نړیوال بشري قانون په سوله او د وسله والې شخړې پر مهال ، د بشر پالنې د نړیوال قانون سره یو ځای په متمم او تقویتي ډول د پلي کیدو وړ دي.

افغانستان د بشري حقونو ، د مدني او سیاسي حقونو په هکله د نړیوال میثاق په شمول یو لړ نړیوالې معاهدې لاسلیک کړي دي ، [۲۴۳] دا میثاق حکومت اړ باسي څو د قلمرو په دننه او یا د هیواد د واکمنۍ لاندې سیمو په دننه کې د ټولو کسانو لپاره د اساسي بشري حقونو تحفظات برابر کړي.

غیر دولتي فعالین د پوځي ډلو په شمول په داسې حال کې چې هغوی نه شي کولای د بشري حقونو د نړیوالو میثاقونو سره یو ځای شي ، لکه طالبان په زیاته کچه مسوول دي چې د نړیوالو بشري حقونو ژمنې په ځانګړي ډول په ځینو هغو سیمو کې چې په کې موجود کنترول لري مراعات کړي. [۲۴۴]

د بشری حقونو د نړیوال قانون لاندی ،هیوادونه باید د خپلو نمایندګانو ، [۲۴۵] له طریقه د وژونکې قوې کارول وخیړی. دا دنده د نه رعایتولو د مسوولیت سره یوځای د ژوند د حق د ساتنې د مکلفیت څخه سرچینه اخلي . [۲۴۶] د دې لپاره

[۲۴۳] افغانستان د بشری حقونو لاندی مثاقونه او کنوانسیونونه لاسلیک کړی دی: د مدنی او سیاسی حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د اقتصادی ، ټولنېزو او کلتوری حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د نژادی تبعیض د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اګسټ په ۵ مه تصویب شو ، د ښځو په وړاندې د توپیر د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د مارچ په۵ مه تصویب شو ، د شکنجی او نورو بی رحمانه ، غیر انسانی ، ناوړه سلوک او سزا په وړاندې کنوانسیون چې د ۱۹۸۷ کال د جون په ۲۶ مه تصویب شو ، د ماشوم د حقونو په هکله کنوانسیون چې د ۱۹۹۴ د اپریل په ۲۷ مه تصویب شو ، د ماشومانو د سوداګری ،د ماشومانو فاحشه ګری او د ماشومانو د هزره نګاری په هکله د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون اختیاری پروتوکول چې د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر په ۱۹ تصویب شو ،په وسله واله شخړه کې د ماشومانو د ښکیلتیا په هکله د ماشوم د حقونو په اړه د کنوانسیون اختیاری پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴تصویب شو او د معیوبو کسانو د حقونو په هکله کنوانسیون ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۸ د لاسرسی وړ ، مراجعه وکړی.
.http://www.aihrc.org.af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party.html

[۲۴۴] د ملګرو ملتونو د عمومی منشی راپور ته مراجعه وکړی ،په سری لانکا کې د حساب ورکونی په هکله د عمومی منشی د کارپوهانو د هیت راپور ، د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۱۸۸ ،۳۱ پراګراف. همدارنګه د لیبیا په عربی جمهوریت کې د نړیوال بشری حقونو د ټولو ادعا شویو سرغړونو د څیړنی د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور ته مراجعه وکړی- A/HRC/17/44, 1 June 2011; ، د سوریی په عربی جمهوریت کې د بشری حقونو د وضعیت په اړه د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور- A/HRC/19/69, para. 106; د جنوبي سودان په جمهوریت کې د ملګرو ملتونو ماموریت ،په جنوبي سودان کې شخړه: د بشری حقونو راپور ، ۲۰۱۴ کال د می ۸ ، ۱۸ پراګراف.

[۲۴۵] د غیر قانونی ، په خپل سر او نا قانونه اعدامونو د څیړنی او موثره مخنیوي په هکله د ملګرو ملتونو د اصولو ۱۰ ،۹ او ۱۷ پراګرافونو ته مراجعه وکړی چې د اقتصادی او ټولنېزی شورا د ۱۹۸۹/۶۵پریکړه لیک په واسطه د ۱۹۸۹ کال د می په ۲۴ تصویب شو ،د غیری نړیوالی وسله والی شخړی په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او د عمومی اسامبلی پریکړه لیکونو ته هم مراجعه وکړی چې د ټولو خواوو څخه د بشری حقونو د نړیوال قانون د درناوي غوښتنه کوي.

چې د هیواد څېړنې موثره وي ، څېړنې باید تر ممکنه حده چټکې ،جامع ، بی طرفه ، خپلواکی وي[۲۴۷] او د عامه پلټنې لپاره پرانیستې وي.[۲۴۸] د څېړنو په موخه د دولت صلاحیت د قانون د اجراء په ټولو زمینو کې د هغو زمینو په شمول چې د وسله والو شخړو پر مهال راولاړېږی ، د پلي کیدو وړ دي.[۲۴۹]

### (۳) د نړیوال جنایی قانون لاندې مسوولیتونه

افغانستان د خپل قلمرو په دننه کې د نړیوالو جرمونو لکه د جنګی جنایتونو ،د بشریت په وړاندې د جرمونه او عام وژنې د څېړلو او تعقیب په هکله ډېر دروند مسولیت لری. څنګه چې په ۲۰۰۳ کال کې افغانستان د نړیوالی جنایی محکمې د روم د موضوعه قانون غړیتوب تر لاسه کړ ، که چیری افغانستان نه شي کولای او یا نه غواړی خپل صلاحیت وکاروي ،نړیواله جنایی محمکه کولای شي پر افغانستان خپل صلاحیت وکاروي.

هغه هیوادونه چې پوځي ځواکونه یې د نړیوالو پوځي ځواکونو په ډله کې دی او په افغانستان کې د شخړې اړخ دی هم د ادعا شویو جرمونو د څېړنې او تعقیب مسوولیت لري او ښایی دا جرمونه په افغانستان کې د هغوي د اتباعو لخوا ترسره شوي وي.[۲۵۰]

هیوادونه همدارنګه د نړیوالې جنایی محکمې د موضوعه قانون د ۸ (۲)(e)(i) مادې د سرغړونو د څېړنو او تعقیب مسوولیت لری ، دا ماده د ملکي وګړو په وړاندې عمدي بریدونو تصریح کوي ، د بیلګې په توګه د هغو انفرادي ملکي کسانو په وړاندې چې په دښمنیو کې په مستقیم ډول برخه نه اخلی ،په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې جنګی جنایت تشکیلوي.

د دې سربیره ، د ملګرو ملتونو امنیت شورا په خپل ۱۳۲۵ شمیر پرېکړه لیک کې څرګنده کړې چې دا د ټولو هیوادونو لپاره ضروری ده تر څو د بشر پالنې او د بشری حقونو قوانینو اړوند نورمونه په بشپړه توګه په ښځو او نجونو پلي کړي او

---

[۲۴۶] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عای کمیشنری ، عمومی تبصره ۳۱(۲۰۰۴)،§ 15 ، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، عمومی تبصره ۶(۱۹۸۲)§ 4; ECtHR, McCann case, § 169;
ECtHR, Kaya case, § 86; ECtHR, Ergi v. Turkey, Application No. 23818/94, Judgment of 28 July 1998, §§ 82, 86; ECtHR, Isayeva v. Russia, Application No. 57950/00, Judgment of 24 February 2005, §§ 208-9, 224-5; IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 244; IACiHR, Alejandre case, § 47; ACiHPR, Civil Liberties case, § 22.

[۲۴۷] IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 412; ECtHR, Özkan case, § 184; ECtHR, Orhan v. Turkey, Application No. 25656/94, Judgment of 18 June 2002, § 335; ECtHR, Isayeva et al. case, § 210-11; ECtHR, McCann case.

[۲۴۸] ECtHR, Hugh Jordan v. the United Kingdom, Application No. 24746/94, Judgment of 4 May 2001, § 109; ECtHR, Özkan case, § 187; ECtHR, Isayeva et al. case § 213; ECtHR, Isayeva case, § 214.

[۲۴۹] سی دروګ ته مراجعه وکړی ،د دښمنیو د ترسره کولو څخه د قانون د انفاذ توپیر پی ۵۷-۶۳ د کارپوهانو غونډه ، د کیمیاوي اجنټانو بی واکه کول ، د قانون انفاذ ، بشری حقونه او د پالیسی لرلیدونه-Montreux, Switzerland 24-26 April 2012 at http://www.icrc.org/eng/assets/files/publications/icrc-002-4121.pdf; Nils Melzer,
د دښمنیو د ترسره کولو او د قانون د انفاذ تر منځ تداخل او مفکوره یې توپیر ، د پوځی عملیاتو د نړیوال قانون کتاب ګوتی(اکسفورډ: د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه ، ۲۰۱۰)، ), Nils Milzer.pp. 43-44, په جګړه کې د بی پیلوته روباټونو او ډرونوو د کارولو د بشری حقونو دلالت ، د اتحادیی د بهرنیو پالیسی ګانو لپاره عمومی رییس ، د پالیسی ریاست ، (۲۰۱۳)at http://www.europarl.europa.eu/delegations/en/studiesdownload.html?languageDocument=EN&file=92953.

[۲۵۰] پرته له دی چې هیوادونه د ای سی سی د موضوعه قانون غړیتوب ولری ، هغوي ټول د عنعنوي قانون لاندی مکلف دی تر څو د بشری حقونو او نړیوال بشر دوستانه قانون جدی سرغړونی کله چې دوي په افغانستان کې عملیات ترسره کوي ،وڅیړی.

د وسله والې شخړې پر مهال د جنډر پر بنسټ د خشونت څخه د ژغورلو په موخه د هغوي د ساتنې لپاره ځانګړې تدبیرونه ونیسي.[۲۵۱]

### (۴) د ملکي (ملکي کسانو) تعریف

د دښمنیو د اداره کولو په حواله ،یوناما بیا یادونه کوي چې ملکي(ملکي کسان) د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندی هغه افراد دي چې د نظامي /نیمه نظامي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب و نه لري ، تعریف شوي. کیدای شي ملکي کسان د بریدونو په وړاندې تر هغو چې په مستقیم ډول په دښمنیو کې ښکیل وي ، خپله ساتنه له لاسه ورکړي.
هغه جنګیالي چې(ټپی ، ناروغ او د سمندر څخه ژغورل شوي ، توقیف شوي او تسلیم شوي وي) او یا د پوځي ځواکونو روغتیایي او مذهبي کارکونکی وي باید د بریدونو په وړاندې خوندي وساتل شي.

نړیوال بشر دوستانه قانون د شخړې د ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کوي څو د پوځي عملیاتو د ترسره کولو پر مهال د ملکي کسانو او جنګیالیو او هغو کسانو چې په دښمنیو کې برخه اخلی هرو مرو توپیر وکړي.

هغه کسان چې نور نو په دښمنیو کې برخه نه اخلی باید وساتل شي او په وړاندې یې بریدونه ترسره نه شي.

همدی راپور د خلکو د هغو کتګوري ګانو په وړاندې د چا عادي فعالیتونه چې په دښمنیو کې د مستقیم ګډون سره اړخ نه لګوي ، د عامه کارکونکو او دولتي کارکونکو ، ښوونکو ،روغتیایي کلینیکونو کارکونکو او د عامه خدمتونو په رسولو کې د نورو ښکیلو کسانو ، سیاسی کسانو ، دفتری کسانو ، د نا دولتی کسانو ، او همدارنګه د ملکي پولیسو څوک چې په مستقیم ډول په دښمنیو کې ښکیل نه دی او څوک چې د یاغیانو په وړاندې د مبارزی په عملیاتو کې ښکیل نه دی ، بریدونه ثبت کړي.

یوناما یادونه کوي چې په افغانستان کې د شخړې نور فعالین او ښکیلې خواوې د دې اصطلاح په هکله خپل تعریفونه لري چې په دې راپور کې به وروسته تشریح شي.[۲۵۲]

---

[۲۵۱] (S/RES/1325 (2000); See also S/RES/1820. (2008), S/RES/1888 (2009), S/RES/1889 (2009), and S/RES/1960 (2010).

[۲۵۲] د ملکي کسانو تعریف ته چې په دی راپور کې وروسته د طالبانو لخوا کارول شوي مراجعه وکړی.

## ۶. اصطلاح ګانې

**هوايي برید یا هوايي ګوزار:** له الوتکې څخه ویشتونکي مهمات چې په هغو کې نږدې هوايي ملاتړ (د الوتکې له خوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکې په مرسته ترسره کیږي ، راځي. همدارنګه په هوايي بریدونو کې هغه هوايي بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکې یا ډرون یې تر سره کوي.

**ABP:** افغان سرحدي پولیس

**ALP:** افغان سیمه ایز پولیس

**ANA:** افغان ملي اردو

**ANP:** افغان ملي پولیس

**ANSF:** افغان ملي امنیتي ځواکونه ، یوه ټولیزه اصطلاح ده ، چې افغان سرحدي پولیس ، ملي اردو ، ملي پولیس او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.

**دولت ضد عناصر :** په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکیل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او هغه اشخاص او بیلا بیلې ډلې چې په جګړه کې فعاله برخه اخلي ، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه ، حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي حرکت ، د اسلامي جهاد اتحاد ، لشکر طیبه او جیش محمد او نورې ملیشې او وسله والې ډلې چې سیاسي ، ایدیالوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي یا نورې جرایم پیشه ډلې چې په جګړه کې د یوې ښکیلې خوا په استازیتوب ګډون کوي ، په دغو عناصرو کې راځي.
**وسله والې ډلې :** نا دولتي وسله والې ډلې چې په شخړو کې ښکیلې وي او په څرګند ډول د دولت څخه بیلې وي چې د جوړښت پر اساس د ملیشو څخه واخله تر یاغي جنایي مجرمو ډلو پورې رسیږي. نا دولتي وسله والي ډلې دا وړتیا لري چې د وسلې او ځواک په کارولو سره سیاسي ، ایډیالوژیکي یا اقتصادي اهداف تر لاسه کړي ؛ خو د دولت د رسمي نظامي چوکاټ ، دولتي ایتلاف یا د دولت د خپل منځیو ارګانونو برخه نه وي او د فعالیت سیمه یې د دولت د ولکې د باندې وي. وسله واله ډلې کیداي شي د دولت د رسمي ولکې او کنترول د سیمې نه د باندې وي خو کیداي شي چې د کوربه یا نورو هیوادونو مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ ولري. دغه تعریف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو یوازې تر دوي محدودې نه دي: مخالفې یاغي ډلې ، سیمه ییزې ملېشې (چې په کی توکمیزې ، قومي یا په بل اساس)، یاغیان ، ترهګر ، ګوریلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نیمه نظامي ډلې (چې په څرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي) [۲۵۳].

د یوناما په دې راپور کې بیان شوي د دولت ضد عناصر غېر دولتي وسله والې ډلې بولي خو د دولت سره د مخالفت په اساس یې توپیر کیږي.

**AXO: (Abandoned Explosive Ordnance)** پريښودل شوي چاودیدونکي توکي ، هغه چاودیدونکو توکو ته ویل کیږي چې د وسله والو جګړو په جریان کې کارول شوي نه وي او د یوې ښکیلې ډلې له خوا په ساحه کې پرېښودل

[۲۵۳] د وسله والو ډلو سره د ملکرو ملتونو د بشر پالنې خبرې اترې: د تمرین کونکو لپاره لاسی کتاب ،ګیراړډ مک هګ او مانویل بیسلر ، د بشر پالنې د چارو د همغږي لپاره د ملکرو ملتونو دفتر ، نیویارک ،۲۰۰۶ کال جنورې ، د وسله والو ډلو د خصوصیاتو په هکله ۲.۳ برخې ته مراجعه وکړئ.

شوي وي په داسې حال کې چې دغه توکي د دې ډلې له کنټرول څخه بهر وي. دغه پرېښودل شوي چاودیدونکي توکي کیدای شي فعال فیوز ولری او چاودلو لپاره اماده وي. (د مشخصو او متعارفو وسلو په اړه کنوانسیون ، ۵م پروتوکول).

**د ملکي خلکو تلفات/مرګ ژوبله:** وژل شوي اوټپي شوي ملکي خلک ، په لاندنیو دوو ډولو ویشل کیدای شي:

**مستقیم تلفات:** دا هغه تلفات دي چې په مستقیم ډول د وسله والې جګړې له امله را پیدا کیږي. د هغو تلفاتو په شمول چې د افغان او نړیواله پوځي ځواکونو د نظامي عملیاتو لکه هوایي بریدونو ، د افغان او نړیوالو ځواکونو د ځان ژغورنې په موخه ، د نیولو او تلاشۍ ، د یاغیانو یا ترهګرۍ پر ضد عملیاتو تر سره کېدو په ترڅ کې رامنځ ته کیږي ، په دې کې هغه تلفات هم شامليږي چې د نا دولتي وسله والو ډلو د فعالیتونو له امله لکه په هدفي وژنو ، تعبیه شویو چاودیدونکو توکو او یا له حکومت پلوه ځواکونو سره د مستقیمې ښکلتیا په پایله کې رامنځته کیږي.

**غیرمستقیم/ نور تلفات:** هغه تلفات چې په غیر مستقیم ډول له وسله والې جګړې څخه لکه د جنګي پاتې شویو چاودیدونکي توکو ، په محبسونو کې مړینه ، د کافي طبي شرایطو د نشتوالي له امله مړینې چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې پیښیږي او په داسې ځایونو کې چې طبي پاملرنې ته د لاس رسي مخنیوي شوي وي او یا موجود نه وي ، راپیدا کیږي. په دې تلفاتو کې هغه مړینه هم شامله ده چې د مرګانیو پیښو مسؤل لوری په کې په پوره اطمینان سره نه شي په ګوته کیداي لکه هغه مرګ ژوبله چې د ډزو د تبادلې په پایله کې رامنځ ته کیږي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم د داسې یوه شخص په حیث تعریف شوی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن ماشوم). د دې تر څنګ د روم د نړیوالې جزایي محکمې اساسنامي له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړې ، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکو کې او یا غیر دولتي ډلو کې شاملول او ګمارل ، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي (د ۸ مادې (۲) (ب)(xxvi) او ۸ (۲) (و) (vii) وګورئ.

**ملکیان:** د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي وګړي" هغه افراد دي چې د نظامي/نیمه نظامي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب و نه لري او هم (د یوه پراخ یاغیتوب) برخه و نه اوسی. ملکي وګړي په هغه صورت کې د بریدونو په وړاندې د خوندیتوب تضمین له لاسه ورکوي کله چې دوي په نښتو کې نیغ په نیغه برخه واخلي.

**دجګړې پریوتي یا محافظت شوی پرسونل :** هغه جنګیالي چې (ټپی ، ناروغ او د سمندر څخه ژغورل شوي ، توقیف شوي او تسلیم شوي وي) او یا د پوځي ځواکونو روغتیایي او مذهبي کارکونکي وي باید د بریدونو دوي هم د برید څخه د خوندیتوب حق لري.

**COMISAF کام ایساف:** افغانستان کې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو قوماندان.

**د EOF پیښې (د عکس العمل ښودلو پیښې):** چې "د ځواک د ساتنې پیښې" ورته هم وایي. په دې کې داسې حالات شامل دي چې کله ملکي وګړي نظامي قطارونو ته د نږدې کیدو یا له هغو څخه د مخکې کېدو په وخت کې د نظامي پرسونل اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي او یا د تلاشۍ په پوستو کې لارښوونو ته توجه و نه کړي او تر برید لاندې راشي.

ایساف یې بیا داسې تعریفوي: دا یو دفاعي حالت دی چې له وړاندې تهدید په ګوته کوي او تهدید سره سم دفاعي عکس العمل د ځواکونو د خوندی ساتنې لپاره اخیستل کیږي.[٢٥٤]

**ERW:** له جګړې څخه چاودیدونکي پاتې شوني چې ناچاودي توکي ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي هم یادېږی.

**چاودیدونکي وسلې:** چاودېدونکې وسلې د نړیوال قانون له مخې په و ضاحت سره نه دي تعریف شوي. چاودېدونکې وسلې په عمومي صورت د یو جعبې/ لولې څخه جوړ ي دي چې په کې د لوړې کچې د چاودېدونکو موادو څخه ډکه وي چې ویجاړونکي اغیزې یې په عمومي توګه د چاودنې د موج له لارې او هغو ټوټو څخه را ولاړېږي چې د انفجارولو وروسته تولیدیږي. هاوانونه ، د توپ ګولۍ ،د الوتکو بمونه ، راکټونه اود میزایلو جنګي سرګولولې ، او ډیرى ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي د دغې اصطلاح لاندې راځي. ځینې مشخصې چاودېدونکې وسلې کېدلای شي چې **د سپکو وسلو** په کټګورۍ کې ( د بیلګې په توګه ، د لاسي بمونو ګوزارونکي لانچرې چی د ټوپک د میل لاندی نصب کیږی او د اوږی د پاسه ګوزارونکی لانچری ، د ټانک ضد میزایلونو وارونکي لاسي لانچرې او د راکټونو سیستمونه ، د الوتکو ضد د میزایلو لاسي سیستمونه ؛ او د ۱۰۰ ملی مترو څخه کم لوله بیز هاوانونه) راځي. ډیری چاودېدونکې وسلې ، لکه د الوتکو بمونه ، د راکټونو سیستمونه ، د توپ ګولۍ او ستر هاوانونه **د درندو وسلو** په کټګوریو کې راځي.[٢٥٥]

**ځمکنۍ جګړې/نښتې:** په ځمکنیو جګړو کې دغې جګړې شاملې دي: د جګړې د ښکیلو خواوو تر منځ ځمکني متحرک عملیات ، دلېرې واټن څخه برید ، د ډزو تبادله او وسله والې نښتې. په ځمکنیو نښتو کې د بریدونو او عملیاتو په وخت کې د سپکو او درندو وسلو ، او یا د ساحوي وسلو سیستمونه لکه د هاوانونو راکټونو کارول هم شامل دي.

**درندې وسلې:** که څه هم د " درندو وسلو" اصطلاح په پراخه توګه کارول کیږي ، خو د دې لپاره په عمومي صورت موافقه شوی نړیوال تعریف نشته.[٢٥٦] د دې نمونه یې بیلګو کې اوږده هاوانونه ، د راکټونو سیستمونه او توپخانې شاملې دي.

**د لوړې کچې چاودېدونکو تمرین ځایونه:** یوه محوطه چې د اردو او یا هم نظامي ځواکونو له خوا د دې لپاره کارول کیږي چې هلته د هغو وسلو سیستمونه ځای پرځاي شي چې په کې چاودیدونکي مهمات د درندو وسلو په شمول کارول کیږي.

**IDP:** داخلي بې ځایه شوي وګړي

**IED (ځای پر** ځای **شوي چاودیدونکي توکي):** یو بم چې د دودیزې نظامي طریقې په خلاف په نورو طریقو جوړېږي او کارول کېږي. نوموړي چاودېدونکي توکي کیداي شي د ځانمرګي بم په شکل استعمال شي لکه په ځان پورې تړلي ځاي پر ځاي شوي چاویدونکي توکي (PB-IED) ، له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (RC-IEDs) ، په موټر کې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي (VB-IEDs) ، په موټر کې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي او انتحاري شخص (SV-IED)، د کنټرول شوي تار له لارې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي (CW-

[٢٥٤] د ایساف سره د یوناما مرکه ، د ایساف مرکزي دفتر ،۲۰۱۴ کال د جنوري ۳۱ ، کابل.
[٢٥٥] بوري ج او بریهم م " د خلکو د میشت په سیمو کې د چاودېدونکو وسلو د کارولو څخه د ملکیانو د ساتنې تقویه کول: د *نړیوال سره صلیب په بیا کتنه کې* د پالیسۍ او څیړنې د اجنډا جوړول ، ۹۳ جلد ، ۸۸۳ ګڼه "
[٢٥٦] درندې وسلې په بشري نړیوالو حقونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون په معیارونو کې نه دې یادې شوې . مویس ، ر ، بریهم ،م او ناش ، ت ؛ درندې وسلې اود ملکیانو ساتنه ، ۳۶(۲۰۱۲) ماده.

IEDs)، د قرباني د تماس سره فعالیدونکی ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي (VO-IEDs) او د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي (PP-IEDs).

*د قرباني د تماس سره فعالیدونکی ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي (VO-IEDs):* دغه چاودیدونکي توکي په هغه وخت کې فعاله کیږي چې کله یوه شخص او یا موټر د ده د پټاقۍ سویچ ته فشار ورکړي، دغه سویچ ممکن فشاري وي یا د فشار د خوشې کېدو سیستم وي او یا هم د کش کولو سیم یا د کوم بل سیستم په توګه وي چې په هر صورت کې د چاودنې سبب ګرځي.[۲۵۷]

*د دستور په ذریعه فعالیدنوکی ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (CO-IEDs):* هغه رادیویې یاد لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (ریموټ کنټرول بمونه) ((RC-IEDs دي چې د لېرې واټن څخه کار کوي چې استفاده کوونکی کولای شي د وړاندې څخه ځای پر ځای شوي دغه توکي ته په یوه مناسب وخت کې چاودنه ورکړي او یو متحرک هدف په نږدې کېدو سره تر برید لاندې راولي.[۲۵۸] په دغه ډله کې لاندیني چاودیدونکي توکي شامل دي: د استفاده کوونکي په ذریعه فعالیدونکي چاودیدونکي توکي، لکه د سړک د غاړې بمونه او پر اشیاو یا حیواناتو باندې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي لکه موټر، بایسکل، موټر سایکلونه او خره.

*مقناطیسی ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (M-*IEDs): د پورتنۍ ډلې (ریموټ کنټرول بمونو) یوه فرعي شاخه ده چې د مقناطیس سره نښول کیږي. په افغانستان کې د دغو توکو د عامې کارونې د څرنګوالی پر اساس، لکه تر هدف لاندې اشخاصو په موټر کې ځاي پرځاي کول، یوناما دغه توکي په جلا توګه ثبت کوي.

*نور چاودېدونکي توکي:* په دې کتګورۍ کې عام تاري بمونه او ساعتی بمونه (د ۲۰۰۹ څخه راهیسې، یوناما د دې چاودیدونکو توکو له امله ډیر کم شمیر پیښې ثبتې کړي دي)، او هغه چاودیدونکي توکي په کې شامل دي چې د پټاقۍ یا سویچ ډول یې نه مالومیږي.

*ځان مرګی ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي (ځان مرګي/انتحاری بریدونه):* د ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو په هکله د مالوماتو برسیره، یوناما د ځان مرګو او پیچلو عملیاتو له امله د ملکي خلکو د مرګ ژوبلی پیښې ثبتې کړي دي.د دغو پیښو په ارقامو کې د یو ځان مرګی برید کوونکي یا ډریور له خوا د چاودیدونکو توکو نه ډک موټر چاودل او یا د یوه انتحاري په واسطه د واسکټ یا کمر بند چاودل شامل دي.

***د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو استحصال:*** د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو استحصال د هغو مالوماتو او موادو د تشخیص، راټولولو، پروسس او مالوماتو خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شویو چاویدنکو توکو د پیښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو ضد پروسیجرونه او میتودونه غښتلي او د دې لپاره چې د یاغیانو منابع کمزوري کړای شي او د دوی د عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخیصونه، تخنیکي، عدلي طب او بایومتریک ازموینې او تحلیل راځي چې د با صلاحیته متخصصو تسهیلاتو او مرکزونو د لوري تر سره کېږي. د چاودیدونکو توکو استحصال چاودیدونکو توکو پر ضد د اغیزمنو او دوامداره اقداماتو یوه اساسي برخه ده.

---

[۲۵۷] همدا ماخذ.

[۲۵۸] د سپکو وسلو سروې، تعبیه شوي چاودیدونکي توکی، ۱۰څپر کی، مرګونی ماشینونه ،pp. 220-221 .

**پېښې:** هغه پېښې دي چې په وسله والو جګړو کې ملکي وګړو ته تلفات اړوي. د یوناما په راپورونو کې هغه تلفات نه دي شامل چې د جنايي پېښو په پایله کې پېښېږي.

**IHL:** د بشر پالنې نړیوال قانون

**نړیوال نظامي ځواکونه:** په " نړیوالو نظامي ځواکونو" کې ټول بهرني عسکر شاملیږي چې د ایساف او په افغانستان کې د امریکې د متحده ایالاتو د ځواکونو (د ازادۍ د پایښت د عملیاتو په شمول) یوه برخه وي او د ایساف د قوماندان COMISAF تر امر لاندې کار کوي. دغه اصطلاح همدا راز پر ځانګړو عملیاتي ځواکونو او نورو بهرنیو استخباراتي او امنیتي ځواکونو باندې هم د تطبیق وړ ده.

**ټپونه:** د جسماني سختو ژوبلو یا ټپي کېدنو مختلف ډولونه په کې شامليږي. د یوناما د بشری حقونو په ډیتابیس کې د جسماني ژوبلې درجه نه ده شامله. اروايي یا روحي صدمه یا دماغي جړک د پیښې په ژوبلو کې نه دي شاملې.

**ایساف:** په افغانستان کې مرستندویه امنیتي سوله ساتي ځواکونه. ایساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII فصل له مخې د سولې د پلي کولو ماموریت یا دنده لري. ایساف د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په امر او صلاحیت ځاي په ځاي کېږي. د ۲۰۰۳ کال په اګست کې د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو په غوښتنه د ناټو سازمان د ایساف مشرتابه په غاړه واخیست. د ایساف قواوې اوس مهال د ۱۵ جنورۍ ۲۰۱۴ پورې ۴۹۹۰۲ تنه سرتیري لري ، چې له ۴۹ هیوادونو څخه راغلي او د مرکزي دفتر کابل سربیره په شپږو سیمه ییزو برخو کې تنظیم شوي دي. د ۲۰۰۸ د نومبر څخه د ایساف قوماندان په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان هم دی ، که څه هم د مراتبو سلسله بېله پاتې شوې. د امنیت شورا ۲۱۲۰ (۲۰۱۳) شمیره پریکړه لیک د ایساف په اړه مخکیني پریکړه لیکونه تاییدوي او د ۲۰۱۴ د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې د نورو ۱۴ میاشتو لپاره د ایساف ماموریت غزوي.

**سپکې وسلې:** هغه وسلې دي چې د دوو او یا دریو کسانو چې په یوه عمله کې فعال وي لپاره ډیزاین شوي دي ، که څه هم ځینې یې کېدلای شي چې د یو تن له خوا ولیږدولې شي او په کار ولویږي. په هغو کې د *نورو په شمول* درندې ماشین ګنې ، لاسي ماشین دارې او د بمونو لانچرې ، سپکې لیږدېدونکې د الوتکو ضد ټوپکې ،سپکې د ټانک ضد ټوپکې ، بې پس لګده توپونه ، سپکې لېږدېدونکې د ټانک ضد میزایلونه او د راکټ سیستمونه ، د الوتکو ضد د میزایلونو سیستمونه ، او هغه هاوانونه چې د میلې قطر یې د ۱۰۰ ملي مترو څخه کم وي شاملې دي.[۲۵۹]

**MoI:** د کورنیو چارو وزارت

**ناټو (NATO):** د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان. د ناټو سازمان غړي هیوادونه د ایساف اساسي مرستندویه هیوادونه دي. ایساف وګورئ.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست یا د افغانستان دولتي استخباراتی اداره

**NGO:** نادولتي سازمان

[۲۵۹] *ناقانونه کوچنیو اوسپکو وسلو د تشخیص اوڅرک معلومولو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړیواله مقرره ، د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا تصویب شوې،* A/CONF, available at: http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international_instrument.pdf.

**دولت پلوه ځواکونه:** افغان دولتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلې دي چې په نظامي او نيمه نظامي عملياتو يا د بغاوت ضد عملياتو کې برخه اخلي او په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د افغانستان د دولت تر قوماندې او ادارې لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو ، افغان ملي پوليس ، افغان سرحدي پوليس ، د ملي امنيت په شمول نور سيمه ييز امنيتي ځواکونه هم شامل دي. دغه اصطلاح نړيوال نظامي ځواکونه او نور خارجي استخبارات او امنيتي ځواکونه هم رانغاړي.

افغان ملي امنيتي ځواکونه عبارت دي له : ملي اردو ، چې دفاع وزارت ته راپور ورکوي او په رسمي ډول د افغانستان په وسله والو ځواکونو کې شامل شوي دي ؛ افغان سيمه ييز پوليس د فعاليت له مخې په ريښتينې بڼه د وسله واله ځواکونو برخه تشکيلوي او په قانوني ډول د ملکي خلکو په څير خونديتوب نه لري ؛ او افغان ملي پوليس ، افغان يونيفورم لرونکي پوليس او افغان سرحدي پوليس د قانون پلي کونکي ادارې دي چې په رسمي ډول د وسله واله ځواکونو برخه نه دي او د کورنيو چارو وزارت ته مسوول دي.

د قانون پلي کونکو ادارو غړي هغه مهال خونديتوب د لاسه ورکوي چې د وسله واله ځواکونو دنده اجراء کړي او په جګړه کې نيغ په نيغه برخه واخلي. دوي د خپل ځان د دفاع پر وخت د ځواک کارولو له امله د ملکي په څير خونديتوب له لاسه نه ورکوي.

همدارنګه په دغه اصطلاح کې نړيوال ځواکونه او نور بهرني استخباراتي او امنيتي ځواکونه هم شامل دي.

**دپرېکنده ملاتړ ماموريت:** د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۱ نېټه د شمالي اتلانتيک تړون ( ناټو) په افغانستان کې د نړيوال سوله ساتي ځواک ( ايساف) د ماموريت څخه خپل غير جنګي د پرېکنده ملاتړ ماموريت ( روزنه ، ملاتړ ، او افغان ملي امنيتي ځواکونو ته مشوره) ته ليږد وکړ.

**کوچنی وسلې:** هغه وسلې دي چې د انفرادي کارونې لپاره ډيزاين شوي دي. په هغو کې څرخيدونکې تومانچې يا اوتومات تومانچې ، ټوپکې ،کاربينونه ، نيمه اوتومات ماشينګنې ، ګوزاريزې ټوپکې او سپکې ماشينګنې شاملې دي.[۲۶۰]

**SOPs:** معياري عملياتي کړنلارې

**په نښه شوي يا هدفي وژنې:** هغه وژنې دي چې په ارادي ، د مخه سنجول شوي او قصدي ډول د دولت او يا د دولت کارکونکو چې د قانون په چوکاټ کې دنده لري( او يا په وسله واله شخړه کې د منظمې وسله والې ډلې) له خوا د يو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکي ځواک وکاروي ، او هغه شخص د مرتکبينو د فزيکي ساتنې او نظارت لاندې نه وي.[۲۶۱]

**UNDSS:** د ملګرو ملتونو د مصوونيت او امنيت څانګه.

**UNAMA:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی.

**UNHCR:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري.

---

[۲۶۰] *ناقانونه کوچنيو اوسپکو وسلو د تشخيص اوڅرک معلومولو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړيواله مقرره* ، *د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا له خوا تصويب شوې*، A/CONF, available at: http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international_instrument.pdf.

[۲۶۱] که څه هم چې په زياترو حالتونو کې چې هدفي وژنې د ژوند د حق څخه سرغړونه کوي ،د وسله والې شخړې په استثنايی حالتونو کې ، کيدای شي حقوقي بڼه ولري خو په دې شرط چې د نړيوال بشر دوستانه قانون د اړوندو مقرراتو او بشری حقونو درناوي شوي وي. د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې ، د بشري حقونو د شورا ۱۴مه ناسته ، د اجنډاء دريېمه ماده ،د غير قانونی يا په خپل سر او نا قانونه اعدامونو په هکله د ځانګړي راپور ورکونکی راپور ته مراجعه وکړئ ، Philip Alston. Addendum, 'Study on Targeted Killings'. A/HRC/14/24/Add.6. 10 May 2010.

**USSOF:** د امریکې متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه.

**UXO:** نا چاودي توکي.

**جنګي جرایم:** جنګي جرمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون د میثاق او عرفي قانون څخه جدی سرغړونې دي . د جرمونو د نړیوالې محکمې د منشور ( یا د روم قانون) له مخې جنګي جرایمو[۲۶۲] په تعریف کې د نورو تر څنګ د ژنیو د کنوانسیونونو د درېیمې مشترکې مادې څخه سرغړونه شامله ده چې په هغه کې د شخص او د هغه پر ژوند تیری ، په تیره بیا هر ډول قتلونه ، د اندامونو پرې کول ، بې رحمه سلوک او شکنجه ؛ د شخص حرمت او وقار پایملول ، په تیره بیا سپکاوی او د بې عزتۍ چلند ، یرغمل کول ؛د قانوني محکمې د قضاوت او د عدلي تضميناتو د وړاندیزولو پرته چې هغه په عمومي صورت د اجراء کولو لپاره لازمي دي ترمخه دمجازاتو تصویب او د اعدامونو سرته رسول په دغو جرمونو کې راځي.

[۲۶۲] د جرمونو د نړیوالې محکمې منشور ، ۸ ماده ، نړیوال عرفي قانون چې په نړیواله او غیر نړیواله وسلواله شخړه کې د پلي کېدو وړ دی ، د هغه له مخې د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونې جنګي جرایم شمېرل کیږي. د هیوادونو اجرات د نړیوال عرفی قانون نورمونه تشکیلوي. ۱۵۶ مه قاعده د جنګي جرایمو تعریفي.سی ا ـ ر سی ، نړیوال عرفی بشر دوستانه قانون ، ۱جلد ، جین ماری هینکرتز او لویز دوزوالډ-بیک ، .{ICRC Study} (CU P/ICRC, Cambridge 2005) دغه مرجع وګورئ (2)Additional Protocol II, article 13 : ، دغه مرجع هم وګورئ: د نړیوالو جرمونو د محکمې د روم اساسنامه / منشور ، Article 8 (2) (c) (i) of the Elements of Crime, Rome Statute of the International Criminal Court. جنګي جرمونه عبارت دي له ؛ په غیرې نړیوالې وسله والې شخړې کې پلي کیدونکو جنګي قوانینو او د عرفونو څخه سرغړونې ته ویل کیږي چې لومړی مبنی یې د ژنیو د ۱۹۴۹ کال څلورو کنوانسیونونو درېیم عمومي بند ،او ورسره د ۱۹۷۷ ضم دوېیم پروتوکول ، د ۱۹۹۹ الحاقي پروتوکول ، د ۱۹۵۴ هاګ کنوانسون چې په وسله واله جګړه کې د کلتوري میراث د خوندي ساتنې په اړه دی ، د ۱۹۸۹ د ماشوم د حقونو کنوانسیون ، د ۱۹۹۴ د ملګرو ملتونو او نښلول شوی پرسونل د مصؤنیت کنوانسیون ، د نړیوالې محکمې د روانډا او پخوانۍ یوګوسلاویا لپاره منشور ، او د سریلیون لپاره د ځانګړې محکمې منشور ). د جرمونو د نړیوالې محکمې د روم منشور / اساسنامې لاندې جنګي جرائم وګورئ ، او د هغې منابع د بشر پالنې د نړیوال قانون موازنه ، ای سی ار سی د نړیوال بشر دوستانه قانون لپاره مشاورتی خدمتونه.

**لومړی ضمیمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بریدونه: د هدف د نمونې پر اساس تجزیه**

| **هغه بریدونه چې د افغان امنیتي ځواکونه ،نړیوالو نظامي ځواکونه او دولت پلوه ډلې په کې هدف ګرځیدلي** | |
|---|---|
| افغان ملي پولیس | ۱۲۳ |
| افغان سیمه ییز پولیس | ۲۹ |
| افغان ملي امنیتي ځواکونه | ۲۵ |
| د ملي امنیت ریاست | ۱۸ |
| افغان ملي اردو | ۱۵ |
| نړیوال پوځي ځواکونه | ۱۰ |
| افغان سرحدي پولیس | ۹ |
| اربکي/دولت پلوه وسله والې ډلې | ۷ |
| **د پوځ په وړاندې ټولټال بریدونه د کومو په پایله کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوي او په ویب پانه او تویټر ټولنیزه شبکه باندې د طالبانو ادعاوې** | **۲۳۶** |

| **د ملکي کسانو او ملکي هدفونو په وړاندې هدایت شوي بریدونه** | |
|---|---|
| نورې ملکي موخې | ۳۵ |
| په ټولټاکنو پورې اړوند | ۳۰ |
| ملکي حکومتي اداره | ۲۵ |
| قاضیان ،څارنوالان او قضایی کارکونکي | ۱۶ |
| قراردادیان/کارګران | ۱۲ |
| قومي مشران | ۹ |
| مرستندویه/نا دولتي سازمان | ۳ |
| عبادت ځایونه او عبادت کونکي | ۳ |
| روغتیایی پاملرنه | ۲ |
| بشر پالونکي ماین پاکان | ۲ |
| ټرافیک پولیس | ۲ |
| APRP د افغانستان د سولې او بیا یوځاي کېدنې پروګرام | ۱ |
| معارف | ۲ |

ملکري ملتونه ۱

د طالبانو له خوا ادعاء شوي ټولټال بریدونه چې هدف یې ملکي کسان یا ملکي ځایونه و کوم چې د
ملکي کسانو د تلفاتو لامل شوي. ۱۴۳

د طالبانو له خوا ادعاء شوي بریدونه چېرې چې د هدف نمونه معلومه نه ده ۳

د طالبانو له خوا ټولټال ادعاء شوي بریدونه په کومو کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوي ۳۸۲

**دوهمه ضمیمه: د طالبانو له خوا د "جنګي جرمونو" د ادعاوو فهرست**

| تولټال | د یوناما مستند کول | پایلې | منسوبونه |
|---|---|---|---|
| ۲۹۲ ادعاګانې | د طالبانو د بیانونو د نشر کېدو څخه وړاندې د یوناما له خوا ۱۲۱ قضیې مستندې شوې. | په ۴۰ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې<br>د وژل شوي او ټپي شویو کسانو تر منځ د مختلف نسبت په درلودلو سره، په ۸ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې. | ۳۸ دولت پلوه ځواکونه<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۴<br>دولت ضد عناصرو ته ۶ |
| | | په ۳۰ قضیو کې د ملکي تلفاتو ټیټې شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۱۷<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۹<br>دولت ضد عناصرو ته ۴ |
| | | په ۲۵ قضیو کې د ملکي تلفاتو لوړې شمیرې موجودې وې. | ۱۴دولت پلوه ځواکونو ته<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۵<br>دولت ضد عناصرو ته ۵<br>د یوې (۱) پیښې جهت معلوم کېدای نشي |
| | | ۷ قضیو د شخړې سره تړاو نه درلود | |
| | | یوناما و نه شوای کولای چې دوه قضیې مشخص کړي چې ایا دا په شخړه پورې تړاو لري او که نه | |
| | | د ۹ پیښو تلفات ملکیان نه و او یا یې هیڅ تلفات نه درلودل. | |
| | د طالبانو د بیانونو د نشر کېدو څخه وروسته د یوناما له خوا ۷۷ قضیې مستندې شوې. | په ۳۸ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې.<br>د وژل شویو او ټپي شویو کسانو تر منځ د مختلف نسبت په درلودلو سره، په ۳ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې. | ۳۱ دولت پلوه ځواکونه<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۶<br>دولت ضد عناصرو ته ۲<br>نامعلوم لوري ته ۲ |
| | | په ۷ قضیو کې د ملکي تلفاتو کمې شمیرې موجودې وې. | ۵ دولت پلوه ځواکونه<br>۱ د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | ډزو په تبادله کې<br>۱ نامعلوم لوري ته |
| | | په ۳ قضیو کې د ملکي تلفاتو لوري شمیرې موجودې وې. | ۳ دولت پلوه ځواکونه |
| | | ۳ قضیو د شخړې سره تړاو نه درلود. | |
| | | یوناما و نه شوای کولای چې معلوم کړی ایا دوه قضیې په شخړه پورې تړاو لري او که نه | |
| | | د ۲۱ پېښو تلفات ملکیان نه وو او یا یې هیڅ تلفات نه درلودل. | |
| | یوناما ونه توانیده چې د ۹۴ قضیو تصدیق ِکړ ای شي | | |